ماته شپیلۍ

محمد صدیق پسرلی

ماته شپیلۍ

محمد صدیق پسرلی

Download from: aghalibrary.com

د کتاب نوم : ماته شپیلۍ

شاعر : محمد صدیق پسرلی

د چاپ نیټه: ۱۹۹٤ - اپریل

تیراژ : ۱۰۰۰ ټوکه

بیه : ۲۵ روپۍ

چاپ : د ناهید کتاب خپرولو موسسه

Download from: aghalibrary.com

ترون

د پښتو د معاصر غزل کاروان سالار خدای بخښلی

امیر حمزه خان شینواري په نوم

Download from: aghalibrary.com



له ښئ خوا همېش خليل، محمّد صديق پسرلی، حمزه بابا او غلام فاروق چشتي
دا تصوير د ۱۹۸۸ کال د مارچ په اومه نېټه اخيستل شوی،

Download from: aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د سریزی په ځای

کله چې ما ددې « ماتې شپېلۍ » زړه، ته د ورپوکلو هڅه وکړه نو عالم عالم نواوي يې په پردو کې پرتې وې ، زما زړه، غوښتل چې هره پرده وغزوم او هره نغمه د غزل په جامه کې سینګار شوې وګورم ، خو د بابا شوي «پسرلي» د طبعې سخاوت د مهاجرت په کچکول کې نه ځائیده، ، بناء له باغه مې غنچه او له غنچې مې څو ګلونه د ذوق څاوندانو ته را ټول کړل ، چې هیله ده ادبي تنده به يې پرې ماته شي .

په دې ټولګه کې د شاعر ۲۵۰ غزلې چې ډېره برخه يې د شپیتمو کلونو دي ما په خپله خوښه غوره کړي ، چون په دې کلونو کې زموږ هیواد او ولس د خپل تاریخ له یوې ډېرې بدې او غموونکی تراژیدي

سره مخ دی نو ماته شپیلۍ هم بوازې دا ترانه غروي او د مولانا په قول :

از نیستان تامرا ببریده اند

از نفیرم مرد وزن نالیده اند

مهاجرت ، پردیسي ، بیوسي ، اشتیاق ، حسرت ، حماسه او د ټولو په سر کې مینه له نورو ډیرو سوداوو او پریشانیو سره د کتاب په متن کې وپلټئ او که څه لیکل پرې غواړئ نو د همدې پاڼې پاته برخه ستاسو په خدمت کې ده .

په مینه

امان الله ساهو

پیښور - ۱۹۹٤ ـ ٤ ـ ۱٤

Download from: aghalibrary.com

۷۱ - ۷ - ۱۰

التجاء

خدایه زړه مې کړې د حسن د باغ زړی
چې هر ځای یې زدم او مینه ترې ټوکیږي
ربه روح مې د ښکلا د دند پری کړی
چې د حسن په جلوو کې دې پټیږی

هر نفس ته مې د نور وزری غواړم
چې دروړي مې ستا د یادو تر دُرشله
هر نظر مې د لمر سپینه پلوشه کړې
چې جاریږي دې د حُسن له بُرجله

۲

هر ارمان چې مې د زړهٔ په کورکې زېږي
د ښایست په مخ یې سپکې سترګې وا کړه
هر هوس چې مې په ذهن مسخولیږي
لـه ښیګنې سره مینه ور پیدا کړه

تصور مې کړه د لمر تر تندي هم ورین
اندیښنه د فرشتو غوندې معصومه
رنګین خیال را د شفق تر تابلو ګانو
نوا راکړه د مظلوم تر زړهٔ مظلومه

په غزلو کې مې پو کړه د هنر ساه
ترانو کې مې جاري کړه د ژوند وینې
خلوریځې مې د حسن شګوفې کړه
او نظمونه مې وړ وړ میوې د مینې

د یوهٔ ښه آغاز سریځه یې کړې ربـه
چې له ژوند سره وروستي سندره وایم
که قمري شم د طوبی هم ، همه حسنه
« تا به غواړم ، تا به بولم ، تا به ستایم » *

---

* - قادرخان خټك

٦٧ - میزان

که دی د نازجلوه د لمر غوندی سینا ونیسي
« د طور ډیوې ته به موسي ید بیضا ونیسی » *
یو ځل دې بیا ویده بلال ته د آذان ووایه
چې منکران دې هم لمن د الا لله ونیسی
د رحیل اذن غواړي بیا کاروان سالاره د عشق
چې د یثرب مومنان لاره د بطحا ونیسی
مین قمري دې د طوبی په څانګو ځاله نه ږدي
که په جنت کې هم پلو ورته طوبا ونیسي
د عشق رهرو ته دې مزل د ژوندون سیکه بخسي
د بربوکۍ غوندې چې لاره د صحرا ونیسي
مسلمانانو ته تلقین کړه بیا هغه خبري
چې د ایمان په نور د لمر غوندی دنیا ونیسي
په دې مادي عالم کې مومي تقدس د کتاب
چې لکه توری د زړه غېږه کې معنا ونیسي
په دې تور تم کې سخ د هغو مومنانو په حال
چې لکه شمه په سر چتر د رڼا ونیسي
خدایه « پسرلي » ته هغه عشق ، هغه جذبه وبخښه
چې مسلمان غوندی لمن د مصطفا ونیسي

---

* - د صائي اصفهانی د یوی مصراع ژباړه ده هغه وایی :
«کلیم دست به رخسار شمع طور گرفت »

پېښور جوزا ۱۳٦٥

څه شندې رنګونه د هولۍ په مخ
ما د مینې داغ کړی د نړۍ په مخ
تېښ او پاس ته ګوری نه جوهر ته څوك
وریځ هم توکی لاړې د سیپۍ په مخ
داسې چې تر ستورو هم پۍ مخې شوې
مور دې با وهلی دایم پۍ په مخ
را شه ای دحسن سبا ماته کړه
مړه خوله د شرم د غوټۍ په مخ
ستا پلو به بیرته درته ونیسم
نه ګورې چې ماته د خولۍ په مخ
هغسې مې خولهٔ وریاندې ایښې وای
څنګه چې یې اور ږدي د ستۍ په مخ
کاشکې یې پر مخ شوای د حیا خوله
خال ، زخه که نه شوم د تجلۍ په مخ
تورې ترهیدلې سترګې ستا مګر
ښکلې ! غمیدلې د هوسۍ په مخ
څه چې یوه کیږدۍ جلا له خلکو نه
ولټوو پورته د سپوږمۍ په مخ

جوزا - ۱۳٦٥

ځو زما په نظر راشی بیرته درومی
لکه سوی شرر راشی بیرته درومی
ما هم څه څه سر فلمي د ژوند لیدلې
نا مفهومی ژر ژر راشی بیرته درومی
د خوښی ورځې هم لیږی وی هم سپکې
چې له کاله اختر راشی بیرته درومی
ناکرار فطرت څپه د سمندر کړه
د ساحل تر بستر راشی بیرته درومی
ځو چې زړهٔ یې هرکلی ته جوړوم خولهٔ
سوي زړهٔ ته خبر راشی ، بیرته درومی
کری شپه مې لکه شپه په زړهٔ تیاره وي
ځو سبا لکه لمر راشی بیرته درومی
رعب د حسن یې په وصل چاره کیږدي
تر بڼو مې نظر راشی بیرته درومی
زړهٔ مې ګوره ستا د ناز قدم بوسي ته
لکه موج په سر راشی بیرته درومی
ښاپیری مې د زیړي لمر په وړانګو کې
مازدیګر مازدیګر راشی بیرته درومی

جوزا - ۱۳٦٥

لکه سر چې د اُفق په بالین لمر زدي
تش ګړی په هومره حسن په ګودر زدی
کاشکی لز خو یې د حسن پیځی بښکل کړای
ستړی خیال مې ورته څومره غر په غر زدي
هر دیدن تر بل دیدن یم ورته تږی
لکه خوب کې تږی شونډې په ساغر زدی
حسرتونو مې په زړهٔ ایښی داغونه
لکه شمې چې په قبر مینجور زدی
که خلقت نه وي د حسن په خدمت کې
د سیپۍ په زړه کې څوك چا ته ګوهر زدی؟
خپل تیری نه وینی هیڅوك ، سمندر هم
تل د امن د ساحل په پښو کې سر زدي
پاته مړو پرې ځانونه وي سپین کړي
په قبرونو چې اکثر ګورو مر مر زدي
د مینو خلکو بیل شام وسحر وي
څوکیدار له مجبوریته سر سحر زدي
د «پسرلی» په زړهٔ یو نوی پسرلی خور کړي
چی هر پل د ناز له لطفه پرې دلبر زدي

جوزا - ۱۳٦٥

چې په زړه وي لکه شمه ، په مخ ګل څوک
بې له تا به هسې ښکلی وي لا بل څوک
د ویشتلي زړهٔ فریاد مې تا ته دروور
نور مې څوک وو، ما به نور لا را بلل څوک
لږ خو پرانیزه د تورو زلفو ولونه
مګر ږدی هسې دامونه ول په ول څوک
ناز د حسن پیداوار وي نه د زده کړې
کنه جوړ دی بې مچیو کړي عسل څوک
د دلبرو ناز او حسن غریزي وي
دا نکریزی ږدی د زرکو په منګول څــوک
تسلي یې هم په نوی پرهر کیــــــــږي
چې وي مړو کتو ویشتلی په کوګل څــــوک
بینایان به یې په کندو کې پسې غـواړي
چې د تیغ په رڼا نه وهي مزل څــــــوک

جوزا - ۱۳٦٥

تا چې لاس تر غاړه کړه حیا د ناز
کوم نظر لوګی کړمه اوس ستا د ناز
یو ه نګاه دې څومره اثربخشه وه؟
واړه شپه دې زه وم او سودا د ناز
زما دې تودو اوښکو ته به څه ګوری
نه یې شته په ستورو هم پروا د ناز
خپلې دوه عشوی یې چې یو شان نه دي
بل به یې لا چیرته وی همتا د ناز؟
څومره په مغرور حسن مغروره وه؟
ناڅی یې په سترګو کې موسکا د ناز
دوه جهانه څنګه ورنه جار نه کړم؟
هره نګاه ځانته ده دنیا د ناز
مست یې کړم خوتنده مې لا زیاته شوه
څه غوره باده لري مینا د ناز
راشي هر څه یوسی بیرته وګرځي
پیایي د نګاه څپې دریا دناز
راز مې د نازکو زړونو غواړي زړه
څه به وي « پسرلیه » تقاضا د ناز

جوزا - ۱۳٦۵

وامې ړوه عمره ، په تادي ورځې
ګوندی راشي بیا د ابادي ورځې
ستړي شوو زشتي مو ډیرې وليدې
ګړی کړه د حسن په وادي ورځې
شل پیړی ، لا ډیرې د وراني وشوې
څوبه وي ، لا څو د بربادي ورځې ؟
موږ که له دې شپو ورځو تر پوزی وو
شوې زموږ له چیغو فریادي ورځې
خاورې د غمونو په سر اړوم
ګوندی را ستنې شي د ښادي ورځې
سر چې د غلیم مو په تهداب کې ږدو
ها ورځې به بولو بنیادي ورځې
یوه شپه لکه شمه هسکه غاړه ژوند
ارزي خدایږو سل کاله عادي ور ځې
خدایه که مې یوه دُعا قبلیږي نن
غواړم د افغان د ازادي ورځې

۱۳/۲/٦٥ ـ پېښور

رامې شي خاطر ته ، خو چې څنګه ، چا ته ورته وي؟
بر په تورو ورو کې ګرنديءِ بريښنا ته ورته وي
مست مې تصور کړي خو په سترګو يې ليدای نه شم
پټه په پياله کښې د نشې نڅا ته ورته وي
څه نيسې د شمې غوندې مخته د پانوس پلو ؟
ښکلې په مينا کښې ليونۍ صهبا ته ورته وي
نپوهيږم دا وي چې را درومې که خيال ددې؟
راشي خو له لطفه د ځوانۍ رويا ته ورته وي
حسن به دې لمر او سپوږمۍ وبولم خو څه به وي
هغه څه چې لږ څه دي خوږې ادا ته ورته وي
پټه چې په زړونو پسې ګورې تر پلو لاندې
ښکارې پخه مينه هم تنکۍ ښکلا ته ورته وي
جار د سوې مينې ، زړهٔ په بڼ د ښاپيرو کړي ګډ
شور د تاندو هيلو يې د ښکلو ورا ته ورته وي
ګوره قفسونو ته دې ، څانګې پسې څه غواړې ؟
زخم د ويشتلي زړهٔ د ګل موسکا ته ورته وي

جوزا ـ۱۳٦٥ ـ پېښور

ځئ چې د ژوند لارې لکه سين په غوغا لنډې کړو
لوېې فاصلې لکه څپې په نڅا لنډې کړو
تورې اوږدې شپې کړی مزاحم فکرونه لا اوږدې
دا اوږدې لمحې مګر په جام ، په مينا لنډې کړو
نه به تريخوو په ځان د نورو له خبرو ژوند
موږ به اولتر په څه شي ژبې د چا لنډې کړو؟ ·
ډېر يو لری کړي بدو پيښو له ښادی ځنې
ځانته به په مينه د خوښې ورځی را لنډې کړو
يو ځل که را اوږد کړې د نظر لاس له اوږدو بڼو
زهٔ او زړهٔ به هم ګيلې ماښې په وفا لنډې کړو
لاړې د ښادي لحظې په منډه منډه تيرې شوې
غم که مو تر پښو لاندی کړ، وختې به بيا لنډې کړو
څه ګورئ چې څه وو؟ څه شوو؟ دوك د لارې خنډ وينم
ګوندی مرحلې د زړهٔ غوښتونکی سبا لنډې کړو

چې تا به پرېښودم زهٔ ، انتظار داسې نه وو
د ناز په ژبه پوه ښايي روبار داسې نه وو
په ځان او په ايمان چې دې لا بولمه ارزانه
په مصر کې د حسن خريدار داسې نه وو
هوښياری مرغی هم ايله په دوو لومو وي نيښتې
بل زړهٔ په سلو لومو گرفتار داسې نه وو
د مستې مستوونکی ګټک ، له زرکو غواړئ څه؟
د غرونو د رودونو هم رفتار داسې نه وو
د مينی کمزورئ چې به وي چا ورته ښوولې
پخوا خو يې د نرم زړهٔ گفتار داسې نه وو
هر تور ، تومت چې غواړی په کمزور ورتپل کيږي
په ماته خوله به چاته وايو يار ؟! داسې نه وو
درست عمر که يې ځاله په ازغو کې جوړوله
مات کړی مې په زړهٔ کې مينی خار داسې نه وو
پخوا هم دل آزار ې وې د حسن کرشمې
چې زهٔ په زړهٔ نازك يم که آزار داسې نه وو
خاطر مې گل زمين کړ تا ته څنگه ښکلې طبعې
په مستو ايلاغونو کې بهار داسې نه وو

راغی ، چې ته راغلې ستا په پلهٔ بهار
ګوره څنګه کیښوده پرې خولهٔ بهار
ما وې چې ښکار کړی به دي يو زه یم
بند دی و د زلفو په هر ولهٔ بهار
هر ګل به یوه بله سره سکروټه وی
څه کړم که را پریږدی اوس په تلهٔ بهار
روغ جهان يې ونیو په شډل حسن
وای که دی نازونه هم کړی ملهٔ بهار
خدای يې په بلبلو پوری ښه لره
څه به کړي د ناز د دیدن غلهٔ بهار

پیښور سرطان ۱۳٦٥

ای د حسن خدایه حسن بیا چمن ته را وله
تللي بهارونه د پسرلي وطن ته راوله
لیږ څه خو په نغښتې موسکا یا په یوې گویا نگاه
روح می د زلما د ژوندون مړه بدن ته راوله
نه ورځی گلونو ته خندا د هوس نه ورځی
کړی بیا د شوخو ښاپیرو لمن ته راوله
نبض د صحرا درپسې غورځي قیسه چیرته یې ؟!
ښکلې غرځنۍ درسره بیا دمن ته راوله
بیا مې په ویشتلي زړهٔ د زانو قافلې گرځي
راشه یو کاروان مستي خو رنگ مدفن ته راوله

پېښور سرطان ١٣٦٥

چا درته ویلي دي چې ګل په ګل کې وتومبه؟
دا له مینی ډک زړهٔ دي د ناز وربل کې وتومبه
راشه د ښکلا بهاره! نور څه درنه نه غواړم
یو د التفات ګل مې زخمي کوګل کې وتومبه
نور به مې تر دې ښه لا ای مینی په زړهٔ څهٔ وکړې
دا د عقیدت نشان په لور دُرشل کې وتومبه
خیر دی که د زړهٔ ګل مې بیا پاڼې پاڼې یوسي باد
دا د مینی نخښه دې د زلفو ول کې وتومبه
ورمې وړه تابوت چې یې بلا اخلم په مړینه هم
دغه تش ګوجی په ښایسته کابل کې وتومبه
چیرته دی ملالې ! د نصرت په تکري پټ کړ مخ؟
یوه پیڅه یې بیا په کوم تاودهٔ مورچل کې وتومبه
تاج د افتخار د هندوکش له سره کوز مه شه
درست غشی زما په زړګي یو په بل کې وتومبه

۱۳٦٥ سرطان ـ پيښور

بې نيازو څهٔ زدئ د عشاقو په مدفن ګلونه؟
پسرلی هر کال ورته راوړي لمن لمن ګلونه
په ژوند خو هيڅکله بهار راته زړهٔ نه کړ نژدې
کاشکې مې راوړي لکه شمه ځنګدن ګلونه
چې ستا پلو ورباندی نه و لګولی نسيم
زښته بې روحه غوندی خاندی د ګلشن ګلونه
د زړهٔ زخمونه مې بيواکه سترګې وغړوي
چې مې په ذهن وغورېږي د وطن ګلونه
چې تصور دې راشي نوری خاطرې وځبی
مستی هوسی کړی تر پښو لاندی د ختن ګلونه
په دې تور تم کې دی د حسن تصوره ګرځم
چې لکه ستو ری راوړی زړهٔ ته ماسخوتن ګلونه
اوښکو مې دومره ډيری وينی ابته کړې د زړهٔ
چې رنګولای شي «پسرلی »پرې يو چمن ګلونه

اسد - ۱۳٦٥

ما٠هره ساه نغمه ، نغمه کړه چې اشنا يې واوری
آبشار له غرونو وهي سر خو که دريا يې واوري
بيګا محفل کې لکه شمه سوځيدم ويليدم
په پټه خوله ورته ګويا وم چې تش دا يې واوري
نازك دماغ به يې په څه توګه راغب شي ورته
زهٔ لا په سر کې د کيسې يم ، انتها يې واوري
مجنون د مينی د کاروان جرس له ځانه کړ جوړ
پريږدئ چې ويې چوي زړهٔ خو که ليلا يې واوري
چې بوی د ګلو له رنګونو لمن ونغښتله
بلبله شور دې ليونی کړه چې صحرا يې واوري
د غوټۍ بزه ګريوان ته نه ګوری بيدرده بورا
په سترګو ړوند ورته غوږ ايښی چې خندا يې واوري
په ماشيني عالم کې تت دی د بمونو ږغ هم
د زنځير شور می څهٔ وچت کرم چی دنيا يې واوري
بيرته ماشوم کړم « پسرليه » تقاضو د مينی
چې د زړهٔ حال ورته بيا بيا ووايم بيا يې واوری

۱۳٦٥ اسد ـ پېښور

په دومره ژبو کې دی کومه يوه وه خپله ژبه؟
چې هر ساعت مې لکه اور سوځی په بله ژبه
په سلو ژبو چې سوسن په بڼ کې پټه خولهٔ و
پوه شوم نشه د خپل ښايست اخلي له ګله ژبه
دومره چې ژر ژر په هردم په بله بله اوړي
ته وا زده کړي يې له خپل خواره اوربله ژبه
د زړګی غوټه فريادونه مې ترې غوټه راوړل
پټه مې شرم د حضور ورته چيچله ژبه
له زړهٔ تر ژبې پورې ځي راځي تا نه واوريدې
نازکې هيلې به څه وړاندی کړي شډله ژبه
که پوهيدلې وای چې دا مې په وينا خفه شوه
ما به په خپله لکه شمه سوځوله ژبه
هنر يې نه و که ګلونه ورته وخنديدل
بلبل د مينې نوی نوی زده کوله ژبه
که روڼې اوښکې دی « پسرليه » ترجمانی نه شی
پټو دردونو ته لفظونه لري کله ژبه

پیښور - اسد ۱۳۶۵

سلام چې په دوه لاسه در لیږم له لرې لرې
په دې توګه هم زړهٔ تکوروم له لرې لرې
د ناز او د نیازلرې واټن ته لره پام
پوښتنه چې کوې ګوره درځم له لرې لرې
نسیم ته چې د مینې غیږ پرانیستې وې ګلونو
ستا پټ لطف به څنګه نه منم له لرې لرې
په هر ساده نظر کې بې وې سل توفانه نغښتې
د حسن آینه ښکاریږي یم له لرې لرې
تر هرې میوې خوږ دی ، خو خوړل یې غواړي زړهٔ
څه ښه ننداره نه وې پردې غم له لرې لرې
دا ښویه سپوږمۍ هم کوږې ناوارې ده که ورشې
ښکاریږې دیر کاږه سړي ته سم له لرې لرې
د ستورو ملغلرې چې د هسك په کټ ښندلې
د خیال په نرې تار درته پیم له لرې لرې
له ژوندسره حاصله آشنایې کړه بشر دومره
له ځان سره غزیږو هغه هم له لرې لرې
د زور ړانده کاڼه به څه خبر وې له ویشتلو
غوږونه کڼوي هسې هم بم له لرې لرې
وطنه چې وختونو دې له غیږې نه جدا کړم
سیلۍ شوم په سر خاورې بادوم له لرې لرې

پیښور - اسد ۱۳٦۵

د حسن ناز به وړم ، که ناز دهیلو
په ناز بدل شو را ته نیاز د هیلو
تورو لیمو یې وو رانجه ورکړی
چې ورته تت مې شوآواز د هیلو
لیونی زړهٔ مې شو «حافظ » د حسن
چې مینی ګډ کړم په «شیراز» دهیلو
نازك رازونه یې د حسن څیري
هیڅ نپوهیږمه په راز د هیلو
له توفانونو در تیر شوی ونښت
د ساحل شګوکې جهاز د هیلو
دا چې د حسن په نغمو ستړې ده
ځنګه شروع کړم ورته ساز د هیلو؟
له ویلی تیږو که شیشې جوړیږی
نازك شعرونه شی ګداز دهیلو
« پسرلیه » کله به انجام ته رسی
دوه ورځې ژوند خو دی آغاز د هیلو

۱۳٦٥ اسد ـ پېښور

درد مې سوي زړهٔ ته په بانه راځي
داسې مصيبت دې په چا نه راځي
داغ د شمې ښه دی د فراق تر اور
څه ته وزر سوې پروانه راځي؟
یو نظر مې مستې سترګې ولیدې
ماوې چې سیاره میخانه راځي
ګوره د مین په لندو سترګو کې
سطحې ته په خپله دُردانه راځي
دښت له مجنونانو خالي کیږي نه
تل په زمانې پسې زمانه راځي
مستو ته تر پښو لاندې مړه ښکارې مست
موج چې ساحل ته مستانه راځي
پیښو بیا په سپینه ږیره طفل کړم
خوب په دردونکې افسانه راځي
اوس چې د دښمن خبره هم کوم
خولې ته مې د مینې ترانه راځي
نور به توکل په یګانه لرم
کورته چې لښکر د بیګانه راځي

۱۳٦٥ اسد ـ پېښور

راغلم او زاړه ، نوي زخمونه مې راوړي دي
څه مې ګوري پنډه ؟ تش غمونه مې را وړي دي
زړهٔ مې د غوټۍ تصوير و ، يو بهار هم ګل نه کړ
ډېر نه غوړېدونکي ارمانونه مې را وړي دي
مينه مې هر څاڅکي وينه غوټه کړې د تا په شوق
واړه تن مې زړهٔ شو درته ، زړونه مې را وړي دي
دومره غوږ‌خو ونيسه چې غوټۍ درته وسپړم
ميني سپيلنۍ کړم فريادونه مې را وړي دي
دومره خالي لاس هم د نړۍ له ښاره نه راځم
ډېر د ژوند خوازه ، ترخه يادونه مې را وړي دي
نورو څولۍ ډکې کړې له خونده ، خو زما په وار
چارې د احساس وې ، حسرتونه مې را وړي دي
مينه مې څه پوښتې ؟ په زړهٔ ستړې اباسين يې کړم
بحره ! ډېر شوررونه - توفانونه مې را وړي دي
زړهٔ کې که مې ستا په مينه ډېر ازغي مات شوي وي
خير دی چې د خيال ښکلي ګلونه مې راوړي دي

۱/٦/۱۳٦٥ - پیښور

یواځې نه دی د ښایست په جلوو ښکلی شمی
د زړهٔ له داغه په محفل کې ځلیدلی شمی
که پتنګ وسو ، پاس د حسن شمی هم اوبه کړی
ښایست او مینی وی په زړهٔ باندی داغلی شمی
چې نه سوځیږی ، نه محفل باندی رڼیږی د چا
د تصویر شمی هم لا کله چا بللی شمی
د پتنګانو زیارت ګاه دئ په ژوند ولی نه شی
د سوی زړهٔ په تودو اوښکو لمبیدلی شمی
ورته بخښلی ګوره خول د ښکلا اور د مینی
له دغه تاوه وی په مړو ژوندو منلی شمی
بیګاه - د عشق د درد او سوز کیسی د اور په ژبه
د پتنګانو په وزرونو ولیکلی شمی
غوارې چې ډیری ودریږی د تیارو په مخ کی
له داره نه وی د فانوس په خوا کی غلی شمی
«پسرلیه» خدای خبر چې ستا به توره شپه رڼه کړی
که دې مسرې شی د غزلو لګیدلې شمی

۱۳٦٥ - سنبله - پیښور

اور یی د نګاه که د مشعل رڼا ته ورته وی
شور یي د مینو د بلبل نوا ته ورته وی
ډیر می د خیال پری خانو ته سر دننه کړ
یوه ښاپیری نه وه چی په حسن تا ته ورته وی
زه که تا ته ورته نه یم مینه دی پاللی شم
شرط د مستی نه دی چی دی خم صهبا ته ورته وی
څوک چی لنډه منډه کوی ګوره د یاریٔ نه دی
سیل کی بیړی نه ګرځی که څه دریا ته ورته وی
عمر چی تیریږی سړی لیز لیز قانع کیږی چی
ژوند په رڼو سترګو هم درنې رویا ته ورته وی

۱۳۶۵ - ۷ - ٤ - پیښور

نور یې لا ځای د مینې څه غواړي زما په زړهٔ کې
د نفرت غشې یې تومبلي د ایشیا په زړهٔ کې
نه د مجنون پل پونده ښکاري ، نه کیږدۍ د لیلی
بس د وحشت دوړې خورې دي د صحرا په زړهٔ کې
د گډ ژوندون بزم ته بیا کوم یو چنگیز راغلی ؟
چې د نشې وینه وچیږي د صهبا په زړهٔ کې
د زړهٔ زخمونه مې حسرت کړو د تصویر گلونه
د تل دپاره به مې نقش وي موسکا په زړهٔ کې
چې د ستم د چړې خولهٔ څه پې لنده غوندې شي
هغومره وینه به ساتلې وي لا چا په زړهٔ کې
د بدو پیښو ښوېدلیو څه خو پښې تینگې کړئ !!
دبرې هم ډېر ځلې رغړي د دریا په زړهٔ کې
آخر آخر ها د تزار دهوسونو ماڼۍ
د سرطان بده دانه شوه د دنیا په زړهٔ کې
د بوډۍ تپاله ! غولونکې وي له لرې ښته
چې را نژدې شوې تش سراب یې د بیدیا په زړهٔ کې
چې په برچو به دې ایستلو د برژوا له زړهٔ نه
هغه د آز ازغې نن لك دې واړه ستا په زړهٔ کې

ځم لکه بی میره زانې ، خوا راښخه ورکه ده
ګرځم په فضا کی ، خو فضا را ښخه ورکه ده
نه رپوم سترګی لکه ستوری تر سهاره چی
ډوب یم په رڼا کی او رڼا را ښخه ورکه ده
لاس چی لکه سیوری هر دیوال پوری نیولی ځم
پیسبنو یم ړوند کړی او امسا را ښخه ورکه ده
هسی نه په تا پسی تیارو ته مخه وکړمه
خضره ! را ښولی لار دی بیا راښخه ورکه ده
ما نه د لیلی دمحمل ښه پوښتنې مجنون یی کړم
مرمه په بیدیا کی خو بیدیا را ښخه ورکه ده
دا یی دی ویلی : لیونیه ! غواړه ، ښه غواړی ؟
عشق دی مګر ورکه مدعا را ښخه ورکه ده
ښه دی د ګرداب غوندی بیځایه سرګردانه ژوند ؟
ګرځم په دریا کي او دریا راښخه ورکه ده
زړهٔ له غوښتو ډك دی خو پری پوه نه یم چی ښه غواړی
خوله می ورته جوړه کړه ، وینا راښخه ورکه ده
ما که په صحرا کی د هر ګرد لمن نیولی وي
ورك یم د مجنون غوندی لیلا را ښخه ورکه ده

واړه د تا له پاره د ي او واړه ستا غمونه
که د دنیا غمونه دی - که د عقبا غمونه
چی د دوستی په گل کی بوی د وفا نه منی څوك
بنایی چی نه یی وی له زړهٔ سره آشنا غمونه
مجنون د کور غمونه وړل او په صحرا یی ښندل
زه را وړم کورته پنډې پنډې د صحرا غمونه
گریوان د زړهٔ به چیری خلاص کړم له پردو غمونو
چی نړی واړه غم خانه شوه ، هره خوا غمونه
بنایي تر حشره می له خاورو زقوم وبوټوي
که می له ځانه سره یوسم گورته دا غمونه
هره لحظه می په زړهٔ زدی تازه تازه داغونه
د قام - وطن - د نن - پرون او دسبا غمونه
پنځه را ورك چی په جهان کې سر پناه نه مومی
زه په یو موټهزړه کی ځه ځای کړم د دنیا غمونه
زړهٔ می له هره غمه ستا د مینی غم جوړوي
ځکه را بولم سوی زړهٔ ته د هرچا غمونه

۱۳٦٥ - سنبله - پیښور

د زمانی بهیرکه څه هم مخ په وړاندی درومی
/ خو ژوند یو سیل دی چی څو ځی هغومره لاندی درومی
په دی بیدیا کی د مزله په خوند هغه پوه شوی
چی لکه ستوری سره ځی او بېره خاندی درومی
هر زړه چی گورې دی د سویو فریادونو غوټه
په دی بهیر کی چی هر څومره وینی سپاندی درومی
انسان که ډیر بی زړه وی ، تورو ورو ته هم وگوره
په پلمه ژاړی چی په هسکو ټیټو باندی درومی
څوك به د سوی زړه پوښتنی ته کړی خوله ورجوره ؟
د ناز له موره چی ژوندی هیلی نیم ژواندی درومی
لکه وزمی چی د بڼ پانی بیلی بیلی پوښتی
د تصور ښاپیری هم داسی زړه سواندی درومی
د تا له مخه چی نیولی هسك او ځمکه حسن
په کومه خوا به دی د سویو سوې ساندی درومی

۱۳٦٥ - سنبله - پیښور

چې د جنون په صحرا نه کښیني کراري دوړی
را شه په سترګو می را وشینده د لاري دوړی
چې پړدی کټ تر نیمو شپو وی خپل جوهر دی په کار
په پردی بال او پر به څو وی هوا داري دوړی ؟
دماغ د حسن یی د ښت په لمن هم نه منی
د نازېه سترګو کی یې ځای غواړی دا خواري دوړی
د پایمال شویو ، پست فطرتو په شر ، مه واوړه ځوك
خلی ، خاشی شندی ، په سترګو کوی واری دوړی
دا هم په مینه کی د ځوانو ارمانو خاوری دی
چی د مایوس مین په سترګو کی در ښکاری دوړی

۲/٦/۱۳٥٦ - پیښور

غم څه و که غمونه په اهنګ ویده کیدای
دردونه د زخمونو په پالنګ ویده کیدای
د مینې په دنیا کې به هر ډم و آدم خان
د ناز شوخی لیمې که په یوه ترنګ ویده کیدای
تلقین به د مین په زړهٔ هم کړی و اثر
د لمر په آینه باندی که رنګ ویده کیدای
روسانو به له موږ سره پاللی کلی کور
دښمن که له دښمن سره په څنګ ویده کیدای
مورچل به له غازیانو نه هم کله سړیدو
دبلی شمی خواته که پتنګ ویده کیدای
یو ډز به د واورینو غرو په شنو درو کی نه و
همت که سړیدونکی وای او ننګ ویده کیدای
زورګیرو به پخوا لا وای رسی‌را اچولې
احساس د خریت که مو په جنګ ویده کیدای

۱۳۵٦-٦-۳ ـ پیښور

یو به په خود او فرزانه نه لری
چی واړه ښار یي میخانه نه لری
وسو ، ایره شو ، ایره باد یووړه
پتنګ دی بله افسانه نه لری
د لیونی له لیونی زړه پرته
ښایست او مینی پیمانه نه لری
په خوار نظر مه گوره اوښکوته می
بحرونه داسی در دانه نه لری
د عاشقانو هر ځای یوه نغمه وی
دغه سین بله ترانه نه لری
چی د هرچا پکی پوره شی مراد
زمان لا هغه زمانه نه لري
د تغافل غیږی ته تښتی ځکه
چی معصوم حسن بهانه نه لری
ظالم صیاد می راته مځکه فضا
کړې لومی لومی خو دانه نه لری
زموږ په حال که یې پوښتې وپوسته
هغه مرغۍ چی آشیانه نه لری

۳/٦/۱۳۵٦ ـ پېښور

راځه راځه تر پرخې پاکه راځه
لکه سحر گريبان چاکه راځه
لکه تازه گل ، په شبنم له شرمه
ښايسته ښکلې عرقناکه راځه
له رمه جوړه لکه ځوانه کبلۍ
جوهر د حسن يې شکاکه راځه
څوك به دی پورته کړي جلوو ته سترگی
لکه د لمر سترگه بيباکه راځه
کله په خوب کی خو ظالمی پته
لکه راځی نشه له تاکه راځه
لکه تر کور چی دی بيواکه گرځم
ته هم چی ما وينې بيواکه راځه
چی راځې ناز او عشوې مه هيروه
ليز څه می پورته له ادراکه راځه
« پسرلی » دی مړ گڼه له مړو څه پروا
که يې خورده اخلې له خاکه راځه

۳/٦/۱۳٦۵ - پیښور

ای تر نشې هم نشه بخښې بې خروشه مه ځه
لکه د بنگو پیاله بزم ته مدهوشه مه ځه
ناله خو نه یې چې له زړه ځخه دی وایستی شم
اوښکه هم نه یې زما د سترگو له آغوشه مه ځه
چې د سرو رگونو وینی په نڅا راولې
مستۍ بادې نو محفلونو ته بې جوشه مه ځه
ای د ښایست د لوړو غرونو نا کرارې دریا
چې خوب وخیال ته هم د چا ورځی خاموشه مه ځه
د حسن مستې تقدس ته هم ځه گوره د عشق
د زړهٔ حرم ته چې ورځې کله می نوشه مه ځه
د عاشقانو زړونه غواړی درنه نور داغونه
د پتنگانو ټول ته شمې گلفروشه مه ځه
سپینه سپوږمۍ شه د پسرلی رویایې شپه رونه کړه
وره غوټۍ نه یې بهونو ته رو پوشه مه ځه
د « پسرلی » روح روانه سل بهاره در جار
د نو بهار غوندی لمنو ته گلپوشه مه ځه

۱۳٦٥ ـ ٦ـ ٤ ـ پیښور

په یوه شپه غم نه ارزي ګرده ژوندون
د نیمي لاري مل نا مرده ژوندون
تر څو به ځان ورپوري ونښلوو ؟
لمن څنډي آخر له ګرده ژوندون
چي څوك له درده نا آشنا وي هغه -
په بیدردي وژني بې درده ژوندون
بل به لا څوك را سره غم وویښي ؟
سترګي مي پټي کړي له درده ژوندون
له ظالم ژوند نه هر یو داسي ګڼو
د عالم غچ اخلي له فرده ژوندون
لږ تاو به هم نه وو په زړه کي زما
که سړیدای له آه سرده ژوندون

۱۳٦۵ ـ ٦ـ ۵ ـ پیښور

چی د ښایست جلوو ته بولی نقابونه لومی
ښکلی تصویر ته به هم وي ښکلی قابونه لومی
فرمان بردار فرمانروا ته غاړه نه ږدی مدام
شی کله کله سوارکار ته رکابونه لومی
د یو ملت د احساساتو مخه چا نیولی؟
مستو څپو ته که ږدی ږدي دی گردابونه لومی
د تهذیب لومی د الوت وزری لا غوړوی
مگر نغموته دی تارونه ربابونه لومی ؟
په ځان کی ورکه کله نقص او کله کته راوړی
ځینو اشخاصو ته شی لوړ لوړ خطابونه لومی
لا د تاکونو په کږو ځانگو وو فکر شکمن
چی به په جام کی راته کیږدی شرابونه لومی
کتبی دامونه هم شته وږو ملتو ته ایښی
چی عنوانونه یې داني دی او بابونه لومی
د استعمار په تنبولۍ کی ملتونه نښلی
«پسرلیه »نه وی بس د زلفو تنابونه لومی

۱۳٦۵ـ ٦ـ ٦ ـ پیښور

د خپل او بل په وینو سور شو د پتمنو وطن
د پلنو دښتو،لوړو غرونو ، شنو لمنو وطن
د عقابانو ، د بازانو ، د بلبلو ځاله
د ننګیالیو ، توریالیو ، د خوږمنو وطن
د کیږ په حکم ، د پستی په لمبه وسوځاوه
خلق و پرچم یعنی بی شرمه غوندی بنو وطن
له سرو وحشي خرسانو څوك دی چی لیږ هم وپوښتی
چا کړ خزان د رویایی ښکلو څوږمنو وطن
د نړی سپینه ملغلره « هری » چا ماته کړه
ام البلاد شو د بی کورو بې کفنو وطن
د فرشتو ځاله دی خدای په اهریمن نه لوټی
د جرګو کور دی نه کړی رب د میرخمنو وطن
هاله به شا مدام اختر وی « پسرلیه » که نه ؟
چی له یږو ځنی وی پاك د بی وطنو وطن

۱۳۶۵ـ ٦ـ ٦ ـ پیښور

نوره به مې څه واورې خبر د زړهٔ
هیلی مې تکیږی په مجمر د زړهٔ
موج چې دیٔ یوې جلوې بېځایه کړ
څومره بې تمکینه و لنګر د زړهٔ
څه کینې په پرشو کې فرهاده حسن
نقش کړه شیرینه دی په سر د زړهٔ
دا مرغه نیولی څه بې درده لاس
باسی لکه طفل بال او پر د زړهٔ
ته چې مې له مینی هم مخ اړوی
وبه نیسم چا ته ډك ساغر د زړهٔ ؟
هر چا له خپل زړهٔ هم اړولی مخ
وغوړوم چاته مې دفتر د زړهٔ
تل تل دی آباد اوسه میهن د ناز
بیا بیا مې را وسوځه کشور د زړهٔ
وساته د حسن د غنا اسباب
مه ماتوه هیڅکله ګوهر د زړه

۱۳٦۵ـ ٦ـ ٦ ـ پیښور

چی باغ و بڼ د امیدونو له بنیاده ووت
د زړه فغان می لکه شمه له فریاده ووت
څوك به ویده عالم را ویښ کړی؟ورته خیر کړې ربه
د وینو سیل می هری خوا ته له هیواده ووت
د ابتلا جهان دی پیښبی ښه او بد بیلوی
بوس او دانې شی جلا درمند چی له باده ووت
شیرینی پام ! چی د خسرو په زړه لکیږی آخر
هغه خنجر چی په باور کی له فرهاده ووت
کوم اوسیلی چی د مظلوم له سوی زړه را وزی
بې داده نه شی پاتیدای که له بیداده ووت
د کونډو رنډو یتیمانو دی خدای زیرمه وکړی
د ستم غشی له پامیراو له شمشاده ووت
له حسن او مینی ښکاری لوټ د بلبلانو وطن
رنګین څوړمنی مو د شنو درو له یاده ووت
د پت دژوند دپاره بویه واړه عمر جهاد
ښه آس لایق شی د چړې که له جهاده ووت
تا به په دومره کشت وخون کی هلته څوك خبروی
ستړی « پسرلې » که دی له دې حسرت آباده ووت

۱۳٦۵ - ٦ - ۷ - پېښور

ولې یارانو د ژوند ناوې بد رنګه ګڼې
هره نغمه چې نا آشنا وي بې آهنګه ګڼې
که خاورې هم وربانده وا ړوي هوس د ودې
له داني نه ځې ، هیله من زړونه بیا ځنګه ګڼې ؟
ځه لاس وپښې وهل په کار دي د چو چونو غوندې
که دا نړې د خپل الوت د پاره تنګه ګڼې
له دد و دام سره يې ژوند وي د صحرا په زړه کې
هغه مجنون چې يې بې فکراو بې فرهنګه ګڼې
د پرولتاریا دکتاتوري ته چا لمن وهلې ؟
که د ستم لمبې له تاج او له اورنګه ګڼې
داسې ښکاریږي چې امید نشته د بیا سمیدو
دا خپلې تولې بد مرغۍ چې له فرنګه ګڼې
په خپل تميز باندې مو ځرنګه کړې سترګې پټې
چې ځه په چرسو حواله کړې ځه له بنګه ګڼې
د مخلوقاتو د اشرف به شرافت په ځه وي ؟
چې ناګزیر انسان انسان سره له جنګه ګڼې
آخر یو ځه خو دي له هغه ذاته شرم په کار
چې همیشه يې مخامخ او یا له ځنګه ګڼې

۱۳٦٥ -٦ - ۹ - پېښور

نه پوهېږم وګرځم له نازه یې ؟
یا خو سپیلنی شم له آوازه یی ؟
پرېږده کور ضمیره چې خپل ځان وینی
مه پوښته د حسن له اعجازه یې
حسن هم له ځانه ناکراره وی
ښکاری د رنګونو له پروازه یې
اور دی د عشق بل وه ، بد انجام مه شه
داغ که می پر داغ ږدی له آغازه یی
نه د حسن سپکه غواړی ، نه د عشق
دومره را ښکاره شوه له اندازه یی
مه ځیره د زړونو پردی مه ځیره
سرې لمبې به پورته شي له سازه یی
نه پوهېږم حسن و لا څه طلسم
مرم وریپسی پوه نه یم له رازه یی

۱۳٦۵ - ٦ - ۹ - پیښور

یاره چې په اور باندی مستیږی اور
پریږده چې په زړهٔ کې مې بلیږی اور
اور اوبه کیدل مې اوریدلی وو
اوښکې مې چې ګورم اوبه کیږی اور
څه چل په لیدو په اوریدو کې و
ډك له وینو زړهٔ ته چې را لویږی اور
سور سالو په سر له کوره ووته
ما چې وی له سروی را تاویږی اور
مه وایه د ښکلیو زړونه نه سوځی
کله په وریځو هم لګیږی اور
کور ته د عشاقو شمی څه وروړې
خپله یې له خاورو را لتیږی اور
مینی لکه لمر راکړ دزړهٔ سرور
شپه ورځ مې په زړهٔ باندې نخیږی اور
مینه اور و، حسن اور و، یاد یې هم
هره خوا چې ګورم را ښکاریږی اور
نورو نه که خاوری ایری پاته شي
ما نه به « پسرلیه » در پاتیږی اور

۱۳٦٥ - ٦ - ۹ - پیښور

وښنده په زړهٔ مې د هارونو شور
پاخوه د ستور له سازونو شور
چیرته مې د نیاز د فریادونو غږ ؟
چیرته یې د ناز د آبشارونو شور ؟
ته پوه شه رباب دی آدم خانه ، پټ
مه چیړه د زلفو د تارونو شور
تهَ با دشفق په جزیره کی وی
جوړ چی کړو د ځانو کتارونو شور
را شه د صحرا په شنه لمن کی بیا
غلی کړه د مستو بهارونو شور
غشی دی په شونډو با وهلی وو
اورم چی په تا پسی د ښکارونو شور
مه څه هدیرو ته چی محشر نه شی
پورته نه کړی پام ! د مزارونو شور
مه خانده «پسرلی» ته چی په زړه کې یې
ځنګ نه شي د سویو پرهارون شور

۱۳٦٥ - ٦ - ۹ - پیښور

ورك زړهٔ مې ځان ورك کړ په مستيو کې
غواړم يې دحسن په کبليو کې
ښکلې خياله ، ما هم دلته مه پرېږده
ورك ښه يم په ستورو ، په سپوږميو کې
لار چې مې دخپلې کوڅې نه موم
ورك يې يم په زلفو په کوڅيو کې
غټې کړې د تا د سپينې غاړې شوق
سپينې ملغلرې په سيپيو کې
ما نه خو د حسن جلوو ورکه کړه
لار به ورکيده په تروږميو کې
ما چې وې سپوږمۍ په ګلو کښنيستنه
چا کړ پلو پورته په کيږديو کې
درست عمر به څې او پسې ګرځې به
خدايه څومره ناز وو په خوښيو کې ؟
هغسې حسينو کې حسينه يې
څنګه چې خوبې وي په خوبيو کې

۱۳٦٥ - ٦ - ۱۰ - پيښور

نور د رنګ و بوی او د هوس له ښاره تللی يم
بن ته که هم تللی يم بس ستا له پاره تللی يم
پاڼه د خزان شوم نه مې څانګه نه می تيکه شته
ومنه له تا چی د ښايست بهاره تللی يم
تک می له وطنه په مخ خاوری ايرې اړوي
سورداوربخری وم له سره انګاره تللی يم
هر هر څه زړيزی او سوليزی زه هم دغسی
ترنګ د ژوندی ساز وم اوس له هغه تاره تللی يم
ډيره مې پوتی کړه د نوا غوندی د نی کوڅه
نورد فريادونو له تربت دياره تللی يم
حسن چی به ومنی که څنګه تقاضی د عشق ؟
دار ته د وفا لکه منصور له داره تللی يم
مينی که لوګی کړم شوءلوګی می په فضا کی خور
بلی يوی هستی ته د عدم په لاره تللی يم
دا چی ورته ګورې « پسرلی » نه دی کالبود يې دی
زه خو لکه بوی د ګل له وران مزاره تللی يم

۱۳٦٥ - ٦ - ۱۰ - پیښور

پوهیږم ښې کې د ګل خواته په څه نه کینستی
تمامی عمر په زړه ناستی ! بې زړهٔ نه کینستی
لکه نګهت کړی ناکراره لطافت د حسن
هر ځای مې سترګی درته فرش کړی خو ته نه کینستی
په غوغا تیره شی د ناز د جهیل سپینی بطی !
یوه لحظه می د لیمو په راده نه کینستی
دا چې می ځان پسی د سپینو اوښکو داری وینی
د دیدن هیله می په زړه شوه اوبه نه کینستی
دادی شیرینی وه د حسن که د فن غوښتنه ؟!
نقش دی کښیناوه زما په زړه ته نه کینستی
په یوې نګاه به یې د مینی تنده څه ماته شي
چې په لیمو د « پسرلی » لکه ورهٔ نه کینستی

۱۳٦٥ - ٦ - ۱۰ - پیښور

هره نګاه بله پیمانه لري
هره نغمه بیله ترانه لري
زړهٔ په تصادف نه دی ورکړی ما
هره شمه ګوښې پروانه لري
ښه دی چې دهیلو مزی نه شلوی
هره لحظه حسن یوه بانه لري
پریږده د مجنون او دلیلا کیسې
ستا مین هم ښکلې افسانه لري
هغه چې زما په خیال کې ناسته ده
کوم صدف به داسی دُر دانه لري
ولی زړونه نه ګوری ظالم صیاد
دا مرغی به هم چیری لانه لري
عقله په نسبی خبرو تیر نه وزی
مینه هم د مینی فرزانه لري
څه په ژرنده دل شي ، څه یې نیش وهی
دغه استعداد هره دانه لري
لا چې دی خواره نه کړې خواره ویښته
پام کوه چې سل ژبی شانه لري

۱۳٦٥ - ٦ - ۱۰ - پېښور

دا موږ يو بل ته پټ کتل زده کول
که رنګ له رنګه الوتل زده کول ؟
هغه وحشي کوتره والوتله
خو چې مې زړې څه ويل زده کول
وبخښه ستا د استقبال له پاره
ما له مينا سر ټيټول زده کول
د زړه لمسون وو، د نغمو غوندې مې
له زير وبم نه لټيدل زده کول
بيګا چې شمې سره ډير کښيناستم
شمې له ما نه سوځيدل زده کول
د آئينې په مخ مينه نه وه
ناز يې له نازه زړه را ښکل زده کول
مشق د تيريو وو په بحر کې هم
که موج له موجه پټيدل زده کول
عبث مې لاړې ښنې لمحې له ګوتو
چې مې تير عمر ته ورتلل زده کول
ښايي د بل کهکشان ستوري به و
زړه چې تر زړونو جاريدل زده کول

۱۳٦٥ - ٦ - ۱۲ - پیښور

ورك حواس د ورکو د ستم له زوره مه پوښته
سوې ځالې گوره نور یې حال له اوره مه پوښته
مړ احساس انسان ته په پستئ کې هم مستي بخښي
خلې او څګونه د دریا له شوره مه پوښته
هر څه په کمزورو تپل کیږي ، ضعف جرم دی
بله د سیاهۍ وجه له سوی سکوره مه پوښته
موږ هم یوو ملګرو له خپل بحره جلا شوی وره ،
ډك زړهٔ د وریځې له خپل کلي کوره مه پوښته
زه هم بل ځراغ کړم د وطن د شهیدانو یاد
سترګو ته مې ګوره او له زړهٔ مې ګوره مه پوښته
زړهٔ مې تر محشره خدایزده تش شي په آهونو هم
ته مې د غمونو له اوږده او پسوره مه پوښته
واك وطن چې نه ولرې شپې یې په لحد کې وي
ګور له مړي مه پوښته او مړ له ګوره مه پوښته
ویني تویول ، ربیل ، ځبل یې د سرو وي کار
نور مې د خونکارو له سوټك او لوره مه پوښته

۱۳٦٥ / ٦ / ۱۷ - پیښور

که دی د زلفو سلسله هم کړې اوس خپوره راځم
د مینې تور ته دی له زړه د سترګو توره راځم
پریزدئ چې ډیری اوښکې تویې کړم د صحرا په لمن
لکه وریځ د سمندر د زړه له شوره راځم
اوس بدل کړی یم دردونو په یو سوی فغان
لکه نوا مخ په بیدیا د زړه له کوره راځم
نه زه د چا په ژبه پوه شوم نه څوك زما په ژبه
زرکلن مړی یم خو خدایزده له کوم ګوره راځم
بس د جرس غوندی می واړه لار وه چیغه په خوله
نور خبر نه یم چې څو چیرته ؟ له کوم لوره راځم ؟
جلا می سوځی ؟ که به نور زړونه هم سوځی په ما ؟
د بل په لاس کی بله لښته شوم له اوره راځم
ترخه موسکا وم د هستئ په شونډو وښوئیدم
خوږه نوا شوم د عدم غوږ ته هر ګوره راځم

۱۳٦۵ - ٦ - ۱۸ - پیښور

آبشارشم حوصله چې مې له واکه ووته
ناله مې تر لمنو ګریوه چاکه ووته
چې هره خاطره مې حافظې ده را سپارلې
د سوی زړه په مخ شوه یوه تناکه ووته
په خم کې به درست عمر ولې نه ایښې له درده ؟
نشه چې په ستم له مسته تاکه ووته
په ډیرو ورځو شپو کې مې د عمر خوبنۍ خوا ته
په ناز - په نخرو راغله خو چالاکه ووته
ښایست او ځرېکې نه شي په پردو کې پټیدلای
آخر نغښتې نغمه ځنګه بیباکه ووته
هغومره یې دردونه د آبلې غوندې وو ډیر
چې څومره په پرده کې حیا ناکه ووته
دنیا ته چې را وځې بیا ، په شنه زړه به را وځي
هر ځل که مې سبزه ګوري له خاکه ووته
فریاد مې د وریت زړه څه د هنر په تول تلئ ؟
خبره مې « پسرلیه » له ادراکه ووته

۱۳٦۵ - ٦ - ۲۰ - پېښور

لیز که پرې له نازه پری واره لمن وڅنډی
غرونه به په خوښه له بهاره لمن وڅنډی
نه یې پریږدی حسن وچیدو ته د حیا خوله
گل که له دې پرخې تر سهاره لمن وڅنډی
رنگ گوندی د وینو د حنا تر رنگ کچه نه وی
خیر دی که له مینې می ناگاره لمن وڅنډی
سوی زړه به اوس د مینې اوره درنه چیرته وړم ؟
څه حاصل شرر که له انگاره لمن وڅنډی ؟
اور می په زړه بل کړ تغافل د بی پروا حسن
کاشکی می د اور د زړه له پاره لمن وڅنډی
ما چی لکه گرد د خپلی خاوری لمن پرېښوده
پریږدئ چی هر څوك می له غباره لمن وڅنډی
ژوند ته که دی شا کړه « پسرلیه » زړې منت په چا
ځك به څه په بحر باندی خواره لمن وڅنډی ؟

۱۳٦۵ - ٦ - ۲۱ - پېښور

ځومره په ادا په هنر الوزی ؟
رنګ چی د حیا په وزر الوزی
پرخی نه وی زړونه چی د شپې ګله !
ستا په حسن کښینی سحر الوزی
لاړ که شي له تا نه به لا چیرته ځی ؟
ومری چی له اوره شررالوزی
ستا مخ ته می فکر ، که په بله و
دیر ځلی په خوب کی بشر الوزی
سپکه به د سپکو څه رفعت ګټو
خلی هم د لارو د سر الوزی
حسن فرشته کړه ښاپیری،د خیال
تنده چی تر نور د نظر الوزی
لوړ مقام که هر څه وی ، نا امنه دی
پانه چی ځو پورته وی ژر الوزی
اوښکو رانه یووړ د دیدن ثمر
دیر ځلی اوبو سره بر الوزی
عشق چی یې « پسرلیه » وزر وسوځی
بر د رزه په اور لکه لمر الوزی

٦٥ - حوت

ای د ژوندون سینه بشر چیرته وړې
دا خلی خاښې دی په سر چیرته وړې ؟
څه به می کړې باده له ایرو نه جوړ
چیرته می دا سوی وزر چیرته وړې ؟
اوس خو می لا اور په زړهٔ کی مړ نه دی
دوده دغه سوی شرر چیرته وړې؟
لیږ څه یې په ورو ورو تیروه وخته
قلم د رنګین مازدیګر چیرته وړې ؟
راغلې چی غمونه می د زړه واخلې
غر د خوځیدو نه وی غر چیرته وړې ؟
چیری وړې « پسرلیه » آرزومند زړه دی
دغه ډك له میو ساغر چیرته وړې ؟

۱۳٦٥ - میزان. - پیښور

نیاز په ناز گوره بدلیږی چی دوام و مومی زوړ شي
د ځگونو قفسونه د آبشار له چیغو جوړ شي
تجربه يې د عشق نه وه په اټکل تیروته ځکه
اور له لری ښایسته وی ، وچت غر له لری ووړشي
د مین په زړهٔ دی کیږده د تاوده نظر یو بل داغ
په لنبه گوندی د سوی پتنګ سوی زړهٔ څه سوړ شي
تخیل دی روغ جنت دی زه که عمر ورته غواړم
تصور کی يې ورانی وی چی مین له ژونده موړ شي
د« پسرلی » غزل به شي خو ته به نه شي ورنه جوړه
د کوهکن تصورات که د بهزاد په لاس نچوړ شي

خوت - ۱۳٦۵

له ډیره لطافته په نخرو راځی بهار
د ناوې غوندی بن ته په ورو ورو راځی بهار
هر بوټی سر له خاورو را جگ کړی پورته گوری
د وریځو غوندی ښایی چی په غرو را ځی بهار
د ښار په کڅلیخونو کی یې مه غواړه همدمه
په دښتو مسخولیږی ، په میرو را ځی بهار
له سروی یې څه پوښتی ، له لغړو ونو پوښته
په شان د کرېمانو په سپیرو را ځی بهار
جمال وی له جلال سره مدام غاړه غړی
د غرونو غیږ ته لویږی په درو را ځی بهار
نظر چی یې وچت وی له خزانه څه بیریږی
دا هر شپه په شوخو ستارو راځی بهار
د حسن تصور به وی د وریځو په ډولیـ کی
ماښام چی د اسمان په کنارو راځی بهار
د هر بوټی په ځانگو کی چی خاندی سل گلونه
ښکاریږی د بلبلو په زارو را ځی بهار

۱۳٦٦ - ۱ - ۱۰ - پېښور

درسته شپه چې مې بې کچه سمندر د زړه په شور و
د کسات د جذبو تا و ، د غربت د احساس اور و
راشه داغ مې په زړهٔ کېږده ، سزاوار یم د داغونو
ستا له داغه هم لوګی شم ستا هر داغ د زړه ټکور و
چې په وره کې دې ساه ورکړم دا مې ولیکه په قبر
دلته هغه مین ښخ دی چې یې زړه کې زما ګور و
آواره ښاخکې د ورو یو رسوو ځان سمندر ته
که بندونه چیرته مات شوو ، که را پاته د زړه زور و
هر دیوال ته چې ور جوخت شوم ، مختورن شوم لکه سیوری
د بل سیوری مخ توری ده ، د بل سیوری واړه تور و
دریوزګر نه یوو که غواړو د هر چا د کاله خیر
زموږ هم یووخت یارانو ، داسې کلي داسې کور و
زمانې یوو واړه کړي ، شرایطو ساړه کړي
دا ایرې هم سرې لمبې وې ، دغه سکورهم یووخت اور و
عالم ځای و د تیریو سمندر مې هم چې ولید
نیز د نیز په سر ور اوښت ، موج د موج په اوږو سپور و
د شیرین حسن په تورو ځیزو تیزو کې څه غواړئ
د کوهکن په تصور کې ، د « پسرلي » په زړه انځور و

۱۳۶۶-۲۲-۱ - پېښور

چې لکه ستوري شل په شل پسې ځو
خدايزده چې مومو يې که تل پسې ځو
خضر طريق د ګمراهانو نه وي
لکه موجونه په يو بل پسې ځو
فرار له ژونده وو فرار له مرينې
ځو لاس تړلي په اجل پسې ځو
خود به مو خيال په سلو لارو درومي
چې په خواره واره وربل پسې ځو
کاروان سالار مو ليونی هوس دی
لکه وختونه په رنګ ږنګ پل پسې ځو
مشکل پسند يې کړو د حسن بهار
د بناپيرو د باغ په ګل پسې ځو
کمال د عشق و ، که کمال د حسن ؟
سيوري او لمر شو يو په بل پسې ځو

۱۳۶۶- ۲۳ - ۱ ـ پیښور

که وژنی ، که پریږدې مې د زړهٔ سره مه پوښته
زما د زړګی سره ! ما له سره مه پوښته
له سویو زړونو وپوښته اثر د کرشمو
د میو د مستئ له شیشه ګره مه پوښته
چې مځکه ورته سره شی هم په سر څی هم په پښو
پرواز ته چی یې ګورې له شرره مه پوښته
د هجر له تورتمه وی مهجورستوری خبر
د تورو شپو کیسه له رونه لمره مه پوښته
چې سل خمه نشه ورکوی پټ نظر مین ته
نو نور یی د ښکاره غر له اثره مه پوښته
پیغام یې مګر راوړی روښدی زړهٔ درنه په خپله
د حسن له تاتویی یې کوتره مه پوښته
په کړه وړه برهمنه که څه ورته وي صنم ته
د ناز له نازکیو یې ډبره مه پوښته
چې تش ګړی په سرو لاسونو ډک شي له شرابو
بیا لمر هم د ګودر له مازدیګره مه پوښته
په غرنوپه دښتونو می عشق پلونه غورولی
پسرلی شوم د« پسرلی »له بام ودره مه پوښته

۱۳٦٦-۱-۲٤ - پیښور

ماچی له غمونو سره وژړل
څریکو له زخمونو سره وژړل
بیا می ددردونو کړه شپه وله
ډیر می له دردونو سره وژړل
چا وې چی ژړا وی د کمزوری کار
وریځو هم له غرونو سره وژړل
مرې اوښکی می تویی په مړو هیلو کړې
شمو له قبرونو سره وژړل
تا به خدایزده چا سره خندلی وی
ما دی له یادونو سره وژړل
ورځی می غربت کړې د محشر ورځی
شپو می له قرنونو سره وژړل
څه اور په بڼ بل کړ د بلبل نوا ؟
پرخو له گلونو سره وژړل
تا چی جامه سره کړه له حسرته گل
زنبته له رنگونو سره وژړل
ما چی وې « پسرلی » دی په خاتولو کی
سوي زړه له زړونوسره وژړل

۱۳٦٦-۱-۲٥ - پیښور

لاړې زه دې یو عالم الم ته تنها پرېښودم
گوره دا دې چا ته لکه پل په صحرا پرېښودم
نور دې تل په تاسو مبارک وي د خوښۍ ژوندون
پرې مې ږدئ یارانو چې بیدرده اشنا پرېښودم
زړه مې د آرزو ډولېړد وصل سمندر ته وړه
زه لکه د سیل خلی په غاړه دریا پرېښودم
لاړه چې په زړه د بې دردانو کې څه سا پو کړي
زه یې د شپیلۍ په زړه کې غوټه نوا پرېښودم
راغله لاړه تیره شوه چې هیر یې وم که هیر یې کړم
زه یې منتظر په ورکه لار د وفا پرېښودم
څومره له پښو سپك وو لکه ابر نو بهار د ژوند ؟
زه یې د غاټول غوندی په وچه بیدیا پرېښودم
حسن مې ژوندون کړ « پسرلیه » نذرانه د عشق
زه یې لکه شمعه د مزار په ژړا پرېښودم

۱۳۶۶-۲۳-۱ - پیښور

جلوه یې د ښایست چې له نقابه څخیده
رڼا د لمر د وړانګو له مهتابه څخیده
یوه شپه مې کړه په خوب کې ستا له لاسه پیاله ښکل
مستي مې چې را ویښ هم شوم له خوابه څخیده
د لطف په محفل کې یې پوښتنې کړم لوګی
خوله د خجالت مې له جوابه څخیده
ظالمې ! واهه بل اور ته ببوزې تسلی
چې اوښکه مې ذ رزه له اوم کبابه څخیده
بیګاه چې یې خوږو خبرو وایستم له سده
نغمه د ځوانۍ مینې له ربابه څخیده
چې سترګی یې را واړولې حسن لولپه کړم
ګناه د ظالم حسن له ثوابه څخیده
حیا چې یې پرمخ باندې تنکۍ خوله کړه ماته
د شمې رونه اوښکه له حجابه څخیده
« پسرلی » و ماوې حسن په سرو سترګو ژاړي څوک
ورو ورو بیګنۍ پرخه له ګلابه څخیده

پیښور - ۲۳-۱-۱۳٦٦

چې سنګلې په نظر زما نظر وغوړاوو
د اوښکو په تالاب یې نیلوفر وغوړاوو
مشکل و چی بې مینی په سپېره صحرا کی ژوند
د قو غوندی می زړهٔ په سمندر وغوړاوو
ورانګه که نه کړې بخت ، ورشه اوبه شه زما زړه!
بساط د کرشمو یې په ګودر وغوړاوو
ملا نه وم خو داسی وی آداب د محبت
که هیلو می په نیاز ورته څادر وغوړاوو
هیڅوك د محبت په ژبه پوه نه وو افسوس
سل ځایه می د زړه څیری دفتر وغوړاوو
وزمه چی ستا د حسن په ګلونو ښونیدله
ما هم لکه خاتول ورته ځیګر وغوړاوو
ورکه چی مغنی کړ د سرو شونډو تصور
بل کیف یې د شرابو په ساغر وغوړاوو
د یو بل په نوا د حسن تنده ماتوو
دا نوی باب د وصل قلندر وغوړاوو*
په ځکه می د خیال پلونه نور مه وهه « پسرلیه » !
د ستورو شش محل کی می بستر وغوړاوو

---

* - د ساهو لیکوالو ادبی غونډی ته اشاره ده چی مشر یې قلندر مومند و .

۱۳٦٦-۲۳-۱ - پیښور

ساده پښتنه ، د زړونو شپنه ؛ خوږه موسکا يې په گل کی نشته
د توری کیږدۍ‌د سیوری خوند يې د ستوریو په شیش محل کی نشته
د پټ په غروکی روزلې نگاه ، د ناز په چینو کی ولې نگاه
سپیڅلې سترگی ، سپیڅلې نگاه ، چی دا يې لری په بل کی نشته
ښایست راوړې یوه ملغلره ، تر خپل تصور هم ډیره غوره
د هسك د پیغلو په سپینو غاړو ، د بحر د زړهٔ په تل کی نشته
دوه پاکی ښکلې ملالی سترگی ، دوه شوخی مستی غزالی سترگی
چی رم ورنك يې غزال نه لری ، چی کیف و خوند يې غزل کی نشته
پښتون حسن ته ، یی څوك ووایی ، چی واړوی لز څه برندی سترگی
په څیره څیره لا چا ته گوری ؟ ویشتلی زړهٔ می مورچل کی نشته

۱۳٦٦-۲٤-۱ - پيښور

په خيال کی می هم چی له ما سره تله
له صفا سره مله - له حيا سره تله
پښتون حسن يې خدای کله مه کړه تنها
لاس تر غاړه د پت ، له وفا سره تله
گنه ورا وه د ناز ، نه رقيب ، نه غماز
د عشوو په حقله کی ادا سره تله
له خپل سيوری هم دې چی تله پيڅی نغښتې
خو سودا يې د عشق له هر چا سره تله
راغله - لاړه - شوه تيره د سترگو په رپ
د شهاب په سرعت ، له برېښنا سره تله
د جنون په صحرا ، ليونی مينه زما
د مجنون په انداز ، له ليلا سره تله
حيف چی رانغله بيا ښئيدلې زلما
لکه زانی چی تله له غوغا سره تله
يوه نغمه وه پرته په پردوکی د ساز
يوه نشه وه د ژوند له صهبا سره تله

۱۳٦٦-۱-۲۵ - پیښور

ورګورئ چی څنګه شوخ و شنګه ځی ؟
واوری ویلی شوي له سالنګه ځی
ځم ورڅخه زړهٔ چی می پرې وشندو
ځي ارادتمند هندو له ګنګهٔ ځي
لیږ خو می نوا ته کیږده غوږ د زړهٔ
بوی د سوی زړه می له آهنګه ځي
مینی یوځای کړي بیلیدای نه شي
سیوری دی یم سیوری خو له څنګه ځي
مینی ته می ګوره رنګ می څه ګوری
عطر د ګلونو له لونګه ځي
یوه لحظه بې خوبه نه کړې زما خیال
فکر به دی څنګه له پالنګه ځي
پس له عمره راغله کاشکی ووایی
شپه د قدر څنګه راغله ، څنګه ځي
یاد د هغه حسن « پسرلی » کړمه
رنګ یی د ګلونو چی له رنګه ځي

۱۳٦٦-۱۲٦ - پېښور

زړه سوځی لکه شمه که پيرزو يې ومنی
د زړهٔ مجبوره نه ده چی بې خو يې ومنی
د حسن په پښتو کی نه جرګه وه نه يې تول
ما اوښکی پرې جرګه کړې چی پښتو يې ومنی
د هيلو غزونې می ناله شوه پسې ځي
خو خدايزده چی د ناز په تقاضو يې ومنی
د ځان په غم کی نه يم انديښنه می ده دمينې
تر هغه به لوګيږم چی تر ځو يې ومنی
دستور دی د حسينو چی کوهکن ورکوي ساه
شيرينه ورته راشي ، په سلګو يې ومنی
چا وې حسن مغرور دی ، چی زړهٔ هر ځلی وروړم
د حسن يې منظور شي په ليمو يې ومنی
دحسن ژبه بيله وی د مينی ژبه بيله
آرزو د زړهٔ نغمه کړه چی درخو يې ومنی
« پسرليه » تخيل می په خدمت کی دی ددې
ځي پورته چی د هسك په فرشتو يې ومنی

۱۳٦٦-۱-۲۷ - پیښور

کاشکی یوازی می دا زړه وای چی ورو ورو و ښخېد
واړه بدن می لکه شمه له لیمو وڅځید
چی په لوی زړه می وو دروړی سپمولی نظر
حیا می واړولې سترګی ستا په پښو وڅځید
خدایزده بیواکه می له خولې څه خبر وښوئیده
چی می امید د التفات لکه آبرو وڅځید
یقین په پته به یې وځهې د زړه په ژبه
د میو ښاڅکی که دی شیخه په جامو وڅځید
غواړم چی هر یو یې کړی مینه دُر دانه د ادب
دا هر یو ښاڅکی چی په زړه د ناز له ورو وڅځید
لکه په اوسکو د کباب لمبه می لا تازه شوه
صبر اوتوان چی می د مینی په لمبو وحځید
په تصور کی دی راتلل هم « پسرلی » وو د ژوند
سحاب د لطف په ګلونو - په اغزو وڅځید

۱۳٦٦-۱-۳۰ - پېښور

چې احساس يې د زړهٔ غوږ ته په محفل کې خلې ورورې
هره ساه د ژوند له لاسه لکه شمه اور په سر وړې
د ساقي تر سترګو ځنکه دوه جهانه لوګي نه کړم
درد او غم مې وړې په لطف ، فکر او هوش مې په ساغر وړې
د زړهٔ لیك به چا ته ورکړم ، څوك به دروړي د زړهٔ پاڼه ؟
سرې لمبې دي سرې لمبې به ګوره ځنکه نامه بر وړې ؟
مين زړهٔ به دې د حسن په وفا ولې شکمن وي ؟
چې سيندونه خپل وږلي تر وروستي مزله په سر وړې
ما د يو ديدن له پاره ژوند قبول کړ په ساړه زړهٔ
بار د ډېرو يخو واورو د چينو له پاره غر وړې
واړه شپه چې مې بهار ليد د غوټۍ غوندې په خوب کې
پاڼې پاڼې سحر يوورم که مې ستا کوڅې ته دروړي
د وختونو مرك ومير ته تنکۍ هيلې وارخطا شوې
د ماښام جنازه ستورې ، د سحر جنازه لمر وړې
وي د هسك نظر په سپکو خو چې سپك وو درانه نه شول
ډك پلو وريځ له زرو هر ماښام او هر سحر وړې
ستا د حسن په لمن به ګوره داغ وي که به نه وي
چې پسرلى شي او « پسرلى » دې لاله زار ته سور تنتر وړې

۶۶ - ۲ - ۸

دا می په خیال کی سمنبر اوړي
که په څپاند بحر کی لمر اوړي ؟
له سر تر پښو یې د ښایست ملکه
ولی دی سترګو ته نظر اوړي ؟
ساقي لیمې دی لړ په ورو اړوه
ګوره په لاس کی می ساغر اوړي
که د کوثر اوبه شي ناز د ښکلې
څه به یې کړم چی می تر سر اوړي
په ما وي تل د غریبانو ماښام
ژړ لمر شي زړهٔ می په خیبر اوړي
داسی به چا وي ترې آرام اخیستی
چی اړخ په اړخ لوی سمندر اوړي
انسان یې مه ګڼهٔ تش سیوری یې دی
چی په سحر په مازدیګر اوړي
زړهٔ چی ورځي د پستې غیږې په شوق
لکه د سیل اوبه په سر اوړي
بیا به « پسرلی » او د کوکچې غاړه وي
چی په څپو کی یې سره زر اوړي ؟

۶۶ - ۲ - ۱۰

ای د حسن نوبهاره چی هنداره گل زمین کړې
وچ نهال یم گوندی ما هم په یوې نغښتې موسکا شین کړې
ما په ستورو کی ته غوښتې له خپل زړه نه خبر نه وم
د ښکلا تر لطف کرځم چی یې داسی دل نشین کړې
تنها ما دی له گلزاره په زړه خار نه دی راوړی
ستا د مخ تر جلوو کرځم نظر غوټه د گلچین کړې
ته زیبا یې ته زیبا یې واړه سر تر پښو ښکلا یې
خو حیران یم داسی حسن څنگه مینی ته بد بین کړې
تور ویښته می ورته سپین شوو،خو خبره سپینه نه شوه
توره بخته که ته سپین شوې ما به هم څه ورته سپین کړې
لیونی،آرزو ته گوره ، په څه لوی زړه درنه غواړم
چی انگار د سوي زړه می د ښکلا د خول نگین کړې
تور لیمه او تور باڼه یې ما لانده نه دی لیدلی
دا سنگین زړه یې خاونده لږ په ما باندی حزین کړې
په گلونو چی منظورکړي د « پسرلي » د زړه زخمونه
هغه ساه می دی وروستۍ وي ، هغه دم می واپسین کړې

۶۶ - ۲ - ۱۱

هسی نامه توره د مین په سولو سکلې وي
شمه سرو لمبو ته خپلو مرو اوښکو نیولې وي
زړه می ستا له سترګو ستا په زلفو کی پناه اخلي
زرکی په وښو کی د شاهین له ډاره غلې وي
هیلی زړهٔ ته راشي خو په شمار یې کله پوه نه شوم
دا وحشي کوتری چی څو شمیرې الوتلې وي
زه به د شکوې خولهٔ په جوړه قلفونو وتړم
تا که می د زړهٔ د پرهرونو خولې ګنډلې وي
څه می پوښتې حال د زړهٔ چی سترګی ښکته واچوي
واورو لاندی مه شې چی له غرهٔ را ښوئیدلې وي
څومره چی یې خیژی تر پاسته مخ د حیا خوله
هغومره تناکی می د زړه پر مخ ختلې وي
ستا د تصور په پله می هیلی سر را پورته کړي
کله چی وژمو په شنو وښو سینه موښلې وي
ستا د خولګۍ مینه می « پسرلی » کړي چی را یاده شي
یوه لمن غوټۍ می په خاطر کی غوړیدلې وي

۱۷ - ۲ - ٦٦

شمې ته گوره د نړۍ دغه آئين پاته دی
سل يې وژلی لا يې مخ د حسن سپين پاته دی
څوك به له داسی حسنه څه وکړي د زړه پوښتنه
چې يې له نازه د مخ خال هم په زړه شين پاته دی
د سنګلو زړونه وو د تيزو پخوا هم ، وگوره
په بيستون کې چې کوم نقش د شيرين پاته دی
د ناز په لمسه مې په کاڼو ياره مه وله زړه
له ټوله ژونده را ته بس دا يو نګين پاته دی
تا که د سيوری غوندی درست عمر در پورته نه کړم
لا مې ارمان دي تا په در کې د جبين پاته دی
ظالمې دومره ژر په وروځو ځادر مه تيټوه
چې د دوو وږيو په اميد دی خوشه چين پاته دی
اوس څه مغل مغل کوو چې تر موږ ورك دي مغل
نه دی اورنگ لښکری شته نه تمو چين پاته دی
د مدنيت په مخ مدام وي د وحشت يوه زخه
پرون صحرا وه د گوبي ، نن کرملين پاته دی
چې ورته ستا هره ادا سنګاريږي روح د حسن
« پسرلی » دی ځکه ډير په مينه کې خوشبين پاته دی

۱ - ۳ - ٦٦

لاړم د مجنون په پاتا کښيناستم
ګوښی په تبجنه صحرا کښيناستم
ښکليو چی د راز ګودر ته شا کړله
لمر شوم او د غرونو تر شا کښيناستم
واك خو د لمبو وي د وږمو په لاس
تا ته که را پاڅيدم يا کښيناستم
مه می غورځوه په بې مهري له ښو
ورو ورو لکه مسته دريا کښيناستم
عشق به مو منزل ته رسيدلی وي
زه چی لکه بانګ د درا کښيناستم
ويلی لکه شمه په ولاړه شوم
دا که يې په خوا کی زه لا کښيناستم
پل پونده دی يو ځای هم ښکاره نه شوو
زر ځايه په لاره کی ستاکښيناستم
چنګ شومه خو خولې ته دی نژدې نه کړم
سوز شوم او د نی په نوا کښيناستم
اوښکو می « پسرليه » تيت کړم ځکی ته
زه هم لکه ګرد په وريا کښيناستم

٦٦ - سرطان

غواړم هره خواګلونه وخاندي
وخانده چې بیاګلونه وخاندي
لږ چې په لیمو کې را ته مسکه شې
ما ته د نیا ګلونه وخاندي
شل بهاره راغلل لاړل څه یې کړم
کاشکې مې اشنا ګلونه وخاندي
هومره خو مې ژوند ته رنړوه لیمه
لکه د بریښنا ګلونه وخاندي
راشه د مجنون پوستنه هم مه کړه
پرېږده دبیدیا ګلونه وخاندي
هره شپه دې سر په تصور کې ږدم
ما ته تر سبا ګلونه وخاندي
ستا د راتلو غږ که « پسرلی » نه وي
څنګه نیمه خوا ګلونه وخاندي

۱۳۶٦ - لړم

هره خوا د غم نیزونو وړی یم
غم نه ستړی کیږي خو زه ستړی یم
خیال می چی راوړي گلونه کال و سر
زه با د الفت د ونی زړی یم
څه خوند به می واخلی له نغمو څخه
تار یم خو بې حده شان اومړی یم
توره پرښه یم د پولادي غرونو
چا درته ویل چی اوسپنځړی یم
خپله جنازه وړم د لحد په خوا
څه عجب بې کسه غوندی مړی یم
ور به می بیدیا په نیم جهان نه کړم
زه هم د مجنون د کاله غړی یم
هغومره می پیښی ستړې کړې دي
څومره چی زه پیښو ستړی کړی یم

۱۷ - ۱۲ - ٦٦

چی ځوانی وه ، چی مستي وه ، د زړه خوا تر وتازه وه
ورځ د حسن انګازه وه ، شپه د مینی خمیازه وه
ژوند می پټی سترګی تیر شو د زلما په میکده کی
مست ساقي او ډک خمونه ، نه دربان ، نه دروازه وه
ژوندون څه و ؟ پس له عمره ایله اوس دومره پوهیږم
چی اخیستيِ می په خپلو اوږو خپله جنازه وه
د جهان ښایست می ولید که عشق نه وای هیڅ به نه و
د بلبل د زړګی وینه د ګلشن د مخ غازه وه
د هوس وښو کی پټه ، د غفلت تر دوړو لاندی
دا زما جنډړیهٔ زما د ویران شوي ګور خازه وه
د ژوند کوم الم به ژارم ، کوم ستم به د وخت هیر کړم
د غمونو د دردونو نه څه حد نه اندازه وه
دا احساس ځبلی زړه به ستا په مخ کی ټوک ټوک کیږدم
که ادا دی پريِ رضا وه که د حسن اجازه وه
په مړو هیلو می « پسرلیه » اوښکی څنګه تویی نه کړم
دا د فکر وقایه وه دا د ذهن شیرازه وه

۱۳٦۷

ځنګه به ځوږ واخلم له ځوږمنه زړهٔ
دود شي مګر ووزي له ګلخنه زړهٔ
زه په زړه خبر نه یم او زړه په ما
کرځي لری لری می له تنه زړهٔ
څومره وي له ستونځو ډکه لار د عشق
زدي چی می هر پل په بله غنه زړه
حسن قساوت نه دی ، نو څنګه بت
وړي په سنګدلی له برهمنه زړهٔ ؟
سخته دامنګیره وی د حسن خوا
نه راځي د زلفو له ختنه زړهٔ
ښایی بیدردان به یي کړکچ کښي
غورځوي مینا می له دهنه زړهٔ
ځاله به له منی بلبل پریږدوي
څرنګه به اخلي له ګلشنه زړهٔ
غرونه پرې پراته دي پرې پراته دی وي
نشم اخیستلای له وطنه زړهٔ

۱۳٦۷

یا به تللی خوشحالۍ بیزته ستنې کړو
یا به شمې د قبرونو میلمنې کړو
د ویاړونو تاریخ پاڼې پاڼې مه شه
د همت زغرې یې راشۍ دوتنې کړو
چې ښایست کې درنښت په ناز کې نیاز وي
خپلې تاندې تقاضې به پستنې کړو
د رفعت په اسمانونو به زړدو ځالې
که د فکر له پښو ماتې څولنې کړو
بیا مو ټینګې سدونه نه شي ټمبولای
چې په یوه مرکز را ټولې پرګنې کړو
په آزاد وطن کې کیږي انساني ژوند
پیرزوینې چې د هیلو کورېنې کړو
ثمره به یې تر حشره سرخ رويي وي
چه د پت ونې د زړه په وینو شنې کړو

۲۰ - ۱ - ٦۷

سوی قیس له درده چې صحرا په غیږ کې ونیوله
ګرد د سترو تلو یې لیلا په غیږ کې ونیوله
راغله او ناڅاپه مې لندو سترګو کې واوښته
تا به وې سپوږمۍ وه چې دریا په غیږ کې ونیوله
دود مې د مین زړګي له سره په حسرت وخوت
سترګو مې د حسن یوه دنیا په غیږ کې ونیوله
زه به هم آخر په سعیه رامه کړم پري د خیال
سپینه پلوشه که د لمر چا په غیږ کې ونیوله
دې مې را نه پام او فکر هر څه اړولی دي
ما یې د خورو زلفو سودا په غیږ کې ونیوله
شپو کې د فراق چې تصور ته لوګومه زړه
ته به وایې توري شپې رڼا په غیږ کې ونیوله
اوښکې مې یوه یوه پریږدي نن د ښو لمن
ستا مستو لیمو چې استغنا په غیږ کې ونیوله
یو چمن ګلونه مې په زړهٔ وغوړول مینې
شونډو یې چې پټه خولهٔ موسکا په غیږ کې ونیوله
بیا دی د ښایست جلوې په هر لوری شیندلی دي
څکه لیوني زړهٔ هره خوا په غیږ کې ونیوله
مسته د « پسرلی » ورمه چې رغښته په ګلونو کې
ما هم د زړهٔ شوخه تمنا په غیږ کې ونیوله

۲۵ - ۱ - ٦۷

شور چې د بلبل گل و نسرین په غیږ کې ونیسی
دود مې د حسرت مه و پروین په غیږ کې ونیسی
څو به یې فرهاده په تنکی زړگي کې وساتې ؟
غر بویه چې نقش د شیرین په غیږ کې ونیسی
هر څومره شوخي چې لري مست لیمه را بوله یې
زړهٔ چې سمندر شي اباسین په غیږ کې ونیسی
داسی یې د وږځو د بڼو په خاطرو یم شاد
لکه چې ډك وږی خوشه چین په غیږ کې ونیسی
زه یم چې دا سره سکروټه زړهٔ په خوا کې گرځوم
بل به څوك په خوښه دا ناورین په غیږ کې ونیسی
غواړم چې ازغی شوای د هوس تر زړهٔ یې وختی
څانگه چې د گل کله گلچین په غیږ کې ونیسی
کنده که یې ونیسی په زرو کې رنگین خیال
یاد چې د کوم زړهٔ لکه نگین په غیږ کې ونیسی
خپل همت که نه شي پریوتلیو وته لاس د غیب
تل مگر د بحر ته نشین په غیږ کې ونیسی
خیال مې « پسرلیه » را نه ونیو مستغني حسن
داسی لکه غرونه چې تمکین په غیږ کې ونیسی

۲۵ - ۱ - ٦۷

بیگاه چې بیا د لیوني زړه په ارمان پسې تلم
د لاری گرد شوم او د مصر په کاروان پسې تلم
له مځکې وویشتم بدمرغی ویښیدا له خوبه
بلند پرواز وم لکه ستوری کهکشان پسې تلم
ښه وم که نه وم ، د هر چا په پلهٔ ختلی نه یم
چار او ناچار لکه مضمون په خپل عنوان پسې تلم
رندو هم لاري د سازش په امسا و موندلې
خود به پرتلم چې زه اوس هم په وجدان پسې تلم
ذهني کجي د عملي کج روي لار پرانیزي
د تیر په شان به کږیدم چې په کمان پسې تلم
که مې د بل په پیروي کې مخ توري نه لیدای
زه به دسیوری غوندی تل په بل انسان پسې تلم
« پسرلیه » هغه د لتهون ورځې مې هیرې مه شه
چې مخ په دښت او بیابان د باد په شان پسې تلم

۱ - ۲ - ٦۷

شمه یم درست عمر له خپل اوره سوځیدلی یم
خپل زړهٔ ځوزولی یم اوځان ته ځوریدلی یم
ته مې د شبنم په سترګه هم پاکي ته نه ګوری
زه لکه شهید د زړهٔ په وینو لمبیدلی یم
وېخښه چې مخ ته دی په ګڼ محفل کې وړتم
ډیر تر تاندو هیلو لکه طفل چورلیدلی یم
نه ده د غرور لمن مې حسنه د پریښوو نه ده
هر څو لکه کاڼی تر کمره را رغړیدلی یم
تاك نه یم چې مست شي په اوږو یې چیله واړوي
هیڅا پورته نه کړم لکه سیوری غزیدلی یم
ډك توپك مې مه کړې که مې ګرځوي په غاړو هم
خیر دی که دې پښو ته د وړانګو غوندی لویدلی یم
ګرد نه یم د لاری چې د چا لیمو ته ولوېږم
رنګ یم د هستی په مخ له شرمه لتیدلی یم
څو چې مې پخیږي عمر هومره مې ځوانیري شور
یو عمر د مې غوندی په خم کې ایښیدلی یم
مینه مې ده خاوري په زړهٔ خاوري خړي اړوي
هر څو که د سیل غوندي ترې لاړم بهیدلی یم
څه به په غربت کې « پسرلیه ټولوم حواس
مینی مې د ګران وطن په غرو رغو شیندلی یم

۶۷ - ۲ - ۲

ستا د عشق صحرا ته چې د زړهٔ له ښاره تللي يوو
څنګه په هوس لکه د وينو داره تللي يوو
کوږفطرت مو نه وو مجبورئ د شرايطو وې
داسې چې کاږه لکه په غرو کې لاره تللي يوو
ژوند نه چې کنار د عافيت د مستۍ روح اخلي
بيرته د څپو غوندې له هر کناره تللي يوو
خاوري مو په خوله شوې يا د زړهٔ وينې نور هيڅ نه وو
چيرته چې د تير غوندې د بل له پاره تللي يوو
خدای خبر په څه تمه په څه هوس راغلي وو
بيرته چې عدم ته د ژوندون له دلېره تللي يوو
زړهٔ کې چې د مينې تاو سېېزي ګړي مخ توري ژوند
سرهٔ وو خو په تاو پسې له سرهٔ انګاره تللي يوو
هغه د څوانۍ شور مې « پسرليه » رانه مه غواړه
اوس لکه نغمې له خپل اومږي تاره تللي يوو

۳ - ۲ - ٦٧

اوس د مینی درده هغه حال ته رسیدلی یم
سیوری شوم له ضعفه خپلو پښو ته مې لویدلی یم
شور د جنون روح کړمه د غرونو چې په هر پړاو
زر ځلی پرتلی یم او بیرته لتهیدلی یم
پام دی مگر نه و چې حیا اوبه کولم زه
څنگه دی سرخ رویه لکه بل څراغ لیدلی یم
خپل ذهن او خصلت یم په ژوندونی په دار کړی زه
پورته بې تنابه لکه ستوری ځړیدلی یم
ته پیخې در نغاړې لکه لمر د مازدیگر له ما
زه چې لکه سیوری په سینه در ښوئیدلی یم
تا نه بیلیدای نه شم وطنه زړه زدی تا ته سر
زه چې لکه لاره په هرځای کی غځیدلی یم
هر انسان « پسرلیه » په بل شان و د انسان صیاد
څکه د هوسی غوندې له ځانه رمیدلی یم

۶۷ - ۲ - ٤

که ژوند پرته له مرګه بل انجام نه لري
عدم هم بی له ژونده بل پیام نه لري
د عمر په وروستو لمحو شوم دومره قدر پوه
په داسی زینو وختم چې بام نه لری
د هسك په تبسم چې غولیدلي غولیدلي
هغه سحر به کوم وي چې ماښام نه لري
د داسی مستغني حسن په لومو کښیوتم
له نازه چې خپل حسن ته هم پام نه لري
د جم په میکده کې و خم هم وچه خوله پروت
مینا یې ماته شوې ده او جام نه لري
د زړونو تنستې خو وي بس هیلی امیدونه
ډېری دی که زړونه دي چې کام نه لري ؟
د داسې چرخ په سیوري کې به څه وکړو آرام
چې ستوري او لمرونه یې آرام نه لري
« پسرلیه » ګوره هغه درمند ځای نه دی جنت
دانې چې یې بې توله وي او دام نه لري

٦٧ - ٢ - ٥

پنډه د غمونو په سر بیرته وړم
تا ته سپمولی نظر بیرته وړم
راغلم جهان ځای د اوسیدو نه و
کډه په زیړي مازدیګر بیرته وړم
ما وې ستا په لطف به مې زړهٔ ښه شي
دریغه نا ګنډلی پرهر بیرته وړم
حسن بانه جو وي ویریدلی یم
زړهٔ ته چې له ژبې خبر بیرته وړم
داسې لکه شمې نه بسمل پتنګ
ستړی نفس سوی ځیګر بیرته وړم
څوك د ملغلرو پیژندوی نه و
تل د سمندر ته ګوهر بیرته وړم
زه خو دې « پسرلی » یم ګله ځنګه به
خپل شیندلي زر لکه لمر بیرته وړم

۶۷ - ۲ - ۷

بیگاه چې مې لطفونه یادیدل او خوریدل
ګلونه مې په ذهن غوړیدل او خوریدل
خواره څاڅکي د ورو شي ورو ورو بیرته سره ټول
په زړهٔ مې دی یادونه وریدل او خوریدل
د وصل په محفل کې مې بس دا ننداره وکړه
رنګونه په رخسار و ماتیدل او خوریدل
د ناز له تقاضو بې د زړهٔ ستړي امیدونه
کبلي شوو په صحرا کې رمیدل او خوریدل
دا ته وی که د مینې تبې وم لیونی کړی ؟
څه څه به مې تر سترګو ځلیدل او خوریدل
فکرونو وي اخیستی د وحشي مرغانو غاړې
د ذهن په فضا کې ټولیدل او خوریدل
یا دا د غربت شپې دي او یا هغه چې مستي وه
وختونه یو له بله شرمیدل او خوریدل
« پسرلیه » چې هغه د مینې ورځی را په زړهٔ شوې
یادونه یو له بله جاریدل او خوریدل

۷ - ۲ - ٦۷

عشقه ستا له فیضه چې هنر ته رسیدلی یوو
ښکلې واړه ښکلې وي دلبر ته رسیدلی یوو
حسنه یو نیمګړی الطفات دی راته روح بخښي
ورو ورو لکه سیوری د   تا در ته رسیدلی یوو
مینی چې ور ګډ کړو په ټولي د رڼو ستورو کې
غم دی نشته غمه چې لښکر ته رسیدلی یوو
شمو زړونه وخوړل خو یوه شپه یې سحر نه کړه
بیا هم موږچې زر ځلی سحر ته رسیدلی یوو
هغه وخت را نغلې چې په زړه کې مې موجونه وو
اوس لکه د سیڼ شګې بستر ته رسیدلی یوو
عشقه ستا له فیضه مو د خیال لمنه ونیوه
موږ هم لکه پرخې آخر لمر ته رسیدلي یوو
اوس چې مو له حاله خبر نه اخلې پوهیږمه
ستا هغه کارونه یوو چې سر ته رسیدلی یوو
راغی « پسرلیه » د مستیو د توپونو وخت
یو موټ سپیلني وو سرهٔ مجمر ته رسیدلي یوو

۸ - ۲ - ٦٧

نه یواځې اوښکې مې له غمه ځي
ټول بدن مې ورو ورو لکه شمه ځي
پاڅی د جرس له کم ظرفی نه شور
ګرد د رهروانو له قدمه ځي
وي به چیرته ګوری د مقصد پړاو
چیرې دا روان ستوري په جمه ځي ؟
زلفي يې وږمو توښپلی ما چې وې
وریځی هوایی شوې او له یمه ځي
خیر که غوارې دا غواړه چې پوه نه شې
واړه عمر وینی له قلمه ځي
جام به يې تر حشره وي د زړه پولی
ځي دي که نور هر هر څه له جمه ځي
پریږدی « پسرلي » ته د صحرا لمن
چیرته به د مینی له حرمه ځي

۸ - ۲ - ٦٧

د حسن په ليمو کې مګرناز پاته نه دی
د ژوند په هنر تون کې چې بل ساز پاته نه دی
د نن په سين لاهو ته خو د حال تسلي بويه
انجام لا په تيارو کې دی آغاز پاته نه دی
ماده شوه د انسان په ذهنيت باندی حاکمه
زخمونو څه غوړيږی چې ګل باز پاته نه دی
ګردونه چې د لارو وزر ماتی پريوتل
په دې ستړې صحرا کې جنون تاز پاته نه دی
په چا به هنګامه بيا د ساړه غزني توديږي ؟
محمود يې کډه واخيسته ، اياز پاته نه دی
په خپل ځان کې ورکيږي له رازدارو څخه ځان
له ځانه پرته پټ مګر بل راز پاته نه دی
په مرګ د زوروړو ستم کش شي ستمګر
دا چا ويل کوترو ته چې باز پاته نه دی
عمرونه شوو چې نوی نغمه نه اورو د عشق
حافظ نشته « پسبرليه » که شيراز پاته نه دی

۸ - ۲ - ٦٧

چې دی حضور ته بس د یوې نګاه په تمه راځم
ستا د دیدار د حسرتونو له عالمه راځم
که په ښایست دې څه در زیات نه کړم کمیزي به نه
د یوه صدف ځان او ځیګر یم او له یمه راځم
ستا د محفل رڼا دې تش په ما موقوفه نه وي
په خولهٔ لمبه ، په سترګو اوښکې لکه شمه راځم
ګوندی وانهٔ ورم د حساب او د کتاب خبري
د مینی کورته د دنیا له بیش و کمه راځم
له یوهٔ دوزخ نه بل دوزخ ته چا پناه ور وړې ؟
زه د غربت ستم کدې ته له ستمه راځم
ساقی په یوې نیمې موسکا مې د زړه غم کموه
چې میکدې ته دی راځم کله له غمه راځم
مینی خیال باف کړم او خیالونو مې وزر را کړي
چې د وریځ غوندی یو شان په غرهٔ په سمه راځم
د « پسرلی » روح روان سل بهاره در جار
یو نیم نیمشوره ست خو کړه چې خاطر جمه راځم

۸ - ۲ - ٦٧

هغه بې حسه چې بې دمه په منزل پریوتل
لکه سیلونو وړي خلي په ساحل پریوتل
غم د هغو کوه چې غم لري او غم پیژني
که نه کورونه خو هم ډیر د آب و گل پریوتل
بیگاه مې بیا سوي دردونه د زړهٔ وپاریدل
ځومره نارامه ماشومان وو په مشکل پریوتل
ته راغلې لاړې او را پاته حسرتونه په زړهٔ
لکه دلاری خړ گردونه په محمل پریوتل
چې هر هوس مې د زړهٔ خواکې څه را پورته کړ سر
یو یو مې لید د ناز په ښنو کې د بسمل پریوتل
راغلو دنیا ته بیرته لاړو نه څه کم شو نه ډیر
بس یو څو ځاځکي شوو له یم سره شامل پریوتل
چا ته به څه ورکړي د آس په تمبولی کې مستی
د آبرو ځاځکی په کچکول کې د ساحل پریوتل

۶۷ - ۲ - ۹

آخر یې عشق دومره حساس کړمه چې ناز یې اورم
که په حیا یې هم رنګ الوځي پرواز یې اورم
اوږده بانه یې چې یو بل سره خواله کوي پټ
تر رنجو ښه ورنه خبریږم او پټ راز یې اورم
زړهٔ ته می نه لویږي چې حسن دي وي دومره خښن
چې هره خوا د مستو سترګو تاخت وتاز یې اورم
له پاکه حسنه له سپیڅلي ښکلا لری نه ده
زړهٔ یې منی چې د سپیڅلی حسن اعجاز یې اورم
په هومره ناز برسیره حسن بې نیازه نه وي
چې سترګی زړونو ته ور اړوي نیاز یې اورم
زړهٔ می د زلفو په ځنګل کی را نه واړاوه مخ
پته یې نښته چې غوږ ږدم یو حزین ساز یې اورم
مینه هنر ده د هنر عمرونه ډیر اوږده وي
« پسرلی « » دی تللی وي د سوي زړهٔ آواز یې اورم

٦٧ - ٢ - ١١

زړهٔ چی په مینه کی کامل شي مشکل نه پیژني
-څاڅکی چی دُر شي بیا نو بحر او ساحل نه پیژني
په پله د هغو ره روانو مینی پاڅولم
چی لکه ستوري تل روان وي منزل نه پیژني
د عافیت گودر له مستو څپو چا پوښتلی
له مجنونانو یی څه پوښتې عاقل نه پیژني
پتنگه سوځه ، ایره کیږه ، تقاضا ده د ناز
بله ډیوه د خپلی مینی بسمل نه پیژني
مجنونه دښتی چی در نغاړي دومره پام خو لره
د لاری دوړي دی د حسن محمل نه پیژني
زړهٔ به په حشر کی د کومی ادا پیڅه نیسی
دا بیگناه مړی چی دلته قاتل نه پیژني
زاهد دی وایی ښکاره کفر دی له حسنه انکار
« پسرلیه » ډیر دي چی لا حق او باطل نه پیژنی

۶۷ - ۲ - ۱۰

نه په گل خبر شوو نه له باغه پوهېدلی یوو
خدای خبر چی څه له دې دماغه پوهېدلی یوو
غرونه وو ، پیچومی وو ، ستړیاوی وې ، مزلونه وو
دومره د دنیا له دې ایلاغه پوهېدلی یوو
څومره چی یې اخلو هغه هومره بې خودي راوړي
دا قدر دی پوهې له اياغه پوهيدلی یوو
خاوري به شي زړونه خو داغونه به یې خوا کی وي
داسی د ریدي د زړه له داغه پوهيدلی یوو
نور په بیدردانو شیندي ، سوځي پتنګان د عشق
څه چی موږ د حسن له څراغه پوهيدلی یوو
چیرته به څوك ساه جوړوي ؟ ځای د آسایش نشته
ځي چی د پسرلی وزمه له راغه پوهيدلی یوو
څه ګرځي « پسرلیه » په موهومی خوشحالی پسې
دا هغه هما ده له سراغه پوهيدلی یوو

۶۷ - ۲ - ۹

شیشې د رڼو برخو که بلبله ماتوي
زما د زړه شیشه مینه په خپله ماتوي
ماهي ورڅخه جوړ کړ د مژگانو تصور
ازغي به می په زړه کی لا تر کله ماتوي
زخمی زړه می گنډم د ناقابل جراح په لاس
چی یوه ستن یې ایستلې نه وي بله ماتوي
نهال به د امید په زړه کی څنگه لویوم ؟
ظالمه استغنا یې له اوله ماتوي
که کار یی د نارامه حسن نه وي ماتول
رنگونه په خپل مخ له څه کبله ماتوي ؟
نگاه ته به یې یو نظر هم څوك وتړي زړه .
سنکلا هر څوك له دې پاخه مورچله ماتوي
مشکل مشکل کشا شي « پسرلیه » کله کله
پوښتنې د څپو گوره سین په خپله ماتوي

۱۲ - ۲ - ٦۷

ستا د ناز په محفل کی می سوې نګاه له لیمو تر بنو له حیا نه راتله
د نیاز په لیمو شرم خاوري ښیندي که نه دومره خو ماته ژړا نه راتله
تمبیدلې نوا می له خولې زړهٔ ته بیا لکه ښکلې ماشومه شرمیزی له چا
د مجبور زړه د عجز و زاریٔ په سلا په تشویق، په ترغیب، تسلا نه راتله
نا اشنا و محفل ، نا اشنا یې صحنې ، نا اشنا یې غمزې ، نا اشنا یې عشوې
چی به وکتل ماته په کوم نظر دې هغه شانته نګاه به یې بیا نه راتله
فرصتونه له لاسه د باد غوندی تلل خو پرون او سبا یې له یاده څندل
هم په شمار و ، وېل ، هم کتل سپمیدل تا به وی چی له سره سبا نه راتله
نګاه نه وه یاره جریان و د نور له تورولیمو یې فوران و د نور
باران و د نور او طوفان و د نور په دومره وسعت به بریښنا نه راتله
د دریا په سرور ، د سپوږمۍ په تمکین ، د وږمو په دستور ، د زمان په آئین
بیستون ته د عشق راغله لاړه شیرین ملکه وه د حسن او په غلا نه راتله
« پسرلیه » افسوس چی شرر وې فرصت د خیال په عالم کې د ښکلیو یو ست
هم جام و د جم ، هم د جم سلطنت چی په خوب او خیال کی هما نه راتله

۶۷ - ۲ - ۱۲

نقاشه ټول رنګونه ګډ وډ وشینده دیوال ته
شاید چی څه خو ورته شي زما لیونی خیال ته
ثواب ته به می پریږدي د جنت ټیکه داران
پرې ایښی که یې چیرته یم په عمر کی وبال ته
دسوېو زړونو سوې ایره هم آخر وړي باد
په خپل انجام چی پوه یو حه حاجت نه لرو فال ته
د لري افقونو هسکی پینګی را کوه اوس
د حسن تصوره چی ور پورته دی کړم تال ته
د ګوتو زور که نه وي د زړه زور و ته ډال ایښی
رستم په قوي متهو ولی سر ټیټهوي ځال ته ؟
د لمز په جزیره کی د جلوو غوندی رغښتلی
نه وېره د تیارو وای او نه فکر مه وسال ته
« پسرلیه » یا له حسنه مړیدا وای یا له عمره
یا غوټی ور لویدلای د وختونو پر وبال ته

۱۹ - ۲ - ٦۷

ورو ورو راشي خيال ته د ناوېو په دود ، د افکارو په ځير ، د هنر په قدم
ښيندی نور په ليمو ، تصور روڼوي ، د سپوږمۍ په انداز او د لمر په قدم
څو خوځيږی انسان د ير بدل وي جهان ، هر هرڅه وي بل شان ، هم مکين ، هم مکان
چی کاروان د زمان لکه سيل دی روان ، د صر صر په هوا ، د شرر په قدم
راشه زړه کی می نور او صفا وښينده ، په خاطر می سرور او خنداوښينده
د ليمو په تور تم می رڼا وښينده چی جړاو لکه لمر کړي گودر په قدم
مينه ژوند بدلوي ، مينه ژواك بدلوي ، خو اور اور وي که هر خومره رنگ اړوي
د قلم غوندی عشق کله سر پښې کوی ، که فرمان وي درځم به د سر په قدم
چی په لاس او په خوله چنگ ونی ويښوي ، هوش په جام ويلوي ، زړه په مې ويښوي
دا انسان دی چی خپل هم پردی ويښوي ، هره لار لري پای د بشر په قدم

٦٧ - میزان

رنگ يې په کتو چی له رخساره ځي
ته وا چی گلونه له بهاره ځي
زړونه چی نازك شي په پلمه درومي
واوری چی اوبه شي له کوهساره ځي
نه وي د نازونو طریقه یوه
ستوري دی هر یو په بله لاره ځي
وچه د غوټی خوله کی موسکا مه شه
کړی د بلبلو له گلزاره ځي
پټ د حسن ځمکه را ته سره کړله
زړهٔ می شو سُوکی چی له ناره ځي
راغله د مینا غوندی نشه یی کړو
یوه دا له محفل څخه هوښیاره ځي
شعر می « پسرلیه » که بی لطفه وي
څه ځي وینی زوي له پرهاره ځي

٦٧ - قوس

د هیلو په جرس کی هغه شور پاته نه دی
مزل په ختمېدو شو د زړه زور پاته نه دی
د عمر خونده تللي هوسونه خواره شوي
په ذهن د سبا هغه انځورپاته نه دی
د خدای بې وعدې چوي دمغانو سوي زړونه
د مینی په اورتون کی چي بل اور پاته نه دی
ساقي د خم په خولهٔ باندی اوس لویه تیږه کیږده
په لوګه میکده کی چی میخور پاته نه دی
مجنونه د نخچیرو په یارئ کی درته چا وې
د مینی د وفا په غاړه پور پاته نه دی
دیوانو مو په وینو د البرز لمنی سرې کړې
سنکاریزي د رستم غوندی کوم سپور پاته نه دی
چی هر نغري ته ګورې وي اور بل ، کټوي باندی
د غم له لاس وهنی خو یو کور پاته نه دی
چی نه وي به پاکانو لګیدلی « پسرلیه »
جهان کی له تورونو داسی تور پاته نه دی

۶۷ - ۲ - ۱۸

ووته له کوره د جلوو بیرغ
ما چی ویل لمر دی د شغلو بیرغ
هسکه غاړه وړي په سهیلیو کی
لکه د ارم د ښاپیرو بیرغ
سوي اسویلی ته می لړ وگوره
دا می دی د زړه د پرهرو بیرغ
پام کوه مغروري چی شهید نه شي
مه می غواړه زړهٔ د فرشتو بیرغ
زه دی یم د مینی د لښکر سرود
تا دی لري حسند آرزو بیرغ
مینه په ټوکرگوره توهین نه کړې
واخله لکه شمه د لمبو بیرغ
ټیټ که یې پرې شوی سر شي مڅکی ته
ټیټ به زلمی نه کړی له اوږو بیرغ
څه ټومبې « پسرلیه » د ښایست په کور
زړهٔ یعنی د هیلو د اسرو بیرغ

۲ - ۸ - ٦٧

د غرهٔ د رود غوندی سر شاراو مستانه وای در تلای
دا واړه لار می په خولهٔ مسته ترانه وای در تلای
چی ابدیت دی را بخښلی تقاضو د حسن
له حسرتونو لمن ډکه زمانه وای در تلای
که د آبشار غوندی په سر هم را لویدلی له غرهٔ
خو چی هر گام ته د لغزش یوه بهانه وای در تلای
له ساړه ژونده می زړهٔ سوړ دی لکه سوی پتنګ
په سرو لمبو کی می د هیلو آشیانه وای در تلای
پیام دمینی به څوک دروړي څه به واوريږ له چا
د خپل جنون یوه مجسمه افسانه وای در تلای
د حسن تږی زړهٔ می غواړی مستی بخښي د عشق !
کور دی بې دره بی دربانه میخانه وای درتلای
په هر محفل کی دی چی حسن تجلا خوروي
مین « پسرلی » دی سینه سوی پروانه وای در تلای

۳ - ۸ - ٦۷

زره غلې غاړی له اسرو درځم
لکه مست سین په خمیازو درځم
مزل د مینی بې لغزشه نه شي
لکه بیړۍ په ښوئیدو درځم
د عشق پیریانوته غزنی لا څه وي
لکه باد وړی په توپو درځم
نه وي مجنون چی سر او پښې پیژنی
کله په سر، کله په پښو درځم
وطنه بیا دی راته غېږ پرانیزه
چی لکه زاڼی په نغمو درځم
څو به د سترپو اندیښنو په مرسته
زه لکه غل په نیمو شپو درځم
لکه « پسرلی » د اوښکو ژی په غاړه
په ژړیدو په خندیدو درځم

٦٧ - ٨ - ٤

په باغ و بڼ کی تولومه رژیدلې پاڼی
د بې قدرۍ تر پښو دی لاندی نه شي ښکلی پاڼی
زه بلبل نه یم چی لوستی نه شي د حسن کتاب
گله رندو ته غوړه دا نا لیکلې پاڼی
زړونه دي ، بیل مه شه له حسنه ،تا ته ولی ښکاري
په نری باد باندی له څانگو الوتلې پاڼی
چی د ځوانی په مدرسه کی څومره شوق و ربه
بیا بیا می غواړی زړه چی لوستی می لوستلې پاڼی
بهار گلونه په ډاگونو باندی وغوړول
د ژوندون مني هم بیځایه وښیندلې پاڼی
خپل معنویت دی چی ښایست ته تقدس ور بخښي
د تمباکو پاڼی به څوك گڼی سپیڅلې پاڼی
د « پسرلی » غوره هدیه ده که یې ومنی حسن
لکه ریدي د زړهٔ به وینو رنگیدلې پاڼی

۸ - ۱۰ - ۱۳٦۷

چيری د بلبلو هغه سنکلی فریادونه
او چيری زموږ سويو الیيلی فریادونه
د پټی خولی ژړا خو زموږ هم خونبه وه شمې
د زړهٔ په سر اغزي شي نا وتلی فریادونه
نه زور لرم د تالندی چی هسك په غوږو کوڼ کړم
نه اوري څوك د سويو زړونو غلي فریادونه
که بیا را وریدلو څه طوفان به وي په مځکه ؟
د ورو غوندي له جبره بر ختلی فریادونه
هر څوك چی څه کرې هغه ریبي دغه متل دی
یوه ورځ گوندی چی وریبو کرلی فریادونه
تنور چی څومره سوړ وي هومره غونبه پوری نښلی
په سوی زړه مې گرم نه دی چی نښلی فریادونه
نه شمیر شته د غمونو ، نه حساب د الهونو
د ستړي سیڼ په خوله کی چا گنلي فریادونه
ایکاش د زړهٔ تناکو ځایولای « پسرلیه »
یاسونو دغه بیرته تمبولی فریادونه

۶۷ - ۱۲ - ۵

پېښور -

چې په ورېږ خولګۍ یې روح د بهارونو ناځي
زړه مې په خواکې د حسرت په انګارونو ناځي
چې مې په ذهن تصور د خورو زلفو شي خپور
حواس مې درست نغمه نغمه شي په تارونو ناځي
د هسکې ونې تصور دې له پښو مه وولیږه
د ګلو وږم د جنت په منارونو ناځي
د مینې بزم دې سوړ مه شه ، دلیدو جوګه وي
لیونۍ ځړیکې چې د زړه په پرهارونو ناځي
په تخیل مې دې وریږه تل د حسن جلوې
د مازدیګر زرې وړانګې په چنارونو ناځي
د مرګ او ژوند پولې چې ګډې نه کړي مینه نه ده
د سر فرازو لوړ سرونه په دارونو ناځي
د هیلو کور کښې « پسرلیه » تصور د حسن
بلې لمبې د خس وخار په انبارونو ناځي

۶۷/۱۲/۳

چی گل شندي د حسن په پالنگ نوبهار
را واړوی د فکر په سر بنگ نوبهار
زه مست او ليونی شم وهم پل دی په صحرا
تا کښېنوي د زړونو په اورنگ نوبهار
که ستا د حسن رنګ يې په زړه اور نه وی بل کړی
گلونه څه را باسی په هر رنگ نوبهار
چی هر پلو غزيږی بې اختياره لکه سيوری
را ويښ کړه د بنگرو په بوه شرنگ نوبهار
نور هر څه يې پوره خيژی په کانی د ښکلا
په شوخ نظر دی ليز کړه شوخ و شنگ نوبهار
له ډيره طراوته وانبه نه دی بوټيدلی
برسيره کړد مځکی د زړه زنگ نوبهار
له شرمه دی د حسن سره اوړی سور او شين
په گونگو سترگو گوری درته گونگ نوبهار
پخلا دی وه درست عمر له جلال سره جمال
سوما روزی په غيز کښی د سالنگ نوبهار
د هيلو د سحر خوږه نسيمه څه شوی څه؟!
بی تا کړم تر غوټيو په زړه تنگ نوبهار
ښايست به «پسرليه» پخې مينی ته سر کيږدی
آخر د غره په غيز کی شی ور ړنگ نوبهار

۱۳٦۸ـ کال

ما چې وي څواني مې په ستنه را تله
ستا په خورو شوندو چې پلمه راتله
لطف یې د نګاه له سده وړی وم
څنګه به په خوله ورته شکوه را تله
درسته شپه مې هیله چورلیده په زړه
خوا ته د سرې شمې پروانه راتله
څومره به ستومانه وې د خیال پری
درسته شپه مې سوي زړه ته تله راتله
سیوری یې د زلفو چې پرې ولویدو
اوښکو ډیوې بلې کړې چې شپه راتله
څومره خاطر خوا ه یې ایښود پل په ناز
ما چې ویل سر ته مې نشه را تله
خوب مې لید « پسرلیه » ځې راځې ښکلې
څومره چې کیدای شي ښایسته راتله

٦٨ - ٢ - ٩

——— - پيښور

گلونه چې له شوقه په ورېل غوړوي غېږ
زخمونه مې بېواکه يو په بل غوړوي غېږ
منظوره وي د ښکليو ، د مين سيه روزي
د ناز ښکلې ليمې چې په کجل غوړوی غېږ
د وصل تصور چې مې په ذهن شي را خپور
د لمر زري وړانګې وی په کابل غوړوي غېږ
دژوند يو واقعي فلم که ګورې څه چې ځو
يو شور دی دمرغانو، په ځنګل غوړوي غېږ
چې څومره وي سرکش حسن هم هومره وي لطيف
موجونه د ساحل په شګو تل غوړوي غېږ
تاوېږی را تاوېږي ، زغمی سل پريشانۍ
په ښکليو خپلی زلفی هم په چل غوړوي غېږ
چې زړهٔ مې لکه سيوری په سينه ورښويوم
ملکی يې د حسن په درشل غوړوي غېږ
عالم حسن پرست دی د مجنون غم لری څوك ؟
په کومه سپيره دښته به يې پل غوړوي غېږ
قربان له داسی مرګه د شاهانو زندګی
چې حوری د جنت دی په مورچل غوړوي غېږ
اخر به « پسرليه » سره حل شي نازونياز
يقين هم کله کله په اتکل غوړوي غېږ

۶۸ - ۲ - ۱٤

—— - پيښور

په مست نظر کې یې مستي د آبشارونو اوړي
ښکلې موسکا کی یي ښکلا د بهارونو اوړي
زه دی لا لوګ ګودر کښې لارې د راتلو څارمه
د لمر وروستۍ پلوشې هم تر چنارونو اوړي
د لاس او پښو خاونده هڅو ته خنډونه څه وي ؟
چې را ولیدلې سیورې هم تر دیوالونو اوړي
په غم مې مه عادت کوه که وارسته مې شو زړه
وږمې یو شان په ګل وبرګ او په خارونو اوړي
زلفې یې داسې لبالب دي د ښایست په نغمو
چې بې زخمې یې د نغمو موج له تارونو اوړي
ورته یو بل نوم چیرته ګوره په قاموس کی د درد
د زړه آزار مې یاره نور له آزارونو اوړي
« پسرلیه »مات دې مه شه مینې کښې د خیال وزرونه
چې د عقاب غوندې آسان تر حصارونو اوړي

۱۷ - ۲ - ٦۸

چی خوله می په سوال هم په جواب ماته شوه
بې جرمه ملغلره په خپل آب ماته شوه
ما وې چی بیا به نه کوم د حسن بندگی
زر ځلی می توبه په دې ثواب ماته شوه
آرزو می زړهٔ کښې غوټه شوه چی مُسکه دی شوه خوله
نغمه وه د دریا چی په گرداب ماته شوه
که هر څه دی اوبه دي ، په اوبو الوزی خوب
نشه د تخیل می په شراب ماته شوه
په مینه کښې تاوان وي اصلي کته ، سمندر شي
پیاله که په دریا کی د حباب ماته شوه
د مینی پتنگان دی په لمبو مه ویروه
بیړۍ نه ده څپه که په درياب ماته شوه
د ژوند تنده به خضره شي د ژوند په اوبو ماته
که تنده د لار ورکو په سراب ماته شوه
دا سپین ویښته تر سپینو تروو نه وو دومره کم
پیري راغله ، نشه می د شباب ماته شوه
زما سوی خاطر ته چی یې وکتل « پسرلیه »
خوله د خجالت په اوم کباب ماته شوه

۶۸ - ۲ - ۱۷

——— - پیسور

ورك مې د سوی زړه آرام دی ته به کله راځې ؟
خوب مې د سره دوزخ په بام دی ته به کله راځې
نازکو څانګو اړولې تر دیوال سرونه
د ونو ، بوټو درېسې پام دی ته به کله راځې ؟
راځه تیرېږي د بهار مستی بخښونکې ورځی
د هر ریدی په لاس کی جام دی ته به کله راځې ؟
د مازدیګر د زیړي لمر پلوشې وزغوه
د هر ضمیر دغه پیغام دی ته به کله راځې ؟
غوټیو پرېښوده موسکا ، بڼ دی وحشي غوندی شو
هیر دي له زړکو نه خرام دی ته به کله راځې ؟
پلوشو ونغښتلې پیڅی ، نظر لار ورکوی
په لوګ ګودر تیاره ماښام دی ته به کله راځې ؟
د « پسرلي » روح روانه ، پسرلی وګوره
د پسرلی هم آن تمام دی ته به کله راځې ؟

۶۸ - ۲ - ۱۸

دا دوه عالمه کار او مختصره زندگی
خو حیف چی بیا هم تیره شي هدره زندگی
که سل پیړۍ هم وی چی نه دی کور وی نه دی اور
د لمر غونډی به څه کړم در په دره زندگی ؟
بس یو قدم کافي دی چی یې واخلې مردانه
چی زده کړی څوك په عشق کی له شرره زندگی
اوبه د ژوندون نه غواړی د مینی شهیدان
را اوری یې د گور له بام ودره زندگی
په درست عمر یې نه کړمه چی یوه لمحه خوشحال
پروا می څه که لاړه مروره زندگی
په خپلو اوښکو وینو چی محفل ته بخښنو نور
د شمی غونډی راکړه ربه غوره زندگی
« پسرلیه » راته ښکاري د وفا په افسانو کی
د هر چا له ژوندون څخه بهتره زندگی

۱۹ - ۲ - ٦٨

——— - پیسور

زړه چی له ښکلیو مهرو مینه غواړي
د سپین مر مر له رګه وینه غواړي
فرهاد هم غواړي له عالمه هغه
څه چی په غرونو کی شیرینه غواړی
چی د لیلا کیسه زړه شوه راځه
جنون اوس تانده نازنینه غواړي
محفل مو نغښتی په تیارو کښی حجاب
د سپینی شمی خبر سپینه غواړي
که لذت نه مومي له غمه خلك
د نی نوا ولی حزینه غواړي ؟
چی تر لیمو یې وي په شونډو مین
د میو کیف له انګبینه غواړي
ښکلي هم وي ښایي د حسن تږي
چی می آرزو د زړهٔ حسینه غواړي
را ته ناصح بیځایه خولهٔ وچه کړه
ساده آرام د غره له سینه غواړي
په بتخانوکښی د خیالونو «پسرلی »
د رزه توته د زړه له پرینه غواړي

۲۸ - ۳ - ٦۸

- پیښنور

له زړه نه چی زخمونه پیڅی نه شي ټولولای
له زخمه هم دردونه پیڅی نه شي ټولولای
د مینی له مستانو څه ادب غواړئ ، څه فکر؟
نیزونه دی ، نیزونه پیڅی نه شي ټولولای
نسیم مگر دتا د راتلو زیری باندی وکړ
په څانگو کی گلونه پیڅی نه شي ټولولای
د مینی وفادار خو څه مختوری سیوری نه دی
له دره دی سرونه پیڅی نه شي ټولولای
حواس می خوروی درته کمال د نازکۍ
نگهت شي ، نگهتونه پیڅی نه شي ټولولای
له تاره لټیدلی نغمی نه کښېنی پو تار
بیځایه چی شي زړونه پیڅی نه شي ټولولای
ایرې به می هم وړینی چی ځی به هری خواته
په مړینه هم اوروونه پیڅی نه شي ټولولای
که هر څو « پسرلیه » ورته زړه را ټولومه
په خوله کښی می عرضونه پیڅی نه شي ټولولای

٦٨ - ٤ - ٢

راحهٔ د حسن تقاضا هیره کړه
ښکلي سپیڅلي استغنا هیره کړه
یو څو لمحې په جنون بخښی نگاه
له مخمور انو نه صهبا هیره کړه
بیا را ته روایه د مینی سبق
چی د ژوند توریو می معنی هیره کړه
د شنې لمنی د شنه زړهٔ په خاطر
له مستو زرکونه خندا هیره کړه
لیلی صحرا ته ویوست خپل لیونی
تا له هوسیو هم صحرا هیره کړه
ستوری سپوږمی په نگاه وتخنوه
له توری شپې مو غزیدا هیره کړه
سحر وجادو و که ښایست د نظر
زما له زړهٔ یي تمنا هیره کړه
چی راځی ناز ته دی هم مه وایه څه
عشوې دی پریږده او ادا هیره کړه

واوښتې با خاوری د « مجنون » په مخ
نه ښکاري څه دوړي د هامون په مخ
واړه ژوند چی مست یم د « شیرین » په خیال
بخت می را وینښ شوی د « ګلګون » په مخ
لمر ته لړ پلو له مخه واړوه
ویې وله وړانګی د ګردون په مخ
شرم یې د آرزو په اور اوبه شندي
ناز یې تودوي ورته اورتون په مخ
نورو پسې تګ سړی خړ مخی کړي
ګرد د لاری وګوره د شپون په مخ
ښکلې په موسکا څه تولوې زړونه ؟
څوك به درته نه بخښی خپل خون په مخ
خپل تیري « پسرلیه » د سیلونویې
خاوري اړولې د جیحون په مخ

۲۰ - ٤ - ۱۳٦۸

اوښکو ، پښې درنیسئ وخت د غم نه دی
عید یې د دیدن دی محرم نه دی
شمې ، که سیالي د سوځیدلو وي
دا لیونی زړهٔ هم تر چا کم نه دی
هر بوالهوس مه گڼه محرم د ناز
هر په زغرو پټ گوره رستم نه دی
هر زړهٔ ته الهام د مینی نه ورځي
هر سړی چې جام ولری جم نه دی
دلته چی نه پور شته ، نه دیت ، نه تور
چا ویل د مینی بل عالم نه دی ؟
اوښکو ته می مه گوره په سپك نظر
شمه ویلی شوې ده شبنم نه دی
پریږده د « پسرلي » زړه درته وچوي
مه کوه ترې سترگه گوره بم نه دی

۲۱ - ٤ - ۱۳٦۸

درده ، په خوله باندی می کیږده یوه نوې دوعا
چی نیمه خوا راته ښکاریږی وزر سوې دوعا
د استغنا په لوړ درشل به یی اوس څوك ومني ؟
د حسرت کور ته په ټیټو سر را ستنه شوې دوعا
تشی خبری به د خوږین زړه ترجمانی شي څه
مگر له ځانه سره واخلي وینی زوې دوعا
کمکی ملکی دی له خوبه باندی وایستلې
تر عرش می کرځي هره شپه لکه بزوې* دوعا
د زړه د پرین آستر یې بویه که هرڅو ښکلی وی
« پسرلیه » ډیره لږ قبلیږی یوه ستوې دوعا

---

* بزوي یو ډول گیدړ ته وایی .

۶۸ - ٤ - ۲۲

دا ذهن او زړهء ته ګلفروشه راځي
چې د ګل بوی مې له آغوشه راځي
له ما يې څه پوښتې انداز د خرام
دوه غرونه ها پلو له هوشه راځي
څه به مې وګوری قطرې د اوښکو
چې لکه بحر دریانوشه راځي
چې راځي مځکه آسمان ولرزوي
د ژوند نغمه کله خاموشه راځي
« پسرليه » کسي سپيلني کړه ورته
چې لکه شمه شعله پوشه راځي

۶۸ - ٤ - ۲۲

بیگاه یې بیا د نازله اوجه کتل ما ته حسن
تلپاته مینه جاریدله تر تلپاته حسن
لیلی د زړه پردو کښې ونغاړي د مینې پیرزو
مجنون لوڅ سر لوڅې پښې وباسی صحرا ته حسن
چې هره خوا ځی ورپسې وي یو عالم د زړونو
له لورینی اول مخ واړوی چا ته حسن ؟
لکه سپوږمۍ ته چې ښکاره شي د بهار ګلونه
د حسن خیاله را ښکاره کړه هرې خواته حسن
شوخی د ناز یې د ښایست تر پولی هم اړوي
زلفی یې شا ته واړولی ، پریږدی شا ته حسن
زاهده دیره بې پاسی ده که یې نه وغمانځی
چا چې له ځان سره راوړی وی دنیا ته حسن
یو عمر فکر او فرصت بویه چه یوه غوره کړم
که می زړهٔ پریږدی یوې سپیڅلې تمنا ته حسن
پوخ تخیل هم عشق ته ورو ورو بې نیازي وربخشي
که بال و پر شي ورکولای استغنا ته حسن

۶۷ - ٤ - ۲۷

بیا به را رونه کړی دنیا بل سحر
زړي آخر د شپې په غولي پل سحر
ربه د برېښنا په څل خو پریوتو
غوارړو لکه ستوري درنه خپل سحر
شپې هم کله کله وی تر ورځو ښې
را دی شه ، (خو ژر نه) په وربل سحر
وګوری د لمر د مینی تندی ته
خوله یی زړی د حسن په درشل سحر
حسنه تصور دی جنتی کړمه
شپه یې د پغمان وي د کابل سحر
څوك به له دې هسکه د ښو تمه کړي ؟
اړوي په تور او په سپین تل سحر
پست چی وی ذهنونه رونیدای نه شي
څه به کړی « پسرلیه » د سین تل سحر

٦٨ - ٥ - ٥

له غمه به هغه دم څه آرام پاته یم
چی خوا کښی د دك خم لکه تش جام پاته یم
درست عمر می غم نه دی سپیدو ته زړه ورکړی
بیا هم لکه دیوال د بتی خام پاته یم
د لوگ گودر په غاړه لکه مات گړی د چتو
بی وسه تاریکی ته د ماښام پاته یم
نظر چی کړم په ځان ، هم په زمان او په مکان
دهیلو یو بیځایه ایښی دام پاته یم
یو ځلی خو له ما وکړه اوله بسم الله
له ویشه دی ساقي گوره مدام پاته یم
د ناز نازکی نشته چه په پانو کښی د گل
په خیل د بلبلانو کی گمنام پاته یم
« پسرلیه » د ویشتلي صحرایی مرغه په څیر
یواځی د یو ورك ستوري په بام پاته یم

سنبله - ۱۳٦۸

دا چې د محفل په تنکو زړونو نظر وتومبی
شمه ورته سوی زړه ناچاره په سر وتومبی
خدایزده چې را پورته کړی بیا سر په اتلانو کی
دا د ښکلا شل که د رستم په ځگر وتومبي
بیا که سحر خیزه ، گریوه چاکه را ښکاره شوله
گل د پلوشو به په گریوان د سحر وتومبی
لاس که د سحر نسیم ته ورکړي بوی د زلفو يې
هر د زړه ازغی به می په سانگه ثمر وتومبی
ستا د التفات یو تصور به باندی ورنه کړم
هسك که مې نشان د لمر په سوی تتر وتومبی
هر ځل چې یې شوخ لیمه لوبیزي له ښو سره
یوه کوته ازغي می د آرزوپه پرهر وتومبي

۱۳٦۸/ میزان - پیښور

د وصل تخیل چی می په سر کی نڅیدو
توفان د پلوشو په سوی لمر کی نڅیدو
جذبه یې د ښایست وه که یې شور د محبت
چی زړه می اباسین شو په سفر کی نڅیدو
په زغ یې د راتللو چی می خپل زړه ته کتل
سپند د نظر ماتې په مجمر کی نڅیدو
د ناز له نازکیو به می زړه ته څه سپارل ؟
د مست طاوس په شان می په نظر کی نڅیدو
بیګاه چی می نګاه په زخمی.زړه وهلې ګوتی
یو خوږ خوندور درد به یې پرهرکی نڅیدو
خیال می څپ څپاند شو په نری‌موسکا له لری
توفان په بیکرانه سمندر کی نڅیدو
شاکي نه و، هوس د بیاوژلو و راوستی
« پسرلی » چی کفن څیری په محشر کی نڅیدو

عقرب / ۱۳٦۸- پیسور

تر خوا پوری یې څومره په هوس ځم او راځم
روان یم شپه او ورځ لکه نفس ځم او راځم *
حاصل به مې نور څه وي د ژوندون که خوله کړم پټه
د بل په اراده لکه جرس ځم او راځم
په هیځ نظر هم کله راته ونه کتل ښکلیو
دباد په نیلي سپور چې لکه خس ځم او راځم
د مینې لیونی یم را نه څه غواړئ کرار
کړې شپه دی تر کوراوکلي بس ځم اوراځم
دا تش کوګل ولاړیم چې په لاره کښني د ښکلیو
په ورك زړه پسې ګرځوم قفس ځم او راځم
د مینې اندیښنو څومره تنها کړم « پسرلیه »
خپل کورته هم مدام لکه بیکس ځم او راځم

---

* ـ دا مطلع د پارسي شاعر « کامي سبزواري » له دې مطلع څخه ژباړل شوې :

« بسکه سویش بهوس می روم و می ایم
روز و شب همچو نفس می روم و می ایم »

۶۸ -۹ - ۵ - پیښور

چی زه اوته وو، دسین غاړه وه ، اوښکلی بهار
تل می تر سترګو سترګو کیږي ، هغه تللی بهار
چیری ته ، چیری د ګلونو مصنوعی ښونه
هره جلوه دی ده یو ځانته غوړیدلی بهار
مه راته غواړه همه عمر دلسردی د خزان
راوله ، راوله نن بیا تر لاس نیولی بهار
ښایی بهار دی هم لیواله وي شپني ښنبتني!
په غزونو ، غزونو چی راغلی بهار
د حسن لمره پلوشې دی باندی وغوړوه
ما درسته شپه درته په اوښکو لمبولی بهار
ته به د نورو نیازمندو خوا ته څه وګوري
چی هر پلو وی درته ګل په ګل ټومبلی بهار
د « پسرلی » روح روانه بن ته روح وبخښه
بې له تا څه کړم لکه خپل زړه الیبلی بهار

۳۰ - ۹- ٦٨

پیښور

توبه مې چې مستي کښې د شباب ماته شوه
مینا د نور په ترخ کښې د مهتاب ماته شوه
په کومې میکدې کښې به د غم ورځې تکم
نشه مې چې د خپل زړه په خوناب ماته شوه
ورباسي به یې چیرته له عدمه پرته څوك ؟
بېړۍ مو چې په غیږ کښې د ګرداب ماته شوه
سرکش فلك به هم شي پشیمان له خپلو کړو
خوله د خجالت که په سیلاب ماته شوه
قسمت که غلیم نه وي د سپیڅلو زړونو ولې
سپیڅلې ملغلره په خپل اب ماته شوه
رك رك مې نغمه خیز وو خوږنونه یې لوګی
تنکۍ نغمه له لاسه د مضراب ماته شوه
سیاست دی چې رستم هم کړي مغلوب د واهي کین
د چا د شنه په زړه کښې د سهراب ماته شوه
زموږ په وچو شونډو ګوندي شیخه شي خبر
مینا که دې په پښو کې د محراب ماته شوه
چې لارو « پسرلی » هم نه څه مات شو نه څه توی
بس یوه ستړې څپه وه په دریاب ماته شوه

قوس ـ ۱۳٦۸

ــــــــ ـ پیښور

زما به هم پرهر په پرهر پیټی شي
سیوری که د سیوري په سر پیټی شي
مینه به یې زه هم په سر بوج گنم
چیرته په صدف که کوهر پیټی شي
غرونه د غم کوره د مین په زړهٔ
حسنه چی په تا یو نظر پیټی شي
اوښکو می تالا کړی د دیدن خوښۍ
ستوری د ماښام په کودر پیټی شي
اوړي هوښیارانو ته تل خپل خلك
پوخ چی شي په څانگه ثمر پیټی شي
داغ چی یې د مینی قبول کړی وي
سور مدال په هغه ټټر پیټی شي
پورته ځي « پسرلیه »چی بې آبه وي
نم هم د پوټي په وزر پیټی شي

حوت ـ ۱۳٦۸

ــــــــ - پیښور

زړهٔ له امیدونو لکه ډکه پیمانه غواړم
سترګی حسن بینی او دمینی خزانه غواړم
شور لکه د غرونو د سیند بویه نه مستي دمی
ټول عمر په خولهٔ باندی یوه مسته ترانه غواړم
خوب وخیال شي ژوند چی حقیقت نه وینیٔ نه اوري
خوب چی رانه واخلي یوه داسی افسانه غواړم
سر چی یې له جامه را اوچت کړی د سوما بوټی
بیا د هندوکش په خوا کی هغه میخانه غواړم
بل زړهٔ می له شمو رڼا نه غواړی په شپه کی هم
خواته د مړی شمی وزر سوې پروانه غواړم
وامی خیستل ایښی خلي بیرته چنارونو نه
ځُم لکه پتنګ په سرولمبو کی اشیانه غواړم
پل د ورك مجنون وهم « پسرلیه » په پرته صحرا
چا چی پیژندلی وځان ، هغه فرزانه غوارم

۶۹ - ۱ - ۱

راځي چمن ته د ښايست د کاله غړی بهار
راځه راځه چې بې له تا ښکاری نیمګړی بهار
زموږ ارمانونه به هم ګوری څه ګل راوړي که نه
زرغونوی چې هر بیحسه ویده زړی بهار
ګمان می نه شي چې لمن به راوړی سره ګلونه
ګلونه نه دی په تبي‌راچوی غړی بهار
د ګران وطن لاری وختونو کړی اغزنی همه
کوم یو اغزی به له پښو کاږی په زړهٔ سټړی بهار
موج د ګلونو ته په تمه وو« پسرلیه » خو حیف
د زړهٔ نیمښوره تسل هم را څخه وړی بهار

۱۳۶۹ / جوزا

ـــــــ - پیښور

توری توري وریځی چی اوړي د ګلشن په لور
سنتنې می د صبر کړي ړنګی د وطن په لور
سیوری یې د وره ښه یم ما ته د تلو مه وایاست
مست یې د کا کل د بوی نه ځی د ختن په لور
دام و دانه څه حاجت ، ور د قفس پرانیزه
خپله خود آزاره زړه درومي د دښمن په لور
ژوند د ژوندو جرم دی چا له خاورو پاڅول ؟
مړي په اوږو اخلو وړو یي د مدفن په لور
دی چی را ته وکتل بیا په نا اشنا نظر
ما چی وې را کښېوتې زرکی د لمن په لور
موږ د زړه له غوښونه چوړه کړه پری د ناز
دریغه چی شیرینه اوس نه ځي د کوهکن په لور
خیر که منیژه نه شوې نه ژاړي بندي « پسرلی »
تشه تسلي خو وړه کله د بیژن په لور

٦۹ - جوزا

ستا نه په لطف نظر نه غواړي څوك
مستی کوکچې نه په زر نه غواړي څوك
په زړهٔ می ناسته ده قاصد څه پوښتم
په کور کی ورکه بهر نه غواړي څوك
ړوند یا ویده که رڼا نه شي لیدای
نور له ملا نه سحر نه غواړي څوك
آه و فریاد بدوي رنګ د مینی
له شمی دود او شرر نه غواړي څوك
له هر چا مه غواړه وفا د مینی
په هر تالاب کی ګوهر نه غواړي څوك
زارهٔ پسولونه دی کړه ناز نه لوګی
جنګ ته اوس توره سپر نه غواړي څوك
تخت طاوس هم پردی کیږي اخر
ولی به زړونو ته ورنه غواړي څوك
« پسرلیه » څه تخنوې طبعه په زور
له وچو څانګو ثمر نه غواړي څوك

۶۹ - ۵ - ٤

پیښبور -

بیگاه چی زړه گمراه کړم د رهبر کره می شپه وه
چی شپو پیغی تري نغښتي د سحر کره می شپه وه
ساقي وم خوشی کړ ی د شفق په جزیرو کی
د هوش له ښاره لری ، د ساغر کره می شپه وه
توفان وو د سازونو ، د شعرونو د رنگونو
نگاه چی لیونی کړم د هنرکره می شپه وه
خیال یي کړولم لکه کب د سین په غاړه
چی لری له دلبره د دلبر کره می شپه وه
د زلفو تصور یي چی زما په ذهن خپور وو
په مشکو کی ویده وم ، د عنبر کره می شپه وه
چی شوق یي د سپین مخ په خپلو اوښکو پرېمنځلم
له پرخو سره لاړم او د لمر کره می شپه وه
جنون له شوراو شره د سیپی زړه کی کړم غلی
رون ځاځکی وم د مینی د گوهر کره می شپه وه
کری شپه د فکرونو توفانونو زنگولم
یواځی پاته قو وم سمندر کره می شپه وه
« پسرلیه » له فراقه به یي نور څه درته وایم
له ځړیکو سره مل وم ، د پر هر کره می شپه وه

٦٩ - ٥ - ٤

پیښور

قدم چی چیرته اخلم پل په پل دی یادوم
د سپَین غوندی غنگی وهم او تل دی یادوم
گلشن کښی که هم کرځمه مقصد می ته یې ، ته یې
بورا دی کړمه مینی گل په گل دی یادوم
بیگا می لید د مینی د وفا اجر په خوب
په خُلد کي یم د حورو او درشل دی یادوم
پیوند دی لکه میخ چی په تختك وهلی کیږي
هر ځل تر پخوا تینګ شي چی هر ځل دی یادوم
تر اور به سوځونکی لوگی نه وي چا لیدلی
په زړه می سور اور بل شي چی اوربل دی یادوم
وطنه یادوم دی په هر نوم په هر عنوان
فرخار دی یادوم او که کابل دی یادوم
په ذهن کی می یو بهار ریدي شي گریوه چاك
شهیده چی په وینو سور مورچل دی یادوم
د مخ تر ښکلا ډیر کم نه دی حسن د هنر
« پسرلیه » لیونیه په غزل دی یادوم

۶۹ - ۵ - ۷

- پیښور

بیګا یو سپیلنی وم په مجمر باندی می شپه وه
له زړه سره مشغول وم ، په اخګر باندی می شپه وه
یا دغه بدی ورځی ، یا هغه د خم په غاړه
ساقي چی میلمه پال وو، په ساغر باندی می شپه وه
د تا په تصور کی می چی سر په زنګون کیښود
سپین باز وم د پامیر او په سپین غر باندی می شپه وه
له لطفه د خیالونو ویلیدم او تخیدم
شبنم وم د ګلونو په بستر باندی می شپه وه
ته تللي وې خو یاد دی په ما ستوري ورول
د تا نقش قدم وم په ګودر باندی می شپه وه
قربان دی شم له لطفه د خیال چی لکه کسی
د تورو شپو په زړه کی په سحر باندی می شپه وه
د شعر تخیل په پردیسۍ کی جنتي کړم
د تاندو اداګانو په کشور باندی می شپه وه
بر وختم « پسرلیه » چی د خیال په وزرونو
له ستورو سره رغښتم په ناور باندی می شپه وه

میزان ــ ١٣٦٩

پیښور

ستا نگاه هم په محفل کی دومره نه کړم ورتم لاړم
لکه پت ته چی روس شا کړه ، لکه جنك ته رستم لاړم
ته د ناز په چراشپو کی ، زه د هوش له کلي پلی
چی ته لاړې نازنیني ږا ته گوره زه هم لاړم
ستا د وصل له درشل نه د خیال په لمسونه
لکه لاړ چی شي له زړهٔ نه په کوم سبه زیري غم ، لاړم
انتظار له حده تیر شو ، ډیر دی کښیناستم په لارکی
ورو ، ورو مل شوم د بادونو لکه نقش قدم لاړم
آواره او سرگردان کړم بوږ بوکیږغوندی وختونو
د دردونو بیرغ راغلم ، د آهونو علم لاړم
ژوند می څه و« پسرلیه » بس یو تریخ شان تبسم وم
د هستیږپه شونډو خپور شوم ، د مستیږپه کرم لاړم

میزان / ۱۳٦۹

——— - پیښور

چی پسته شونډی یې د نرمي موسکا ناز اخلي
د بوسي تنده د مین د ژړا ناز اخلي
ناویسا زړه می واړه عمر لکه بله شمه
په تیاره ژوند کی بس د خپلی رڼا ناز اخلي
سوی نظر به یې په سرو اننګو ځنګه شي تم
چی یې خپل رنګ هم د معصومی حیا ناز اخلي
تورو لیمو ته که یې سوی زړه رانجه هم کړمه
له نازه رنګه به لا ځنګه دچا ناز اخلي
چی په پلمه ځي تنها کیږي مروره نه وي
پته ، هنداره کی د خپلی ښکلا ناز اخلي
ښایست یوه روح ګنی مین لکه د شاتو مچۍ
په بڼ د حسن کی د هر ګل جلا ناز اخلي
په مستو سترګو کی یې شور وي د غوښتو « پسرلیه »
غمزه غمزه ګوري ، ادا د ادا ناز اخلي

۶۹ - ۹ - ۲۲

——— - پیښور

د مینی هغه لار ده چې همه باندی ښوییږي
د یخ د مخ خوله هم په غرمه باندی ښوییږي
ما څه ګرموې شیخه ، دریابونو ته نظر کړه
چې زړونه یې پاسته وي په پلمه باندی ښوییږي
د سویو زړونو اوښکې په انګې د استغنا کې
قطرې شي د باران چې په خیمه باندی ښوییږي
د پرخو څاڅکی کسه ، د ګلونو بوی ته ګوره
لغزش ته چې پیدا وي په ورمه باندی ښوییږي
که غرونه هم شي زړونه ورته نه شي تینګیدلای
نګاه چې یې له حسنه په سرمه باندی ښوییږي
رګونو کې مې مه غواړه سرې وینی چې تا ګورم
نغمې دې له تارونو په زخمه باندی ښوییږی
« پسرلیه » د الفاظو قوت څه غواړې له مانه
غزلی مې له ضعفه په خامه باندی ښوییږي

۶۹ -۹- ۲۶

پېښور ـــــ

دا که ته نه یې زما سُر او تال ته څوك راځي
چې پینګې ورکړي د فکرونو تال ته څوك راځي
په نیمو شپوکې چې عالم وي په تیارو کې نغښتی
دا پښه نیولی زما ستړي خیال ته څوك راځي
تا په بادو کې د نشو د لذت روح پوکلی
د حسن زور دی په لوی زړه وبال ته څوك راځي
که د ژوندون ښایسته هیلو ته سیمرغ نه وایې
د غرهٔ په خوړو کې پرېښایسبني زال ته څوك راځي
د جنت بڼ به سور دوزخ شي که ستا حسن نه وي
که د ښه مخ له مخه نه وي خال ته څوك راځي *
آرام لوټي رانه « پسرلیه » تصور د حسن
په نیمو شپوکې د شپنو خوال ته څوك راځي

---

* – خوشحال بابا وایي :

« کومه مینه چې په خال په زخه کیږي
که یې ګورې د ښه مخ له مخه کیږي »

۲۹ - ۹ - ٦۹

مي مګر غمونه زموږ پاك په غاړه واړوي
سيل شي يو جهان خلي خاشاك په غاړه واړوي
مست زړهٔ مې خيال د بڼو پورته کړله خاورو نه
لکه چې چيله مست شوی تاك په غاړه واړوي
ناز ليونی کړی هيڅوك هم په کاڼو نه ولي
لر که خپل کميس تر لمن چاك په غاړه واړوي
ښايی چې د حسن په بساط کې يې نور څه نه وي
ګل ولې څادر هسې نمناك په غاړه واړوي
پل در اخله زړهٔ ، په مخ کې شپې د هوسايی لرو
ستړې قافلې چې د مغاك په غاړه واړوي
دار دی د مسيح ، وړل يې په خپلو اوږو زړهٔ غواړي
عشق نه دی پتلون چې يې بيباك په غاړه واړوي
جار دی شي «پسرليه» د چکلې تر ډمې زر څلي
څوك چې په تاودهٔ بازار کې واك په غاړه واړوي

۱-۱۰-۱۱۳٦۹

چې رویایي ښکلا مې یو موټی په غرو کې لیده
د زړهٔ آرزو مې د ارم په ښا پیروکې لیده
د تصور پرده وختونو بده ونغښتله
د جنتونو سر قلمي مې په درو کې لیده
د خپل اختیار هره لمحه مې وه ترې ډېره مسته
کومه مستي چې مې په ټول د میخورو کې لیده
نه د توفان څپو کې شته ، نه د سیلۍ په زړه کې
هغه جذبه چې مې په پلیو ، په سپرو کې لیده
هیلو را پاڅئ مازدیګر چې مې خیبر ته کتل
خیالي ډولۍ مې د شفق په جزیرو کې لیده
درځئ چې را یې وړو تر څو به په تیارو کې پټ یو
د ژوند ډیوه مې په متروکو هدیرو کې لیده
د چنار رغوي ورته وچ شول خو وزمې د سحر
د بڼ ښکلا بس د غوټیو په ځیرو کې لیده
چې هندوکش ته خاوند هر بې لارې شوي راووست
د همت برخه یې د غرونو په زمرو کې لیده
« پسرلیه » څه وشو بیګا چې مې خپل زړهٔ ته کتل
ناویسا هیله مې سر ټیټې په اسرو کې لیده

٦٩ - ١٠ - ٢

ای ، ای د ژوند نشې له ښکلی تاکه مه راځه
یا مسته کړه دنیا ، یا خو بیباکه مه راځه
له لاسه که تقوا د پتنګ نه لاهو کوې
راځه ، خو لکه شمه عرقناکه مه راځه
وحشي غرځنې رنه یې ولی شاوخواته ګورې
د ناز د سبا ستوری یې شکاکه مه راځه
سرونه د ښایست د اداګانو سپیلني کړه
دا چا درته ویلی چې پټولواکه مه راځه
ملا په تور د مینی له اسلامه وایستمه
زما لیونی زړه اوس له ویساکه مه راځه
د صبر سینه مه خیره د ګل غوندی په ما
محفل ته د رندانو ګریوه چاکه مه راځه
که نه غواری « پسرلي ځخه سجدې د بندګی
راځه ، دومره می پورته له ادراکه مه راځه

٢ - ١٠ - ٦٩

شپه ووته گرده ، ولی نه راغله ؟
نه راغله بیدرده ولی نه راغله ؟
ته ورپسی ووځه که یواځې وه
گوره آه سرده ، ولی نه را غله ؟
تل به می ولاړه وه د زړه په بام
نن هغه شبگرده ولی نه راغله ؟
ما وې په ریښتیا به سره وگورو
خیال ته شوم رنګ زرده ولی نه راغله ؟
چا د رنهو ستوریو سر وهلی دی
نه راغله ، نامرده ولی نه راغله ؟
هیلو ورته لاری پوتی کړې وې
تښتی به له گرده ولی نه راغله ؟
څه پوزه یې جوړه کړو درواغو ته؟
ها په حسن فرده ولی نه راغله
نیاز به هم لري « پسرلیه » حق په ناز
وایم چی په زغرده ولی نه راغله ؟

٦/١٠/٦٩ - پيښور

نگاه مې څه دربولي مسکينه ليونۍ شوه
توفان کښې د گلونو گلچينه ليونۍ شوه
انجام به دزړه څه وي ، د دوو ليونو سر دي
څه حسن ليونی و، څه مينه ليونۍ شوه
که خپل زړه مې ورپريږدی اينني به ماتومه
له چارو د هندارو خودبينه ليونۍ شوه
زرين پلاز ته درومی د مينی تخت نشينه
فرهاده ليونی شه ، شيرينه ليونۍ شوه
محفل به دی د حسن روڼ ساتي لکه شمه
د زړونو د رگونو که وينه ليونۍ شوه
دتيزو له رگونو چی غواړی توده وينه
تيشه دی بت تراشه له دينه ليونۍ شوه
نغمه مې « پسرليه » له سُر اوتاله وځي
له زوره د غمونو غمگينه ليونۍ شوه

۶۹ - ۱۱ - ٤

هغه دی یاد شی ، چی ژوندی دی و احساس د مینی
وو لاس ترغاړه پاس د حسن او پاس د مینی
دواړو په مینه د ویالو نریٔ غنگیٔ اوریده
د چنار پاڼو په وزمو تیراوه‌ء لاس دمینی
په هر نظر به دی پر مخ شرم خولهٔ ماته کړه
خدایزده جوهریه وود حسن ، که الماس د مینی
ما درته ډیری سکلي هیلی د زړه ووژلې
چی جنایت ته هڅوي خلك وسواس د مینی
په زلزلو ، په توفانونو نړیدلای نه شي
چی د یاری بنسټ وي ایښی په اساس د مینی
د منارونو ارتفاع له پراته سیوری پوښته
د حسن حد مگر معلوم شي په مقیاس د مینی
په لیونیٔ مینه کی امن د سر نه غواړي څوك
چی تر سیلاب هم وی سر کښ « پسرلیه » آس د مینی

٦٩ - ١١ - ٤

کوچی هیلی می زړهٔ ته را ستنې شوې څه چی څو
لمنی د گلونو کوربنې شوې څه چی څو
آرام می له ویشتلی زړکی واخیستله کړه
چی څړیکی د زخمونو میلمنې شوې څه چی څو
د حسن مستې پاڅه او په زړهٔ می کیزده لاس
لیمې چی دی له خوبه را درنې شوې څه چی څو
په لاره کی یی گوندی د خاپونو غوندی پریږدو
را ویښی می بې لاری اندیښنې شوې څه چی څو
د میو د حلقو غوندی خوری وزمې د باغ
خیالونو ته زرینی څولنې شوې څه چی څو
په شنه لمن کی خوند کوی ټوپونه د وختونو
چی هیلی د « پسرلی » د شپو شپنې شوی څه چی څو

۶۹ - ۱۱ - ۵

بلبله ، که محروم یې د ګلشن له منظرو نه
تر ما ښه یې ، ناله خو دې وتې شي له پنجرو نه
تر تا در رسیدلی تخیل چې را ستنیږي
هغه باد وې چې راشي له سمسورو سر درو نه
زما حواس دې مینې خورول په تا وطنه
ماښام چې ځولولې لمر زرې زلفې له ورو نه
د وصل آرزوګانې په درشل د استغنا کې
وریځې شي تکرې خورې له دنګو دنګو غرو نه
برف کوچ وویل تیزو ته که ښښې خلاصول غوارئ
په سر را لویدل زده کړئ له سر شارو شرشرو نه
د زړه وینې به ځنګه سپموم له مستو سترګو
ساقي نه دې چې وسپموي جام له میخورو نه
« پسرلیه »خپل قلم او خپله طبعه ننګوم
را پاته دي بس دغه دوه له پلیو له سپرو نه

۶۹ - ۱۱ - ۶

سر چې په حلقو کې د دارونو ږدي
ځاله د جنت په منارونو ږدي
راغی تصور د موسکو شونډو یې
داغ مې د زړګی په پرهارونو ږدي
ووایه د زلفو لیونی زړه ته
سر څه په سروېږد د آبشارونوږدي
مه ګوره عشاقو ته په ټیټ نظر
ځالې د تهمت په چنارونو ږدي
ناز یې ولی ستوري تلولي نه کړي
پل چې یې منت په بهارونو ږدي
پرخه پاك ضمیر کړي میلمنه د لمر
سیوری سر په پښو د دیوالونو ږدي
څه ووایم ، څه ، له بېنیازۍ د حسن
لطف یې چې بنیاد دآزارونو ږدی
ناځي مې «پسرلیه» په نازك شعر
مستی نغمې پلونه په تارونو ږدي

٦٩ - ١١ - ٦

څو به دنيا د آب وګل ښکلوي
آخر به ستړي ساه منزل ښکلوي
د امن غاړه که سپيڅلي نه وي
مستي څپې ولی ساحل ښکلوي
کمال د حسن دا دلبر سترګه کړه
څومره نيازمنه شوه سايل ښکلوي
مګر ژوندی شوې خاوری شوې هيلی
پوهی د لارو يې محمل ښکلوي
په خونريزی کی تر چړو نه دی کم
څوك چی لاسونه د قاتل ښکلوي
د برهمن په زړهٔ تياره کړه مذهب
چی حق ته شا کړي او باطل ښکلوي
هغه چی وړي «پسرليه» خولې ته غوټه
زما د زړهٔ غوندی مشکل ښکلوي

۶۹ - ۱۱ - ٦

بیا می د لویو لارو لویی قافلې یادی شوې
زړهٔ می جرس شو، د خیال می مرحلې یادی شوې
د چا د زلفو په حلقوکی می نظر وو نښتی
را ته د ګران وطن د غرونو سلسلې یادی شوې
سحر می ولیدل د لمر د پلوشو تارونه
راته د عشق هغه نازکی مسُلې یادی شوې
چی د غروب نشتر دورو رګونه وپڅییل
په شنو درو کی می د سرو وینو ولې یادی شوې
چی په آرام بحر کی بیا د څپو شور ولګید
په غلغله کی می چوپ شوی غلغلې یادی شوې
د اباسین امواج چی یوڅ بل په څت سپریدل
له ځان ځانی، راته را پیښی معضلې یادی شوې
چی د برسات شیبو په ونو بوټو توی کړی اوښکی
د ناویسا مزدور په تنده می خولې یادی شوې

۶۹ - ۱۱ - ۷

اسرې چې مو د زړه خاورې ایرې شوې څه چې څو
هغه هم لور په لور خورې ورې شوې څه چې څو
تر څو به سپیلنو غونډې ټکیږو په انګار
وروستۍ ریشې موهم د ټمې پرې شوې څه چې څو
له ګوره به د ژوند درنا ته کوو څه
د هیلو ښکلې مېنې مقبرې شوې څه چې څو
هغه رشمې چې سترې آرزومن زړګی وریشلې
افسوس را ته رسیدو غرغرې شوې څه چې څو
د ناز د ښاپیریو زړه پالونکې اداګانې
د ژوند د ونو څانګو ته ارې شوې څه چې څو
هغه ښبتې چې خولې یې د خمونو پټولې
د لویو مزارونو کنګرې شوې څه چې څو
«پسرلیه» ته به څو یې لا د چا په ټمه ناست
کوچۍ هم ایلاغونو ته سپرې شوې څه چې څو

۶۹ - ۱۱ - ۷

د سین په خوله کی چی یوه مسته ترانه اوښته
دژوند نغمې ته ښکلې هیله مستانه اوښته
د غرونو غیږ کی د یوې شنې درې په زړه کی وم پروت
د ځوانی ټک ته زړبودی په بهانه اوښته
هر څه نشه وو له سپوږمۍ مګر نشې وریدې
د مست ساقي په لاس کی ډکه پیمانه اوښته
د بوسې غوستي می په خوله کی پټ پټانی کاوه
ته وا د شمی سرې لمبې ته پروانه اوښته
په بیکرانه کایناتو کی د مځکی کره
لکه د سین په خوله کی ښکلې دردانه اوښته
نریۍوزمې د ګلو څانګی اړولې سره
لکه په تورو ګورو زلفو کی شانه اوښته
په شنه دره کی د فرخار سین لکه مسته زرکه
په شنو وښو کی له مستۍشانه ورانه اوښته
خو چی را ویښ شوم «پسرلیه»د غربت د عمر
یوه بله پاڼه د احساس د دیوانه اوښته

۶۹ - ۱۱ - ۸

نه تنها زما د زړه غومبري سوځي
له شغلو یی د ښایست بغوري سوځي
په سل لارو در نژدې شي بیرته راشي
سبا په خوا کی می د خیال وزری سوځی
دا یی تا راته غوز ایښی څه به وایم
چی په خوله کی می د زړه خبری سوځی
له پتنګ سره طواف د شمو څه کړم
چی د ناز په شمه زړه له لری سوځی
څه ښادی غواړئ د عشق له غمکدې نه
په دی بین کی د هوس سندری سوځی
ګڼی هیلی می لوګی د یوې ادا شوې
د ځنګله ونی چی څو وی ګوري سوځی
دا تر مومو نرم زړهٔ څه ورته ټینګ کړم
« پسرلیه » د عشق تاو ډبري سوځی

٩ - ١١ - ٦٩

علت د بد مرغیو له ما خواره څه پوښتې
باعث د رالویدلو له آبشاره څه پوښتې
هوس د مزله هیر کړ د آرام بستر له ما
یو ن مستی څپې بحره له کناره څه پوښتې
چی ډیر غریزي ډیره ورکوي د امن لاره
ساروانه له دُرا نه ورکه لاره څه پوښتې
له لطفه یې د خپلو عشوو مه در غږوه
قیمت د ملغلرو یی له تاره څه پوښتې
یو مست به د بل مست د مستۍ حال ووایی څه
د تاك د مستۍ وجه له بهاره څه پوښتې
نشه د سرلویی وهی جنون سره ډغره
کیسې د ورانو ځالو له چناره څه پوښتې
هر زږه یوه دنیا ده،د هر چا بله منشا
د زړونو هواداره له هوائه څه پوښتې
طبیبه ، که کوټلیو ته مرهم لرې راځه
نور خوږ د وینو زویو له پرهاره څه پوښتې
« پسرلیه » په غربت کې وطن مه را یادوه
بندي بلبل د حسن له فرخاره څه پوښتې

۶۹ - ۱۱ - ۲۰

د حسن خياله ، دكوترومسته !
دا مړه فضا کړه په غومبرو مسته
ورك ليونى به ځنگه وينى په خوب
چى په بستر اوړي د پرو مسته
غرور يې خاندي په بحرونو پورى
چى شي سيپۍ له ملغلرو مسته
په کاڼو مه وژنئ جذبې د مينى
د غره دريا شي په ډبرو مسته
چى يې ښو ورته سلا کوله
آرزو مى کړه پټو خبرو مسته
را ځه د وصل په خلوت خونه کى
نرۍ نغمه کړو په سندرو مسته
نه تنها ته يي په گيڼو مينه
مسته کوکچه هم وه په زررو مسته
هيلو را پاځئ ، سڼکليو سڼکته کورئ
را غله سرشاره د دلبرو مسته
« پسرليه » سوړ دوزخ به وو ، که نه واى
سپيره دنيا په عشوه گرو مسته

۶۹ - ۱۱ - ۲۲

له سترگو یې سېکاریږي چې محفل سېکلوي درومي
پر مخ پاته آبرو شوه چې سایل سېکلوي درومي
چې ویې وینم هیلې مې له زړه ځخه تر ژبې
څپې د سمندر شي چې ساحل سېکلوي درومي
خیال مې کاشکې جوړه کړي په یوه منزل کښې ساه
په منډو د وزمو غوندې منزل سېکلوي درومي
چې ته ترې جوړه شوې یې هر ستورې د اسمان
د لمر غوندې دنیا د آب وګل سېکلوي درومي
مجنون غریب ور پریږده د سېکلا د کډو میره
د ګرد غوندې یې پیڅې د محمل سېکلوي درومي
د لمر د شغلو کار څه وي په دیر او په حرم
د مینې خاوندان حق او باطل سېکلوي درومي
« پسرلیه » چې راضي یې هرکلي ته کړو د مړینې
تر څو به لا نفس خوله د بسمل سېکلوي درومي

۶۹ - ۱۱ - ۱۲

گناه که وی ، دمینی ده چی خیال ور اړوي
هر دم یې لکه سیوری تر دیوال ور اړوي
د لمر وړانگه که نه شوم چې یې خوله موښی پر مخ
ایکاش هغه شمال وای چی سور شال ور اړوي
لمبه یې د ښایست که ډیره ډیره خوږه نه وی
دا سوی نظر بیا ځنگه فی الحال وراړوی؟
فطرت غواړي انځور کړي یوځ بله ستا په شان
خمونه د رنگونو یې هر کال ور اړوی
ما وي د عشق نغمه به می یو شان ږغوي زړه
د حسن تقاضا یې سُر او تال ور اړوی
اسباب نه وی مطرح تل په عالم کی د اسباب
وریځ تر غرونو چیرته پر او بال وراړوی
د حسن ښکارندویه یې وه مینه د « پسرلی »
رستم ته د شهرت توجه زال وراړوی

۶۹ - ۱۱ - ۲۳

تیری شه ، خوهیری مه شه ، د غمونو شپې اورځی
خدای دی نه راولی داسی د ګورمونو شپې او ورحی
چی زما په سترګی زړه یې یوه لمحه شی د قیامت ورځ
مګر نن سبا زدی پلونه په بمونو شپې او ورځی
څومره بوج یی د درد ونو چی زما په زړه را اینبی
غواړم هومره مبتلا په المونو شپې او ورځی
د ظالم دزړهٔ لهٔ پاره یو عالم کورونه وران کړی
نه وړې شوې ، نه مړې په ستمونو شپې او وررځی
لا تر څو به زخمی زړونه له اوهامو مرسته غواړی
لا تر څو به اړوو په اړمونو شپې او ورځی
چی عدم ته یې راضی کړو « پسرلیه » زړه می غواړی
کاشکی طی شی د بربنبنا په قدمونو شپې او ورځی

۶۹ - ۱۱ - ۲۳

مره اولسونه د قاید ذهن او نظر بدلوي
لکه رودونه چی شگلنو کی بستر بدلوي
ړانده تر مرگه پتی سترگی په امسا پسی ځی
بینا هغه دی چی هم لاری ، هم رهبر بدلوي
که مراد زوز وی له زړو ژرندو هم زوز را وزی
د ژوند نغمه دخوند له پاره هنر ور بدلوي
ملوکه ، بطی ، هیلۍ نه دی د سبکلا سباپیری
وزپسې ځه ، دزړه غوستنې دی ، گودر بدلوي
له مکررو جلوو موړ شومه د لمر او سپوږمۍ
هنر د هغو می زړه غواړی چی هنر بدلوي
څو ځان بدل نه کړو احوال به مو بدلیږي څنگه
چوچونی هم چی را لوییږي بال و پر بدلوي
نه زوړ منطق چلیږي یاره، نه زاړه فکرونه
زیرک زلمی په تاوده جنك کی هم سنگر بدلوي

۱۳٦۹ ــ حوت

مه ولیږ ، مه ولیږ د خیال د شاخسارونو ځالی
د رنګینیو آشیانې ، د بهارونو ځالی
مایوس زړګی می ګرنګونو ته حسرت غورځوی
چی ښاروګانی زدي په دنګو چنارونو ځالی
له هر زړه څه غواړئ جذبه د ناکراری مینی
په لویو غرو کی وي د مستو آبشارونو ځالی
که ستا لیمی دی دنازونو د غمزو آشیانې
د عاشقانو زړونه دي د پرهارونو ځالی
« پسرلیه » تل دی زړه بسیا غواړم په مهر او مینی
تل دی آباد ی وی د ښکلیو پندارونو ځالی

۱۳٦۹ ـ حوت

وښو سرونه هسك كړل ښايي بيا راځي بهار
چې بيا به مرور وی كه پخلا راځي بهار
نه كډی ورلیښلي ، نه چا تیزه مینځ كی ایښي
لمنو ته به ځرنګه تنها راځي بهار
چا وویل چې سبز هم د مینونو له شامته
د وريځو په ډولۍ كي په هوا راځي بهار
څه ساه به يې شي جوړه د باروتو په لوګی كی
مجبور دی د موسم په تقاضا راځي بهار
د زخم تبسم وی ترجمان د سويو ځړيكو
زموږ وطن ته ځكه په موسكا راځی بهار
راتلل يې ښايی بيا هم د حسرت دوړی را پريږدی
نه موږ ورپسې تلای شو ، نه په شا را ځي بهار
د هيلو شكوفې چې وی د ياس زلۍ وهلې
راځی خو زمو خواته نيمه خوا راځی بهار
په زړهٔ باندی می كرځی په راتلو يې خبر نه شم
دا څو كلونه هر ځلی په غلا راځی بهار
«پسرليه»زه يې څه كړم چې وطن د ښاپيروته
رعنا راځی بهار او كه زيبا راځی بهار

۱۳٦۹ ـ حوت

دین او دنیا چی می په مینه کی له خیاله وځی
وره دانه بې تکلفه له غرباله وځي
که د داني وزې مرغۍ لوزه له ځالي باسي
د تا په لته د مین د هیلو ځاله وځی
زه به مورچل د مینی ټنګه په ژوندون پرېږدمه
په بادوریه کی به شپون ټنګه له خواله وځي
د عشق تبجن به له پخلا ښکلې څه خوله وغواړي
خوله می له ډیره حرارته له سواله وځی
خیال د حسن یي را ځي ، زړې می په زړه ګامونه
په کوم انداز چی د صحرا مسته غزاله وځی
که وړی هیلی می تر سره نه شوی غم یې څه دی
واره کبان د ماهیګیر له خپاره جاله وځی
د مخ جلوو ته به یې سد شي د پلو پیڅه څه
چی یې د تورو زلفو بوي هم له سره شاله وځی
مړه ارمانونه می «پسرلیه» ګوندی پورته کړی سر
چی پسرلی شي او بیدیا ته جنون پاله وځی

۱۳ - ۱۲ - ٦۹

ماسکه ویل زه به یم او نه به یم او تل به یم
نه ومه خبر چی په روانو شګو پل به یم
سوځم او دا سول می چی سرور وربخښی نوروته
لاس کی د اطفالو د برات دشپې مشعل به یم
دا خواره واره حواس زما که داسی رسم شي
څه به یم ، د باد په مخکی سیوری د اوربل به یم
ژوند به زموږ څه وي په وسعت د کایناتو کی
بس د بارانی شپې لیونۍ بریښنا یو ځل به یم
خولې نه چی غاښونه ووځی دور یې د کمال کړو
درست وجود که ورزیدو ښایي مکمل به یم
زړه می دی صدف او د آرزو له ملغلرو ډک
پټ په توفانونوکي د لوی سمندر تل به یم
مه می نیسئ ، پری می ږدئ په ښار د مجرمانو کی
غل نه یم ، که غل هم یم د تاندی بوسې غل به یم
حسن وعشق که یاره د ادا په لمسه وویشې
ګرځم به له تا خو د مجبوري مینی مل به یم
څه یم «پسرلیه» چی خپل زړه او خیال ته وګورم
غوټه د رازونو ، د فطرت دګوتو ول به یم

١٣٦٩ ـ حوت

غمونه چی سر واخلي پښې د زغم وښويوی
چی واوره را ښويېزی کاڼی هم وښويوي
په يوې ښويه نگاه دی سترگو ډيردی ښويولی
را واړوه ليمې چی زړونه سم وښويوی
هر موج چی پښه د بل په سر ورايښې ښويدلی
تيری په هغه هومره لوبی يم وسڅوی وښوی
ستا مينی ته به بيا گورو چی څوك وايي لغزش
پلو له مخه واخله چی عالم وښويوي
صحت کاشکی ساري وای خو مرض دی اخيستونی
ابليس چی ښويدلی وی آدم وښويوي
راوړي می نن بيا ده ميخانې ته لويه هيله
که لطف دساقي را سره غم وښويوي
آخر به يو ساحل د امن هم وي « پسرليه »
بيړۍ که می نيزونه دم په دم وښويوي

۱۳٦۹ ـ حوت

شیلی تصور دی بیا له لری ځي راځي
له زړه نه می تر خولې پوری خبری ځي راځي
د مچ او د میږي نه وی له شمو سره کار
خلوت ته د مین په زړه خبری ځي راځي
هر چاته د زړه وینی نه بهیری لکه اوښکی
دی بر گودر ته مستی عشوه گری ځی راځي
د ناز له لوړو څوکو چی می اخلی مینه زور
د ساه هری څپې سره سندری ځي راځي
د هجر په بیدیا کي هم مطلق نه یم تنها
تر تا پوری د خیال ښکلې کوتری ځي راځي
له ځوانو ارمانونو سترگه نه کیږی د ښکلیو
که زړه ته وی ، که خیال ته ، یوه ځړی ځي راځي
« پسرلیه » لابه کومه خوشحالي کړی سر را پورته
چی زړونو ته مدام د غم لښکری ځی راځي

۱۳٦۹ - حوت

چی بیا یې در لوګی کړم زړه به بیا وی که به نه وي
د ژوند د نی په خوله کی به نوا وي که به نه وي
چی ځې نو له فریاده خو می مه منع کوه
د نور د قافلو به هم دراوی که به نه وی
سر توره چی ماښام لکه لمر وختلې بام ته
د ستوریو په عالم کي به غوغا وي که به نه وي
دژوند پاڼی بې لوستو اړوم په دغه فکر
چی مرګ به د بل فصل ابتدا وی که به نه وي
څه وګرځه زما د خاطراتو په کوڅوکی
د ناز و ادا ښار به دی بسیا وي که به نه وي
چی زړونه شي پرې ټول د مزاحم فکر په رغم
د مینی په محفل کی به مینا وي که به نه وي
سبا سبا کوې ، سبا به هم شي ، نه پوهیږم
چی بخت به می له وخت سره پخلا وي که به نه وي
د شپې په لړمانه کی می د ګورم غوټی چاودلې
«پسرلیه» چی سبا به مو سبا وي که به نه وی

۱۳٦۹ - حوت

ژوندون وايي نعمت دی عدم داسی وګنه
که دیر د مینی کور دی ، حرم داسي وګنه
د میو په تندی کی چی وي څومره نشه پته
په مینه کی د حسن ستم داسی و ګنه
د ورو څرپی چی څنګه تنکی بوټی کړی وروینس
د ناز د تصور سنکالو هم داسی وګنه
یواځی خوشحالي کړي د ګل عمر څو شیبې
که زړهٔ ته ضرورت وینې غم داسي وګنه
ملا لکه په تا پسې چی سر زدمه په ځمکه
په کفر می څه نیسې ، صنم داسی وګنه
د شپو تورو رګونو کی چی توری وینی ګرځی
زما د ژوند لیکونکی قلم داسی وګنه
هغه شان چی می مینی زړه دی ما نه ترهولی
له ځانه د تندیرهوسیرم داسی وګنه
لږ سر کړه د شاعر حسن تراش زړهٔ ته ورتیټ
د قاف د ښاپیریو ارم داسي وګنه
روان یو خو هر ګرد نه دی په شمار د رهروانو
« پسرلی » دی لکه نقش قدم داسی وګنه

۶۹ - ۱۲ - ۱۳ - پېښور

برابې چې بیا په خیال د دلبر مست وم
تر سهاره لکه سین په بستر مست وم
په پیاله چې یې خولهٔ کېښوه بیا یې راکړه
لا له ورایه په لیدو په ساغر مست وم
ممکن ومې بخښې خدای واړه جرمونه
که له ښه مرغه په ورځ د محشر مست وم
بیا مې مستې سترګې ولیدې په خوب کې
بېګا خلاستم هوښیار خو سحر مست وم
چې روڼې اوبه شراب کړې په کتلو
زه د ناز د ښاپېرو د ګودر مست وم
چې هواسو مې پلمې غوښتلې شور ته
د رباب غوندې له ځایه هنر مست وم
لکه رود د غره په کاڼو لا مستېږي
په وطن کې په سفر او حضر مست وم

۶۹ - ۱۲ - ۱٤ - پېښور

سکوت د نيمی شپې چی مي په سر اخيستی دي
آرام مې لکه سين را نه بستر اخيستی دی
د شمو په مړو اوښکو وی د هر سړی نظر
له سويو پتنګانو چا خبر اخيستی دی
را ووځه ماهيت د ريا کارو کړه افشا
نقاب تل د تيارو له مخی لمر اخيستی دی
ناری وربانديی مه وهئ د فکر خاوندانو
سمند د ارادو مې را نه سر اخيستی دی
د عشق د شور منکره شنو کوترو ته څو ګوره
چی غولی دحرم يې په غومبر اخيستی دی
د حسن ترانې مې بيا په ذهن خورې شوې
که شرنګ د ښاپيريو لوښ ګودر اخيستی دی
هر خيال مې دی « پسرليه » له خپل فکره بوټيدلی
صدف چيرته له چا څخه ګوهر اخيستی دی

۶۹ - ۱۲ - ۱٤ ـ پیښور

اشنا ، را ځه ، فرصت در سره پلی راوله
پسرلی د نیکمرغۍ تر لاس نیولی راوله
څادر وروباندی خپور کړه ، له مینا سره کړه پام
شیخان کرځی محفل ته ساقي غلی راوله
چی تل تر او تازه وی په شبنم یی څه سپارې
د هیلو گل د زړهٔ په وینو ولی را وله
د خدای په دې مخلوق چی یې رنځ نه لوریده
په ټیټو سر لکه سیوری شرمیدلی راوله
د نویو خوشحالیو وړکه نه یو نو خاونده
په تیرو بهارونوکي یې سکلی راوله
قسمت می گریز پا دی که شي خپلو پښو ته خلاص
خپل کور ته دا شیلی لاس تړلی راوله
امید که راولې چی په تیارو کی نه شي تور
د لمر په سمندر یې لمبولی راوله
یا ما در سره بوځه شنو لمنو ته « پسرلیه »
یا بوی د شنو شوتلو نستیځلی راوله

۱۳٦۹ - حوت

چی خپل ستړی خیالونه جوړوم او ورانوم
وریځ غوندی شکلونه جوړوم او ورانوم
چی لاس د تصور می څومره بر کړ اشتیاق
کری،شپه محفلونه جوړوم او ورانوم
کاروان به می د مینی د اظهار ولیښي حنګه
آرزو ته محملونه جوړوم او ورانوم
بیځایه د پندار له لوړو څوکو کوزیدم
د فکر مورچلونه جوړوم او وراونوم
خیمه د روایاتو به می څو وي سر پناه
نیمګړی بورجلونه جوړوم او ورانوم
په ماته دړه ناست یم او په مرسته د وهمونو
څپو نه ساحلونه جوړوم او ورانوم
آخر هسی نه شپه مو په بیدیا شي «پسرلیه»
مزل ته منزلونه جوړوم او ورانوم

۱۳۷۰-حمل

په خدای می سپارم مساپری اوښکی
زما له زړهٔ څخه خبری اوښکی
د تا پاسته زړه ته یي لار ونه کړه
ما خو وې سوری په کړی ډبری اوښکی
څو به له درده ضایع کیږی را نه
تر ملغلرو ملغلری اوښکی
ستا تصور ته می په سترکو کی تل
غومبر وهی لکه کوتری اوښکی
ستوری کرمه گوندی لمر وریبم
زړه می ترلی دی په هری اوښکی
د رزه له اوره می په مخ وگوره
د پتی خولې ویلی سندری اوښکی
چیرته زما ،چیرته دشمی ژرا
د وصال اوښکی وی بهتری اوښکی
« پسرلیه » نه شوه مسلمانه راته
ورته می تویي کړې کافری اوښکی

۷۰ ـ ۱ ـ ۷ ـ پیښور

د وصل شپې ته دی سبا نه راځی نه دی راځی
په خوله که شوخه تمنا نه راځی نه دی راځی
د مینی تنده می درې پاره شپه ترې گرځوی خیال
دا که له ښکلې استغنا نه راځی نه دی راځی
دا به لا څوک وی چی غوغا به د سکوت نه اوری؟
که می په خوله ورته وینا نه راځی نه دی واځی
لیونی زړهٔ می غواړی نوی حدې ، نوی مزل
که تللی عمر کله بیا نه راځی نه دی راځی
د زړښت پښې چاپی کومه گوندی خوب بې یوسی
که د پرهر په خوله خندا نه راځی نه دی راځی
ماشوم زړگی می د درواغو په وعدو دوکه کړه
که دی په خوله ورته ریښتیا نه راځی نه دی راځی
شهید د مینی بې د نور په چینو ولمبوئ
که جنازې ته بې ملا نه راځی نه دی راځی
ته راځه ، ومی کره بیا په خیال د ناز گلونه
که«پسرلی» له هغې خوا نه راځی نه دی راځی

۷۰ ـ ۱ ـ ۱۰ - پیښور

بیګا مو د سرور نغمه له تاره ورکیده
بې تا ، نسخه د ودی له بهاره ورکیده
بیګا وم تر سبا پوری د هجر شپې اخیستی
د ستوریو په کوڅو کی را نه لاره ورکیده
هوا می ستا د وصل د فکرونو بحر مست کړ
څپه به د تازه څپې دپاره ورکیده
د سلو نورو څریکو په لټون به وه وتلې
چی کله به می څریکه له پرهاره ورکیده
آرزو به می په ټول د آرزوګانو کی شوه ورکه
خبره چی می خوله کی درته یاره ورکیده
لیمې چی دی نیم مستی په محفل کی اړولی
سایه د امنیت د زړهٔ له ښاره ورکیده
د وصل تصور دی زما له ذهنه اخیست لاس
که واوره وه له سره د کوهساره ورکیده
نشه وه خم کی ډوبه، د مینا ګوډیده ساه
ساقی نه د مغان ښوولې لاره ورکیده
«پسرلیه» اندیښنې می بي هدفه چورلیدې
د زانګو د سر میره له کتاره ورکیده

د جوزا لوموړی ورځ ۱۳۷۰

پام مې له آهونو سره وکړه ګوره ووتل
سره سووکي پاڅېدل له سوی سکوره ووتل
ستا لاره به ګوری د وفا په انتظار به وی
سل ځله که شنه وابنه زما له ګوره ووتل
چیرته به له ژونده لاړ شو بیا مو لار په ژرنده ده
ډیر ستر ی موجونه د دریا له شوره ووتل
ورکه یي په برخه ده ، که بوی هم د ګلونو وی
هغه چې زموږ غونډی له کلی کوره ووتل
مینه وی مطلب له ژونده ، تور سبه یم په مینه کی
توزو چې معنی ومونده درست له توره ووتل
خپل وایه هغه ته چې یي سخته درنه بیل نه کړی
تور لوګی په منډه له بل شوی اوره ووتل
موږ یي « پسرلیه » پخولو ته ساتلی یو
ګڼ واره کبان د ماهیګیر له توره ووتل

خیبر پلازا - پیښور جوزا ۱۳۷۰

بلبله راوړه هنر پاله مینه
چې شی له حسنه سره سیاله مینه
پتنګان مومی په لمبو کی سکون
په هره ځانکه نه زِدی ځاله مینه
خدایه په مرګ هم رانه بیله مه کړې
د واره عمر انډیواله مینه
یو سوړ دوزخ دی تش له مینی ژوندون
یو دم می مه ووزه له خیاله مینه
له زړهٔ د ناز د برجل سیوری کړي جوړ
له دواړو کونو فارغباله مینه
غواړم د لمر تر شغلو هم « پسرلیه »
په سوی زړهٔ کی بې زواله مینه

جوزا- ۱۳۷۰

د هسك په شنه گومبزه رونه ستوري ښويېدل
که زما ستړی خيالونه ستا په لوری ښويېدل
له ډيره اشتياقه مې الفاظ ورته په خوله کې
موجونه شول د سين چې له پرله پوری ښويېدل
چې حال مې ورته کيښ د قلم پښه نه تم کيده
معنا ډيره صفا وه چې پرې توری ښويېدل
د حسن لوړ درشل ته مې ځبلی اميدونه
د دنگو غرونو سر ته پراته سيوری ښويېدل
د ناز په نندارتون کې يې د ښويو نظرونو
څوك دوری بهيدل او ځينی هوری ښويېدل

۱۰-۳-۱۳۷۰

چی غمونه می په زړه را وریدل او ښخیدل
شمی ما نه زده کول دا سوځیدل او ښخیدل
نه په لطف ایساریږم ، نه می زور شی تم کولای
د باران غوندی می کار وی بهیدل او ښخیدل
ورته وګوره په مینه ، دعاشق سړی فطرت دی
د کنګل غوندی له مهره تودیدل او ښخیدل
په محفل کی یی د وصل ، مین زړهٔ غواړی له بخته
د خولو غوندی له شرمه ویلیدل او ښخیدل
تورو وریځو غوټه زړونه چیرته وړیء د ښه له پاره
زما زړه ته ګوریٔ ، زده کړیٔ ژړیدل او ښخیدل
چا ریشې وزغلولې ، چا آسونه زغلولې
زموږ زړونه لکه پرخی اوبیدل او ښخیدل
چی په جنګ کی می «پسرلیه» وینی نه شوای بهولای
رونه ښاخکی می لیمو کی غړیدل او ښخیدل

۱۳۷-۳-۱۰

چې حان يي وخوځوی سترګو کی د نازموجونه
دلته زما تصور لاندی کړی د ساز موجونه
د ناز يادونه يي هم فکرتيل وهی ، هم يو بل
لکه د بحرد توفان «کاراته باز» موجونه
ژاړی ورکيږی ، مګر بيا په ټيټ سر سين ته ورشی
په بال و پرچی د وريځو کړی پرواز موجونه
د ديکتاتور له سره تښتی د عمران فکرونه
کورونه وران کړی آموخته په تاخت وتاز موجونه
د اولسونو احساسات چخېږی کيدلای نه شی
ګوره تر ځو به تر پښو لاندی کړی جهاز موجونه
تندی دی مه تريووه بحره د ځپو په هځو
د ژوند تصوير ته ورکوی پوره پرداز موجونه
نه په افراط کی شته څه عمق ، نه په تفريط کی څه زور
د سين په منځ کی ځی د سين واړه ممتاز موجونه
« پسرليه » مات شي د نمرود غرور په ګوډی ماشي
توفان د کونډی له تنوره کړی آغاز موجونه

۱۳۷۰-۳-۱۳ - پیسور

ته یې مګر ولیدې چی سپینه شوه
وچه د سپوږمۍ په مخ کی وینه شوه
ستا له ښکلی مخه می د غره لورې !
هره یوه تیږه یوه شیرینه شوه
لار د حسن هم مګر په مینه وی
هره یوه ادا دی مینه مینه شوه
نه اړوی سترګی چی هینداری نه
ښکاری چی کلرنګه می ګلچینه شوه
مخ د آینې د ښکلولو دی
ښه شوه چی بد بینه می خود بینه شوه
ومی غوړید زړه کی د ښایست بهار
طبعه می « پسرلیه » چی رنګینه شوه

جوزا - ۱۳۷۰ پیښور

یېګا مې ستا په یاد له زړه کبلۍ را خوټیدې
د ذهن له تیارو نه مې سپوږمۍ را خوټیدې
ژوندي مې شول د سرو لبانو وړي ارمانونه
له خاورو مې د حسن سرې غوټۍ را خوټیدې
زخمه دې د یادونو لګیده خومره په ځای
له رګ رګ د احساسه مې لنډۍ را خوټیدې
د زړه په سر تنهاکو څومره ستونځې را بللې
د تاندو هیلو لارو کې غونډۍ را خوټیدې
د مسکۍ خولګۍ یاد دې کړم د خپلو اوښکو تږی
عدن شو زړه له تله یې سیپۍ را خوټیدې
خولې یې د حیا وې د حیات د اوبو څاڅکی
له تورو اوږدو زلفو یې زینډۍ را خوټیدې
«پسرلیه» هغووختو ته به بیا ورګرځو کله
چې سترګو ته له هر څه ښاپیرۍ را خوټیدې

جوزا - ۱۳۷۰

ساقی تیاره ژوندون ته می رڼا راوبوله
دتللی ځوانۍ شوخی شیبې بیا را وبوله
قلقل دمینا بس دی ، که نغمه نه وي دچنګ
د ژوند تشو لفظونو ته معنا را وبوله
شپنه یاره ، زلمی زړه دی توده مینه کړه څه
د نی لوګو کوڅو ته دی نوا را وبوله
د غم په دربلو کی خورم تکری لکه ړوند
سپوږمۍ د تسلی د غره له شا را وبوله
تر څو به د حسرت په دوړو پټ کړځوم زړه
«پسرلی» شه ، سپیرو دښتو ته ښکلا را وبوله

جوزا - ۱۳۷۰

د غرونو باده یوځل زموږ په لوری راشه
لږ تر زړه پوری راشه ، ښه په زړه پوری راشه
چې د تودوخې لمر دې بیا له نظره نه کړی
د ګورو ونو لاندې ، په سیوری سیوری راشه
دا دسپیرو کیموپونو د هاړ غرمو وهلی
په شپه په ورځ دې هر وخت لاری ته ګوري راشه
که د پامیر د شمال مخ ته وی غرونه ولاړ
ای دسپین غره نسیمه ته خو ځه دوری راشه
له زړه می مه ووځې ته ، زړهٔ می را وتخنوه
لکه ځپې چې د سین په سین کې ښوری راشه
«پسرلی» دې لاره څاری ، د دنګو غرونو باده
د تا راتګ می ژوندون له یاسه ژغوری راشه

جوزا ۱۳۷۰

ماويږ یوه شپه به غبږوم په مینه تا ته شپیلۍ
خو څه احوال به درته ووایي دا ماته شپیلۍ
میږی او وری نه دی را پاته ، حتی سپی هم نشته
د طبیعی ژوند له هستی ده بس را پاته شپیلۍ
دنیا کنه ده د ویشتلی زړهٔ فریاد نه اوری
عبث له درده اړومه هری خوا ته شپیلۍ
ګناه د چا شوه چی د زړه په ژبه نه پوهیږي
ملا په کاڼو ماتوی ولی میراته شپیلۍ؟
له زخمی زړهٔ می مګر واورمه د زړهٔ خبری
دا چي لګیا یم جوړوم د زړهٔ نوا ته شپیلۍ
چی د تینګونو د زنځیر شرنګی دنیا کڼوی
په دي محشر کی «پسرلیه» پټه ساته شپیلۍ

۱۳۷۰- پیښور

سپیره ژوند دوکه کومه بیا د داسی شپو په هیله
چی می زړه وستا موسکا ته للمی گل د ورو په هیله
په وچ غره کی تږې زرکی چی روڼې چینې ته درومی
زه هم دغسی درتلمه ستا د خولې د هو په هیله
سترې بخته بیا را پاڅه ، په زړو پلونو پل کښیږده
ښې شیبې مو کړه ایساری د لا ښو شیبو په هیله
څو به زما په زړکی اوری ، څو به زما په خیال دوریږی
هغه خاوره چی بهار یې و درنګ او بو په هیله
چی امید لرو له بخته ، چی وفا غواړو له وخته
یوو ساده مرغان په دام کی د ښکاری د ښو په هیله
نه د وینو سیلاب وچ شو ، نه فضا له لوګی پاکه
لا تر څو به لاری څارو ، لا به ناست یوو څو په هیله
د ګلونو وچو شونډو ، پتری ونیول «پسرلیه»
د نری باران په تمه ، د یو غوړپ اویو په هیله

۱۳۷۰- پیښور

له ډیری صفایي شوه سر تر پایه آینه
د مستو بهارونو قدنمایه آینه
بیګا چی لکه لمر د بام په څنډو ځلیده
سپوږمۍ ورته نیولې وه له ورایه آینه
چی تاو د محبت زړه ویلی نه کړی ، نه رونیږی
د غره توره ډبره وی له ځایه آینه
تر حسن یي د حسن ښکارونکې یم ځبلی
د چا په زړه کی ماته مه شه خدایه آینه
د مینی حسن دا دی چی د حسن اخلی ناز
هر ګز نه وی خود کامه او خود رایه آئینه
ډبری ویلی کیږی ستا د مهر په کتلو
له داسی نګاهونو لری پیایه اینه
« پسرلیه » په کین مه اخله صفا له ښکلی زړه نه
هر څوک ګوره ساتی له ګل و لایه آینه

۱۳۷۰.۳.۱٤ - خیبر پلازا

هغه دی هیر دی که په زړه ، چی ستا په لور درتلم
لکه د غره، مستی اوبه تل به په شور درتلم
چی لا بهیر د زمانې بی سیکی کړی نه وم
لکه مست قو د سمندر په څپو سپور درتلم
سپوږمۍ ویده وه ، شپه آرامه ، او ته هم پرته وې
زه لکه خوب د ځوانی سترګو ته په زور درتلم
د سینې تاو می لا په لار کی مانع نه پیژنده
لکه په وچ ځنګله د کانو کی بل اور درتلم
تمامه ورځ به دی بې واکه د دیوال سیوری وم
تمامه شپه به لکه وینښ ستوری سرتور درتلم
بې تا می یوه لحظه آرام په سوی زړه و حرام
له هره ځایه به مجبور لکه میخوړ درتلم
زلفی خورې کړه چی حواس می بیا خواره واره شی
پخوا خو تل لکه « پسرلی » په وطن خپور درتلم

۲۵-۳-۱۳۷۰ - پیښور

چې را ټولې بوری وراری اندیښنې شي
میکدې به د خاطر ماتم کدې شی
اوږدې زلفې مې شي يادې ووږمې
هسې نه د فراق شپې داسې اوږدې شی
تصور يې د ليمو تر ليمو شوخ دی
دغه شوخې ښاپيرۍ کاشکې ويدې شی
د عشق تاوه ډير مې مه نرې کوه زړهٔ
چې لبريزې به د خيال د سين څپې شی
لطيف خيال مې شي ګلبڼ د ښاپيريو
چې را يادې د ځوانۍ ځوانې لمحې شی
د زړهٔ لمره د وختونو کنګل مات کړه
چې روانې د بيلتون سرې شيبې شی

۱۳۷۰-۳-۲۲ - پیښور

بیګاه يې بيا په هيرو خاطرو نشه کيدم
ورو ورو را یادیدلې او ورو ورو نشه کیدم
د حسن میکدې ته مې وه خپله مستی وړی
د سين غوندې له خپلو خمیازو نشه کیدم
د سرو شونډو په حُمب کې يې وه څومره نشه پټه
وعدو نشه کولمُ په پلمو نشه کیدم
په شوق چې مې د ناز برجل ته اخیستل ګامونه
په تلو نشه کیدلم او له پښو نشه کیدم
په هر څه کې نشه وه د ساقي سترګو کړلې
توبې شوې را نه ماتې په توبو نشه کیدم
بادې لا په تاکونو کې پل اخیست پالې پالې
زه مست به يې له ورایه په ښکالو نشه کیدم
را یاده به شوه جام کې ننداره دهغه حسن
په سين کې د سپوږمۍ په تماشو نشه کیدم
په تورو څېږو تیږو کې مینا را ښکاریدله
احساس مې تصور کړ بانه جو نشه کیدم
د حسن استغنا يې را نه واړولې سترګې
نشه وم دیره ښه شوه لا به څو نشه کیدم
چې خپل لیونی زړه را ته « پسرلیه » ږغولې
د مینې په نغمو لکه درخو نشه کیدم

۱۳۷۰-۳-۲۲ - پېښور

ته وې ، تمکین و، استغنا وه د سپوږمۍ په شپه کې
بهار و، غرونه وو، دریا وه د سپوږمۍ په سپه کې
حیا که هر څو پټوله پټېدلای نه شوه
په خوله می شوخه تمنا وه دسپوږمۍ په شپه کې
چې ستا یادونه می وړانګو په ذهن وغوړول
نغمه وه شعر و، مینا وه د سپوږمۍ په شپه کې
ما چې د تا له تغافل څخه بهره اخیسته
له عسکری چاونۍ نه غلا وه د سپوږمۍ په شپه کې
ستا تصور تر لاس نیولی بڼ ته ورروستمه
په هر طرف ښکلې موسکا وه د سپوږمۍ په شپه کې
په سرو کلونو چې به سپینی پلوشې غوړېدې
د ښاپیریو تماشا وه د سپوږمۍ په شپه کې
د ځمکی لورې ! په اسمان کی دې څه اور شیندلی
په لری ستوریو کی غوغا وه د سپوږمۍ په شپه کې
دغه ګلونو چې زیښنلی رونې پرخې نه وې
د « پسرلی » د زړه ژړا وه د سپوږمۍ په شپه کې

۲۷/۳/۱۳۷۰ - پیښور

خدایزده بیګاه زما په سر کی د مستۍ ځوانی وه
که د آسمان په شنه تامبو کی د سبوږمۍ ځوانی وه؟
د تاك د لور غوندی یې یوه هم هوش ربایه نه وه
د تاندو څانګو که هر څومره ګلالۍ ځوانی وه
بهار له څمکی جنتونو ته کړکۍ خلاصی کړې
که ستا د حسن د خیال د رنګینۍ ځوانی وه
څوك وایي تللی عمر کله هم بیا نه را ګرځی؟
بیا په دوره باندی راغلې لیونۍ ځوانی ده
ستا خاطرې می په شنه زړه باندی توپونه وهل
تازه بهار و، شنه لمن وه ، د هوسۍ ځوانی وه
په سپینه زیره پروانه کړم چا د ناز د شمی
یاره پخوا که کله کله د ځوانۍ ځوانی وه
لکه « پسرلی » کی د زړو ونو تازه شکوفې
زما د ځوانو هیلو ستا غوندی تنکۍ ځوانی وه

۱۳۷۰ - جوزا

ناله له درده سر توره ووځی
فریاد د خوزږ له زوره ووځی
ښکلي عشوی یي چی زړهٔ ته سپارم
مستی ښتی ځپی له توره ووځی
پریږده لمبه شی پریږده ایره شي
زړهٔ نه دی دود چی له اوره ووځی
په نظر ساتم نظر له ډاره
ورك شي ماشوم چی له کوره ووځی
منجمد یم هم سپیره صحرا شي
خاوری شه زړهٔ چي له شوره ووحی

۷۰ - سرطان

د سوچ له کوره لری په ځنګله کی د ماښام
د خیال په غیږ کی ناست وم د ماشوم غوندي ارام
اسرې می را بللې وې چی نن مو ښایسته کړو
نه فکر د پرون و نه سبا ته زما پام
بیشکه نه جمشید وم ، نه می تخت و نه می تاج
خو سر کی می نشه وه د ځوانۍ د جم د جام
د هیلو په مزله کی وی دژوند د دریا شور
تر هغه چی انسان وی نه کامیاب او نه ناکام
هر باد چی د احساس د کلا ور را ټکاوه
راوړې به یې له ځان سره د ښې سبا پیام
د ګل له پستې خولې می اوریدې خوږې سندری
له ښه زړه نغمه خیز و ، که می در و که می بام
تر لمر تر سپوږمۍ سپین و د پندار د لیلی حسن
د غره تر راده مست و د زلما د سین خرام
ځوانی وه ، خوشحالی وه ، زه او ته سره پخلاو
نه هجر نه غربت و ، نه غمونه نه آلام
هغه لمحې به بیا کله راوکرځی که نه؟
که یم به زړبودۍ کی علامت د استفهام؟
هاله به « پسرلیه » افسانه وای د ژوند ښکلې
چی وای یې د آغاز غوندی په زړهٔ پوری انجام

۷۰ - سرطان

هر تیري او تجاوز کوی چی پست شي
سیل چی حومره مخ پر ځوړ ځی هومره مست شي
توپانونه هم غر نه شي خوځولای
خار وخس په تش پوکی په خیز وجست شي
ګاو پرست او مار پرست کی سرپتوب شته
خو لاس واخله له هغه چی خود پرست شي
جوړ زنځیرشي تري پیلان پري تړل کیږی
چی وړی وړی کړی‌سره پیوست شي
د طعمي تمه د کب تر ستونی خیژی
خو څپو ته یو د خلی سیوری شست شي
ستا په مینه به غوړیږی او رژیږي
« پسرلی » که دی زړځلي نیست او هست شي

۱۳۷۰-٤-۸ - پیښور

سوی نظر می دی له ښکلیو جلوو مه ګرځوه
په سین کی ږوَدی قو له مستو څپو مه ګرځوه
وعده که وه د ماتولو ، نوم یي مه اخله ډیر
ماشوم زړګی می په دې ماتو شیشو مه ګرځوه
ساقی ، نشې با درنه هیر کړ د مستانو درنښت
پیالی را وګرځوه ، موږ تر پیالو مه ګرځوه
تر هر نهال لکه پیروتې جاریدلی نه شم
هوسه ډیر می د هر حسن تر پښو مه ګرځوه
د لیونۍ مینې په کچه می صحرا راګوره
د غرو نسیم د ښار په تنګو کوڅو مه ګرځوه
د اوږدو زلفو تصور دی دومره مه را لېږه
رنځور زړګی می ډیر د ژمی په شپو مه ګرځوه
پریزده چی باد یي ایرې یوسی د وفا کلی ته
د مینی سوی پتنګان له لمبو مه ګرځوه
د جنت بڼ د فرشتو په ورتلو نه ورانیږی
شرمه له لاری می حسینه آرزو مه ګرځوه
که په لوی لاس می « پسرلیه » جنون نه پاروی
لیونی خیال می په ګلپوشو درو مه ګرځوه

۸/٤/۱۳۷۰ - پیښور

د مخ رڼا یې څه عجب که له حجابه وته
د ناز جلوه یې پورې اورې له مهتابه وته
د لمر شغلو ایستل سرونه د شپوږمۍ تر درځې
که دې جلوه وه د سپین مخ چې له نقابه وته
ستا په محفل کې ، ستا له لطفه وم کوربه د بهشت
نوره خبره له ګناه او له ثوابه وته
د ساقي لطف را سره کړه بدرګه د نشې
د عمر کډه مې له پولې د شبابه وته
آدم چې حسن کړ له مینې سره غاړه غړۍ
هره نغمه یې وه درخو چې له ربابه وته
« پسرلیه » زه به هم د عشق له تمبولۍ را وځم
ډوبه بېړۍ که لکه خلې له ګردابه وته

۱۳۷۰-٤-۹ - پیښور

کومه مهرویه به د زړه په لته بیا راځی
د تیاره زړه خلوتکدې ته چی رڼا راځی
په سپینه زیره چی می زړه غواړی وفا له ښکلیو
د تنکی ګل غوندی په ځان پوری خندا راځی
ښکلې نګاه یې وه غمزو او کرشمو کې پته
ماسکه ویل چی د جنت د حورو ورا راځی
یو عالم زړونه ، هوسونه یې را وینښ کړي جلوې
لکه دلبر ستر که چی کله هم تنها راځي
نګاه یي یوه خوا ، بله خوا اړوی نازد حسن
لکه په غرو کی چی کږه وږه دریا راځی
له رڼو ستورو سره ناست وم تر سهاره زه هم
دا ګنګوسه وه چی د بام سر ته بیګاه راحی
« پسرلیه »داسی می راځی خیال ته تیر یادونه
لکه چی بحر ته سیندونه په نڅا را ځی

۱۳۷۰-٤-۱۰ - پیښور

هر غم ته چې ما غیزه پرانیستې ده
دوړو ته بیدیا غیزه پرانیستې ده
حسن او مینه هم وبوله نوك او ورې
موج وته دریا غیزه پرانیستې ده
راشه ، لکه جم په جام کې وګوره
چاته مې صهبا غیزه پرانیستې ده
وخت په سره تبې ولې ولاړ نه وي
نن ته چې سبا غیزه پرانیستې ده
راغلو له عدمه خو په هر قدم
ګورو عدم بیا غیزه پرانیستې ده
توره شپه پرده مګر د غله وکړي
شیخ ته چې قبا غیزه پرانیستې ده
بې له پرهرونو نه زما د زړهٔ
ځریکوته بل چا غیزه رانیستې ده

۱۳۷۰-٤-۲٦ - پيښور

پوه نه شوم چې چيرته ځم له کوم لوري راغلی يم
څوك مې وړی او ولې د څپو په واك کې خلی يم
هره ساه مې بيا بيا ړنګوي او جوړوي وجود
مار غوندې له خپله پوسته زر ځله وتلی يم
يوه لحظه مې تم نه کړل وختونه مې له غيږې ځي
هسې يې دسين د څپو مخته درولی يم
زه د زماني په شا يم سپور که دا زما په تخت
سټړی يم خو پوه نه يم چې سپور ځم او که پلی يم
دومره مې د شرم په خولو مه لمبوه عشقه
تل په خپلو اوښکو لکه بله شمعه ولی يم
هغومره به نه وي اليبلی چا د لاندې مزّ
څومره چې مې اور د خپل احساس زه اليبلی يم
ماته « پسرليه » بس دعا کوه پريږده مې نور
زه اوس د ناکامو ارمانونو د ګور تخلی يم

۱۳۷۰-٤-۲۸ - پیښور

بیګاه چی په جامونو کی نیشو وهلې منډی
په سر کی می د حسن اندیښو وهلی منډی
چی څومره می د ناز سروه په خیال کی لویدله
هغومره می په زړهٔ د یاد ریشو وهلې منډی
یو زه ستا په موکب پسي د ګرد غوندی ځغاستلم نه
د ستورو په بامونو پلوشو وهلې منډی
عشوو د شیرین حسن جوړاوهٔ او رنګاوهٔ
د عشق په بیستون کي چي تیشو وهلې منډی
یوازی یي آرام زما له زړهٔ نه دی اخیستی
دسین مستو څپو په خرخشو وهلې منډی
« پسرلیه » خاطرې د شوخو سترګو می خاطر کی
کبلیو د آبدان په شنه ورشو وهلی منډی

۱۳۷۰-٤-۲۹ - پیښور

راغلې ، په سترګو می تر اوښکو پسته نه کینستې
لکه له تاره لتهیدلې نغمه نه کینستې
د حورو میرې یوې نګاه دی کړم مجنون د کیسو
لکه په زړه کی می دښکلیو کیسه نه کینستې
ما ویل تبه به می وشلیري خو نه وشلیده
په تبجن زړه لکه د تبې خولهٔ نه کینستی
لکه وحشی کوتره راغلې دناستی په نمط
خولکه ورشي تر ساحله څپه نه کینستې
زما په زړه ناستې ، له زړه نه می ولاړه مه شي
لکه په خپله خولګۍ خپله پلمه نه کینستې
ناسته ولاړه دی وای تل کاشکی د عطرو په شان
له کاله وروسته راغلې نیمه لمحه نه کینستې
بیګاه می خوا کی ناکراره شمه هم کیناسته
ته تر سبا لکه د مینی لمبه نه کینستې
په دې راتلو به دی شي جوړه د « پسرلی » څه دمه
راغلې او دومره لکه پته بوسه نه کینستې

۲۹/٤/۱۳۷۰ - پیښور

یامی هوش په میکده کی پیڅولونه ټولولای
یامی ستا له خیالی حسنه خیالونه ټولولای
د مستۍ په مست محفل کي چی نه هوش نه هوښیاری وای
د ساقی له مستو سترګو مو ګلونه ټولولای
چی د مینی خوږې شپې پرې چراغان شوای تر ابده
په اسمان کی مو دستوریو مشعلونه ټولولای
دمین په زړهٔ به ولی تیارې تللې او راتللې
که مهرویو په محفل کی وربلونه ټولولای
مجنونان به د سرو شونډو قارونان د زمانې وای
پتنګانو که دی شمې ! سره لالونه ټولولای
د مین د سودا شپې به ولی دومره اوږدیدلې
که ښایست د تورو زلفو څپاره ولونه ټولولای
چابه نه بلل له عقله محروم شوی «پسرلیه»
که مستانو خالی کړی بوتلونه ټولولای

۳۰ - ٤ - ۱۳۷۰

چی حضور ته یې له سبکلیو امیدونو سره ولاړم
د کلونو ننداړو ته له کلونو سره ولاړم
ستا تمکین د کانو غر و، زه د چر نري اوبه شوم
د اثر په لټه فریادونو سره ولاړم
کردابونه راته کوړ چي اوس غیر په مینه ورکړم
چي د امن له ساحله له موجونو سره ولاړم
چي د مینې په مجمر مي سپیلنی غوندي پل کیسود
فریادونو سره مل شوم ، له آهونو سره ولاړم
تیغ د ظلم چي جلا کړم لکه نی له نیستانه
لاس په لاس کی د غمونو ، له داغونو سره ولاړم
حقیقت چي ویرونکی حیره لر حه را سکاره کره
د خیال غیر ته مي بیرته له وهمونو سره ولاړم
برایي چي شپې په هسك کی کري په ستوریو باندی کاتی
د طفلی په لټه زه هم له وختونوسره ولاړم
که مي غواړئ ما به مومئ د دردمندو په تولی کی
زه چي تلمه له دی سرایه له دردونو سره ولاړم
بیا د شعر حپه راغله په غنکی غنکی « پسرلیه »
د حورانو انجمن ته له خیالونو سره ولاړم

۱۳۷۰ - سرطان

" ستا یاد چی می په مینه په سودا وغورروی
هنداره په تیارو د لمر رنړا وغوړوی * "
د حسن معجزې دی ، یا دمینی کرامات
په کل جهان چی سیوری د هما وغوړوی
هغه لیونی ځنکه له موجونو داروی
بستر چی د خونی نهنك په شا وغوړوی
د حسن استغنا یې لاس د سترګو پام ته نیسی
لمن که سحر هم ورته بیا بیا وغوړوی
سنګلا او مینه خپل دی خپل په خپل باندی خوږیږی
نیزونه څادرونه په دریا وغوړوی
تیارې می د حسرت په غیر کی نیسی « پسرلیه »
ماښام چی توری زلفی شاوخوا وغوړوی

* - در عالمی که یاد تو با ما مقابل است
آئینه میکشد برخ سایه آفتاب
« بیدل »

۱۳۷۰ - ۷ - ۷

درځئ د فکر کړي په بل لوري واړوو
د عشق د کهکشان په یوه ستوري واړوو
د لمر د پلوشو غوندې د ژوند په سپیره ځمکه
کړو مراندې سره غوټه ، پرله پوري واړوو
تورونه دې د مینې چې معنئ ورکوي ژوند ته
له تور سره د مینې لکه توري واړوو
چې عشق مو بې نیازه کړي د لمر له پلوشونه
جنت کې د طوبئ په ساره سیوري واړوو
د ستوریو په بهیر کې به د مینې رهروانو
د شپې چې نرۍ پرخه په ګل اوري واړوو
هغلته چې راوړي د خوشحالۍ بهار ګلونه
« پسرلیه » یو څو شپې به موږ هم هوري واړوو

۷ - ۷ - ۱۳۷۰

هیری په میخور کړی د ساغر اوبه
ستا دمخ له مخه د کودر اوبه
ما وې تږی ستر ګی به اوبه کړم پرې
تاو د مخ یې ډیر و ، شو نظر اوبه
ماته دی پر مخ شوه د حیا خوله
اخلی می د زړهٔ ورنه پرهر اوبه
شیخه څه ترخو اوبو ته پریږده موږ
ستا تر سر دی واوړی د کوثر اوبه
ډیری می سنګل کړې یاقوتی شونډی
نه ماتوی تنده د ګوهر اوبه
هر څه چی وو موږ ته وطن سنګلی و
کب ته وی خوږې د سمندر اوبه
اور دزړهٔ ته څوك لری « پسرلیه » تاب
سور آتشفشان کړی اوچت غر اوبه

۱۰ - ۷ - ۱۳۷۰

تنکۍ هیلۍ مې بیا د زړه پردو کې دي ساتلې
څو پیغلې ښاپیرۍ مې په شیشو کې دي ساتلې
ملا ، په مسلو مې تنده مه را ډیروه
ساقي د ژوندي شیرۍ را ته پیالو کې دي ساتلې
نګاه دې د ښو له سیورې مه ږېږده چې وروحی
دا ښکلې قنیرۍ لا په پنجرو کې دي ساتلې
ای باده په احتیاط یې په مخ زلفې اړوه
څو ټکې یې بیا خدایزده په دې ورو کې دي ساتلې
افسوس چې د ژوند فلم را ته نه زدی بیا له سره
ښې ښې صحنې په تیرو ورځو شپو کې دي ساتلې
چې تیر شو ، هغه تیر شو څوک یې څه کوی پوښتنه
رموز شناختی په متروکو مقبرو کې دي ساتلې
چې ستا ورپسې شیخه د زړه سترګې ووتلې
هغه حورۍ فنکارو په نغمو کې دي ساتلې
که ځان رسوی پوهی ته د جهل په لار ورشه
اوبه یې د ژوندون وایې تیارو کې دي ساتلې

۱۳۷۰ -۷ - ۱۰ - پیښور

بی له تا می ستا په یاد وه بیګنۍ شپه
په بلبل ، په پنجره کی د سپوږمۍ شپه
اندیښنو را نه آرام د زړه اخیستی
لکه وی پر میزتون د غرځنۍ شپه
ستا د زلفو په یاد واوړم په بستر کی
تصور دی را ته شپه کړی د نتکۍ شپه
تر سبا له رڼو ستوریو سره رغښتم
چی دا زه وم لیونی ، که لیونۍ شپه ؟
د سحر رڼا به څه راته ښکاریږي
چی په زړه می وی د ناز د ښاپیرۍ شپه
تا و د مینی دی دی دا چی لکه شمه
په ولاړه تیروی په ما کرۍ شپه
له سپوږمۍ سره ته هم وخیږه بام ته
د پسرلی شپه کړه لږ نوره هم تنکۍ شپه
چی ریدی وی غوړیدلی په « آبدان » کی
د جنت شپه وی «پسرلیه» د کیزدۍ شپه

۱۳۷۰ - ۷ - ۱۱ - پیښور

ورا د ښاپیریو ده ، که وینم د کوکچۍ څپی ؟
یا خو وهی ستا په مستو سترګو کی عشوې څپی
ډوب می کړی په نور کی تصور د یوې وړی نګاه
وای که د « آمو » غوندی را واوښتې څپې څپې
داسی می حیا ورته خبره خولهٔ کی واړوی
داسی لکه سپکی کړی له غاړو څخه پښې څپې
حسن هم دی دغسی ، پتنګه ځان پرې مه وژنه
ښکلې وی له لری خو خطر لری نژدې څپې
موږ به بې کپتانه ، بې فرمانه بیړۍ څه باسی ؟
بحره توپانی شه درنه غواړو یو څو ښې څپی
مه خاندۍ د شمو په مړو اوښکو پوری مه خاندۍ
شوخو ستوریو پام کوۍ بحرونه دی دا مړې څپې
ستړی سیلاب هله سمندر ته رسیدلی شي
کله چی روانی شي یوه په بله بسې څپی
څه وړی « پسرلیه » سیلابونو باندی ښکلی خیال
چا کله شمیرلی دی د سین د ترانې څپی

۱۳۷۰ - ۷ - ۱۸ - پیښور

د غربت په لار کی ښه یوو موز لا بیا هم
ورکوی لوری په شکو کی دریا هم
نیم نظر یې دومره پوه کړم په محفل کی
مجبوری لری د عشق غوندی ښکلا هم
خدایزده څه سحر وجادو یې و لیمو کی
چی شکوې شوې رانه هیری تمنا هم
د هغو ښکلو له نازه به څه وایم
چی غرور یې ښایسته وی ، استغنا هم
جنتونه به وی ډك له طفیلیانو
د دنیا غوندی که ویش وی په عقبا هم
چی بیګاه می سر ته شمه ژړیدله
له پتنګ سره زړهٔ وسوځاوه ماهم
ساقی ناوری مګر شور د حجابونو
پرده بویه له شیخانو د مینا هم
د زړهٔ سوز یې تنها اوښکی وچی نه کړې
« پسرلی » په خولهٔ کی سوې ده نوا هم

۱۳۷۰ - سرطان

درد نه مې بې دردي کلۍ څه پوښتې
څه پوښتې ، د ناز لیونۍ څه پوښتې ؟
شور دعشق ته بویه د آبشار سرود
دې مقام نه ماته شپیلۍ څه پوښتې
کله چې یوسف باسی بازار ته وخت
هلته نو بیا تول د وړۍ څه پوښتې
پور د شهید زړه د دې په غاړه دی
غاړی ته یې ګوره اوزې څه پوښتې
حسن هم دزړهٔ پریشانۍ لری
ګل وپوښته ، تانده غوټۍ څه پوښتې
ناز د مهرویانو دی دلیل دناز
حسن یې درم له هوسۍ څه پوښتې
مغز و اراده بویه نه تاج د خول
شاه وپوښته تاج وخولۍ څه پوښتې

۹ - ۷ - ۱۳۷۰

راشه ، ای د خیال پری را ښکته شه
زما د تورو شپو د وربل نته شه
مه می ځه له سره د وربل سودا
لکه تور ځنګل نوره هم تته شه
څه به دی ستایم زه رویایي ښکلا
چا وې چی تر فهم می وچته شه؟
لیر څه می لا نوره هم نشي دحسن
زما د سترګو ساه غوندی تربته شه
کومه چی د عشق په پردو نه کرځی
پری دی هنر منده هغه ګوته شه
حسن هم خپل پت غواړی ، هم پت دعشق
چا ویل مجنونه چی بې پته شه
میاشت که د اختر هم یې د خدای په پار
لیر راته له ورایه خو جوته شه

۱۳۷۰ / ۷-۹ - پېښور

هر څه چې يي را شه چې يادېږي مې
تالنده برېښنا شه چې يادېږي مې
يوه لمحه شه زما د واړه سترې ژوند
يوه خوږه موسکا شه چې يادېږي مې
څو به په رويا کې سره غواړو موږ
خوبه په رېښتيا شه چې يادېږي مې
واړه عمر ستا وم ، پشيمان نه يم
يوه لحظه څو زما شه چې يادېږي مې
نه وايم چې پنځې د ناز مه را وړه
درست سره ادا شه چې يادېږي مې
ماته مې چوپتيا کړه د ښايست بطې
مستي په غوغا شه چې يادېږي مې
ډېرې مې تياري د هجر ونغښتې
ستورې د سبا شه چې يادېږي مې
څو به لا د نازد تقاضو منې
راشه او پخلا شه چې يادېږي مې
کله چې راځې د« پسرلی » شعره
شوخه تمنا شه شه چې يادېږي مې

۱۰ ۷ - ۱۳۷۰

د مینی قربانیان هری هوا ته مه پریږده
نیم سوی پتنګان شمې ! سبا ته مه بریږده
له روغی میکدې ښه ده که مات سرونه یوسو
ساقی ، د محتسب تیږه مینا ته مه پریږده
که رحم پرې کوی د تا په بند کی یې ده ښه
دا خیری لیونی زړهٔ بلی خواته مه پریږده
ښو ته خودی ووایه چی نه یې تخنوی
د زړه زاړهٔ زخمونه می موسکا ته مه پریږده
له ژونده به می وچوی زړګی که شو تنها
ما یوه شیبه د حسن خیاله ماته مه پریږده
حاجت د قهر څه دی په بوسه یې شې تړلی
پارچاوه خوله می شوخی تمنا ته مه پریږده
که ما منع کولی شې له چیغو « پسرلیه »
د غرونو آبشارونه هم ژړا ته مه پریږده

۱۳۷۰ - ۷ - ۲۳ - پیښور

د تا آواز و، که می اوریده آواز د حسن ؟
ته می لیدې ، که مجسم شو راته ناز د حسن ؟
ملګرو لږ می لا د خیال خلوتکدې ته پریږدئ
چی د تنکی زړه له پردو می اورم ساز د حسن
ژوند یوه پیچلې معمیٰ وه ، مرګ یې بله غوټه
نه څوك د مینی په راز پوه شو نه په راز د حسن
که د یاقوتو په رکونو کی کړی وینه وچه
لا یې د سرې خولګۍ موسکا کنه آغاز د حسن
ستوری ، سپوږمۍ به ښایسته وی خو زړه نشی وړلای
هره لحظه چی یې بل شان نه وی انداز د حسن
څیری ګریوان به غوټۍ څو لا په موسکا پټوی؟
بې نیازه ښکاری خو تر مینی ډیر دی نیاز د حسن
داسی ستر ګو د بنو ګوتو ته ورغی زره ،
هره شیوه یې بل عنوان وی ، بل آغاز د حسن
د شمی اوښکی ، د بلبل نوا او شور د څپو
« پسرلیه » ماته شی جلا جلا غماز د حسن

۱۳۷۰ - ۷ -۲۳ - خیبر پلازا

که خپل زړه هم لکه شمه کړی اوبّه څوك
په محفل کی یې نوم نه اخلی په خولهٔ څوك
د شرر په پله چا پلونه نه دی ایښی
په صحرا کی د جنون نه غواړی ملهٔ څوك
حوادثو داسی ورك کړو لکه وی چی
په روانو شکو پاته کوم ویدهٔ څوك
زړهٔ می خپل خیال ته پریږدئ ، جرم نه دی
چی کوی له فرشتو سره خوالهٔ څوك
حسن او مینه د یو گل څانگی ریشی دی
را ته مه وایه چې زه چیری او تهٔ څوك ؟
جام د جم چې وایې دا دی نور څه نشته
کاشکی کیږدی د بل چا په زړهٔ لیز زړهٔ څوك
د عشق راز څرنگه ووایم زاهد ته
په اومه گړی کی نه راوړی اوبهٔ څوك
د « پسرلی » له شعره څه فلسفه غواړئ
د آسمان له ورشو نه ربیی واښهٔ څوك

۱۳۷۰ - ۷ - ۲۳ - پيښور

په سترګو کې دې کاشکې څه اثر ويده کيداى
پرواز کې دې نظر لکه شرر ويده کيداى
مجنون به د دنيا په شيرازيو نه توکل
دردونه که دزخم په بستر ويده کيداى
د ناز ګرم محفل ته به مې شا نه اړوله
دا سوى سپيلنى که په مجمر ويده کيداى
چې خيال ته دې وزګار واى لکه عطر د شبو
ماښام را ويښيدلى او سحر ويده کيداى
زما ماته تنديه که قسمت دې ماتيدل و
توته يې د ګړى واى په ګودر ويده کيداى
د عشق بد ګومانيو را ويښ کړى تشويشونه
موجونه شواى د بحر ، سر په سر ويده کيداى
پامال وى تل « پسرليه » د کبل غوندى پريوتى
نو کاشکې په ولاړه لکه غر ويده کيداى

۱۳۷۰ -۷ -۲٤ - پیښور

چې ته رانغلې ما به څه کوله ولې نګاه ؟
اوښکه شوه ، توی شوه هغه تا ته سپمولې نګاه
تامی د خیال په هسکو څوکو خپل بیرغ ټومبلی
تامی دزړه د بحر تل ته رسولې نګاه
لیرېږي له سرو بارخو د تورو ښهو سیوری ته کړه
د لمر په سره تبې مې ډیره کړولې نګاه
د حقیقت په لټه فکر رانه لار ورکه کړه
په تروږمیو مې بیځایه غورولې نګاه
ژوند مې شوښکلی ، په هر څه کې رنګینې وینمه
عشق د بودې د تال په څیر رارنګولې نګاه
د حسن زور یې تنها نه دی کاږه کړی بانه
د ناز لمسون یې وی له لاری اړولی نګاه
دا چې له نازه یو قدم په اشرفۍ نه اخلی
څه به مې وکړی په سر سیوری نازولې نګاه
سپینو تناکو کې « پسرلیه » سر پناه ورکوم
چې مایوسی وی بیرته زړه ته تمبولې نګاه

۱۳۷۰ -۸ -٤ - پیښور

ځي چی پټه خوله د بل په لاره ته به پاته يي
ستن به ځان ايستلی وي خو تاره ته به پاته يي
کاشکی له پښو سپك وای د زړه غمه د سرور غوندی
گل به رژيدلی وی او خاره ته به پاته يي
داسی لکه مړي ايرې چی پاته شي له سره اوره
زه به دا زه نه يم خو پرهاره ته به پاته يي
جار دی له پايښته شم که هر څه هر څه ختم شي
عشقه ، ای زما دزړه آزاره ته به پاته يي
چا وې چی امام د عاشقانو خاوری کيږی خو
ای د وحشت ځلې ، هسکه داره ته به پاته يي؟
مه وهه بيواکه چيغی ، سر له کاڼو مه وهه
واوره به خدای ويلی کړی آبشاره ته به پاته يي
ژوند دی لکه شمه په لمبو پوری تړلی دی
څو چی دی خواری وی نو ای خواره ته به پاته يي
مست سيندونه گوره چی ژوندی په هلو ځلو دی
هرڅو چی دی لار وی نا همواره ته به پاته يي
نه به پسرلی وی ، نه يي غم ، د « پسرلی » شعره
خدايزده چی د چا د زړه له پاره ته به پاته يي

۱۳۷۰ -۸ - ٦ - پېښور

چې ستا سره مې مخ په مخ لېدلې آئینه ده
د زړهٔ تر ښنبو مې سل ځایه ختلې آئینه ده
له لرې رونه لمر درته نیولې آئینه ده
سپوږمۍ د تا په مخ کې زنګ وهلې آئینه ده
په پرخو لمبېدلی ګل مې مه غواړه په قبر
له خاورو د شهید دې ټوکېدلې آئینه ده
د تا چې ورته شا شي رنګ یې سپین وي تښتېدلی
خونخوارې مګر تندې دې زېښېلې آئینه ده
د زړهٔ ماتې ټوټې مې ټولوم او ورته ژاړم
آخر د تا له سترګو را ولېدلې آئینه ده
په هره ساه که وکړځوم لپه وینې لېږ دي
چې ستا د خیال په لمسه مې خوړلې آئینه ده
راز دارې ستا د پټو عشوو یوه هم افشا نه کړه
په خیال کې مې که هر څو نښتېځلې آئینه ده
چې لاس دې ور رسېږي نه یې خوند وي نه یې حسن
سپېره نړۍ له لرې یوه ښکلې آئینه ده
جلوې د ښکلی مخ د اباسین په څپو مه وړه
د تا د « پسرلی » نګاه یو ه غلې آئینه ده

۱۳۷۰ -۸ - ۷ - خیبر پلازا

د تا نظر می د یادونو سمندر کی اوښت
که سمندر و د موجونو په څادر کی اوښت ؟
شراب خو نه مستوی زړونه تر څکلو پخوا
کیف دی د سترګو وو ساقی چی په ساغر کی اوښت
دا په اوښو کی وو د تا د سپینو لیځو تصویر
که زلی کب و له مستیٖ نه په ګودر کی اوښت
خیال دی یوه لمحه هم نه یم فارغبال پری اینبی
لکه د سر د خطر فکر می په سر کی اوښت
چی یې له لری په یو ځل لیدلو وړی زړونه
توفان د حسن ، که خپل آب و په ګوهر کی اوښت
بیګاه می ته خوب کی له حسنه ناکراره لیدې
که د کوکچی سین د زریفتو په بستر کی اوښت
شوخو جلوو یې پرده واخیسته د مخ له مخه
یا خو بل اور د ځان ښودلو و په لمر کی اوښت
لکه بهار چی د فرخار کړی بام و در ګلونه
ستا « پسرلی » هم ستا په بام او ستا په در کی اوښت

۱۳۷۰ - ۱۰ - ۱۲ - پېښور

لکه چې وچ سپېلنې ورشي د مجمر په ګوټو
داسې مې سوځي د فکرونو بال و پر په ګوټو
پرېږده وزمه شم ستا په نرموزلفو لاس ووهم
نغمه را باسي له تارونو هنرور په ګوټو
بېګا مې بيا په زړه ولاړه د نشتر غوندې وې
د آسمان ستورې مې شميرل لکه نشتر په ګوټو
تر څنګلو وراندې مې احساس واړه نشه نشه کړي
چې وينبند ويه را ته ونيسي ساغر په ګوټو
په ډېر حسرت مې ا ميد ونه ټولومه له زړه
لکه باغوان چې ټولوي وروستي ثمر په ګوټو
په هغه لطف يې د زړه خبره ونغښتله
په هغه حسن چې پر مخ ټينګه کړي څادر په ګوټو
لکه راڼده چې د رندو کتاب په ګوټو لولي
زه يې د زلفو کيسې ښه لولم اکثر په ګوټو
د تصور په شنه لمن کې د ښايست ملکه
له نازه تله لکه وړانګې د مازد يګر په ګوټو
د لمر د زړه غوټه به خلاصه شي دچا په همت
سحر که خلاصي شي د شپې غوټې د لمر په ګوټو

۱۳۷۰ - ۱۰ - ۲۲ - پېښور

لا مې زړه نه وه ساه اخيستې د زارو په ژبه
شپې د سکوت اعلان را خپور کړ د تيارو په ژبه
بهار و ، بن و ، هرې پاڼې داستانونه لرل
خو زه ساده نه پوهيدم د ننداړو په ژبه
د حسن او مينې په عالم کې حاجت نه وی د ږغ
ستوريو يو بل ته څه ويل د اشارو په ژبه
د مهر و مينې د مرهم په لطف څه پوهيږی
څوك چې پوهيږی بس د تورو کتارو په ژبه
خدايزده ددې تورې مرغۍ په زړه به څه غوته وو؟
لکه ښارو نه پوهيدمه د ښارو په ژبه
چې د صنم نغښتې موسکا يې زړه ونه غوړوی
څه به ځان پوه کړی د جومات د منارو په ژبه ؟
« پسرليه » ونيسه په مينه کې لمن د هنر
د درخو زړه آدم ورمات کړ د لارو په ژبه

۱۳۷۰ ۱۱ - ۷ - خیبر پلازا

ساقی ، سرکش افکار می په جامونولاندی کړه
خپل چاری فرعونان تر اهرامونو لاندی کړه
د حسن تاخت وتاز ته به یې څنکه شی څوك ټینك
د زړه کلا یې یاد په سلامونو لاندی کړه
چی زلفی یې را تیتی کړې په خال باندی نسیم
دانه وه په سلا یې له دامونو لاندی کړه
د تا دکور صفا می چیرته نه ولیده مینې
دنیا که می سل واری له ګامونو لاندی کړه
د لمر د تسلط سیمه هم تل نه وی د لمر
زما په یاد زر ځلی ماښامونولاندی کړه
سیلاب ته چی جذ بې د بهیدلو ورکړ شور
دنیا یې په دې نرمو اندامونو لاندی کړه
پولې په زړه را وختې اختر به وی « پسرلیه »
توده بید یا چی سپینو احرامونو لاندی کره

۱۳۷۰ - ۱۱ - ۷ - پیښور

ساقي د زړه په تنده مي يو جام واړوه
له ځانه مي د حسن خواته پام واړوه
دنيا به دی دحسن پلوشې توده روڼه کړي
د لمر غوندی د ناز له پولی ګام واړوه
منکره د فرعون غوندی د عشق له حقانيته
له شرمه په سر تيزی د احرام واروه
درواغ به کړی څيره د حقيقت څرنګه مسخه
دا چا وې چی د مهر غوندی نام واړوه
په تل د سمند ر کی لکه سيل ورورې شګی
که خپل د رنښت دی وساته آرا م وا ړوه
د خدای په کور کی هم ظالمه پياز په بډه کرځی
حاجی ليز خودی پيڅه د احرام واړوه
منم چی نړيوال مو اخلا ل ګر دی د خيالونو
« پسرليه » د کوم ورك ستوری په بام واړوه

۱۳۷۰ - ۱۱ - ۸ - پیښور

په هغه شان چی بصیرت مومی مغان له اوره
داسی می وشوې د زړهٔ سترګی د هجران له اوره
څوك به د مینی غرغنډو ته ځنګه زړهٔ ونیسی
غر په لړزه شي د واړه آتشفشان له اوره
پیاله که ماته شوه په لپو کی به هم وڅښو می
الله د ی وساتی د مستو تاکستان له اوره
ځکه یې اور وه ، لمر یې اور دی ، ستوری هم اورونه
داسی ښکاریږی چی جوړ شوی وی جهان له اوره
چی می په سوی زړهٔ کی وینم ژوندۍ شوې هیلی
دا به ریښتیا وی ، پیدا کیږی به کبان له اوره
شفق په هومره اور د غره د سر کنګل مات نه کړ
عجیبه نه ده که می روغ دی ګریبان له اوره
« پسرلیه » څوك چی له سرو میو نه په ډډه کرځی
ملامت نه دیٔ همیشه تښتی لیوان له اوره

۱۳۷۰ - ۱۱ - ۸ - خیبر پلازا

چې ښومره دې رنګونه په رخسار اوړي را اوړي
زما په زړه او ذهن یو بهار اوړي را اوړي
افسوس دی چې یو ځای ته یې هم نه ورسولو
په سر کې مو د سیل غونډې افکار اوړي را اوړي
پوستنې ته یې یو ځلې را ستړي نه شو څوك
بس څرېکې مې د شنه زړه په پرهار اوړي را اوړي
د تا د زلفو بوی وریاندې ښکاري لګیدلې
نسیم اوړي را اوړي ، لاله زار اوړي را اوړي
هغومره د نغمو په پر اوبال لګوي اور
چې ښومره د فنکار له لاسه تار اوړي را اوړي
آرام به څه را وبخښي دا شپې ورځې د ژوند
شپې ورځې چې له زخمه لکه مار اوړي را اوړي
بیکا چې ته ویده یې « پسرلی » دې تصور کې
کړېشپه لکه سیوری په دیوار اوړي را اوړي

۱۳۷۰ - ۱۱ - ۱۱ - خیبر پلازا

چی پسرلی شي ، سپیرې دښتی کړی چکن ګلونه
غرونه مو را وړی درته بیا لمن لمن ګلونه
را څه را څه مقدم دی خدای د پسرلی وزمه کړه
چې تخنوی د شهیدانو د مد فن ګلونه
چی ستا په پښتو کی یې نثار کړی را وتلی به وی
د رنك وبو تحفې په لاس کښی د وطن ګلونه
ستا د پښتو خا پی مو په زړه ګوندی د یوې بلی کړی
لکه د تورو خورو زلفو په شکن ګلونه
د نیکمرغیو په امید دی واړه لاری څاری
لکه بهار ته انتظار وی د چمن کلونه
د پتنك زړهٔ به څه تکور شی په تصویر د شمی
بي تا به څه کړی د زړهٔ سره ستا مین کلونه ؟
را څه را څه ، در سره هغه « پسرلی » را وله
چی د سمند پښتو ته دی ویړ کړی د سمن ګلونه

۲۵ - ۷ - ۷۱

تياري د زړهٔ د مينى په وړانگو جارو کوم
ستا لارى لکه ستورى په شپو شپو جارو کوم
د مينى په حرم کى مى خچنى هيلى نشته
د خيال لارى دى زړهٔ ته په بنو جارو کوم
خزان د زندگى چى برگ ريزان راووړ د هيلو
د تت ځنگله لمن به مى تر څو جارو کوم ؟
په نياز چى د جهان ښکلى را بولم تصور ته
حُجله دى په شهپر د ښاپيرو جارو کوم
چى زړهٔ ته ستا له مينى سوا هره مينه راشي
سيلاب شم گنگړخلي په څپو جارو کوم
دُرشل د عالي حسن مه شه لوگ له سر پرى کړيو
ستا عرش له بې احساسه فرشتو جارو کوم
شوخى يې د نظر را نه قرار د نظر واخيست
آرزو د ليونى زړهٔ په آرزو جارو کوم
ساقى دا د نشې قدردانى گڼې که نه
توبې د توبه گار زړهٔ په توبو جارو کوم
د حسن د زړهٔ خوښه نغمه راشى گوندى خولې ته
نغمې مى « پسرليه » په نغموجارو کوم

۷۱ - ۹ - ٤

چی د مینی اور پرې بل وي کور یې نه وي
د شرر جنازه باد وړی گور یې نه وي
د افکارو نهنگان نه شي روزلی
د وریځو سمندر چی شور یې نه وي
چار ناچار تر هری میږی لاندی وځو
هغه وری شول را نه جور چی مور یې نه وي
وروړگلوي وي په ژوندو کی ، نه په مړو کی
سیوری خپل وي د انسان خو ورور یې نه وي
هرسړی به و رستم که په اسباب وای
رخش یې چا ته زینوئ چی سپور یې نه وي ؟
خود خواهي کړې راته تولی لاری بندی
تر نری سپم وځی تار چی پسور یې نه وي
به ساړه عالم کی زه هم شوم د مُغ زړهٔ
سوی یم هغه اورتون چی اور یې نه وي
اندیښنې می عشق ریښې د پلوشو کری
چی په هره خوا غځیږی لور یې نه وي
یا بې سره افغانان دي « پسرلیه »
یا د مینی مقتولان چی.بور یې نه وي

۷ - ۱۰ - ۷۱

مینه می کاشکی ویده شوې طبعه وتخنوي
هسی می چاودی چاودی تلی د زړهٔ څه تخنوي
ښایست د سترګو په لار هره سینه‌نه رونوي
ښکلی عبث هر درڅه د لمر په وړهٔ تخنوي
د مړه احساس خاوند به څنګه شي را وینښ له چیغو
د ګور چینجي ګورئ تر مرګه پراته مړهٔ تخنوي
بلبله څه لولې ګلونو ته د حسن بانی.
د خپل ښایست غرور په غرونو کی غرڅهٔ تخنوي
د مینی مست د ساقي ست ته سترګی نه غړوي
په سمندر کی د زړهٔ تاو دی چی اوبهٔ تخنوي
ناکرار زړهٔ به می آرام مومي په وصل کی څه
هره ادا یې هر یوه تر بلی ښهٔ تخنوي
آتش فشان چی « پسرلیه » وروي اورونه
د خود بینی لمبی چی کله د غره‌ء زره‌ء تخنوی

۷۱ - ۱۰ - ۸

د شپې زړهٔ چوی خو د ناز په خوب ویدهٔ رانغله
تر خیال نازکه می د ستړی خیال په پلهٔ رانغله
له زړهٔ تر ژبی پوری لاره مو وه غریو نیولې
گیله می هر څو هڅوله خو په خولهٔ رانغله
وفا هم نه کوی وفا له مینانو سره
وفا می ډیره وپالله خو په ښهٔ رانغله
د زړه په غولی ستړې شوی می له زړهٔ نه وځی
یوه آرزو چی می په خوله ورته له زړهٔ رانغله
پرته له اوښکو یې د لطف بل ځواب نه لرم
د زړهٔ خبره می څو نه شوله اوبهٔ رانغله
نیمه خوا ورځ د تنکو هیلو غرونه هم نړوي
زړه ته به څهٔ وایم چی څهٔ شوه او په څهٔ رانغله
د مړاوو هیلو په گلشن می « پسرلی » رانغی
سترگی می وچی شولې لار ته په کاتهٔ رانغله

۷۱ - جدی

راغله نوك نیولي خو د غرو تر اوبو مسته ځي
خدایزده دا عمر سبه لمحه د چا له کسته ځي ؟
دا که خپل تصویر ته زدي سر ، خپل تصویر یې دې ته زدی
داسی په هوس چی آئینې ته خود پرسته ځي
کله می په خیال کی هم یوه لحظه را تم نه کړه
شوخه د زمان د قافلې غوندی پیوسته ځي
پیښی حادثې ورکړی فریاد ته د شاعر وزر
شور د سین تر لري د ځپو له خیز وجسته ځي
خوارو بی اسبابو ته په خواره سترگه مه گورئ
ډیر بی لاس او پښو کبان په روغ صورت له شسته ځي
بل به لا په بده ورځ په بل پوری څه نیسی لاس
هوش حواس او فکر چی د چا له سره درسته ځي
مه کوه « پسرلیه » له تقلیده د عروج تمه
وگوره سایې ته که د غرونو هم وي پسته ځي

۷۱ - ۹ - ٤

چی سترې اندیښنه می له کابله نه راځي
د حسن ملکه شوه له محله نه راځي
زما په تش کوګل کی به څه زور وي د فریاد
د تشی شپیلۍ زغ خو له مورچله نه راځي
طلسم د ښکلا کړه را ته عطر د ګلونو
وجود یې حس کومه خو په خپله نه راځي
د حسن له غروره به یې چا ته اوړی پام
چی لمر یې لکه سیوری له درشله نه راځي
په خپلو خیالونو کی تل ډوب ښهٔ وي مین
ګوهر په خوښه سطحی ته له تله نه راځي
د ضعف انتها به یې ګڼی حسن که نه
ناله می چی تر شوندو له کوګله نه راځي
چی طبعی می د شعر پنبه نیولې « پسرلیه »
خزان وهلی بڼ ته خو بلبله نه راځي

۷۱ - ۹ - ٦

ما چی و ی زه یم ، زما ساه ده ، تله خاموشه ځواني
لکه هوا می اوښته له سر او دوشه ځواني
لکه د غره اوبه چی کیږدي په لمنو کی سر
د زړبودیږ په ډاګ کی ولویده له جوشه ځواني
لکه د شپې چی د شبو له غیږی وځی عطر
دغه شان وځی نامحسوسه له آغوشه ځواني
حیف چی د ښې لاری ملګري می ونه پیژنده
څه به زه مست وم ، څه روانه وه روپوشه ځوانی
خاوری اوښتې وې په ډیرو فرصتونو باندی
څو چی لنډیزی د هوش کلی ته مدهوشه ځواني
که په مړو ګوتو نیم ساغر هم تم کوم ډیره ده
ساقي څه غواړې رانه هغه دریا نوشه ځواني
نه یې زه وینس کړم نه یې نور له خوبه ولټول
ښه شوه چی لاړه لکه پرخه بې خروشه ځوانی
اوس می د ژوند له رژیدلیو پاڼو څه پوښتې حال
« پسرلیه » تللې د پسرلی غوندی ګل پوشه ځواني

۷۱ - ۵ - ۸

سترگی را پورته کړه بنو کی نظر وتخنوه
د تروږمۍ په نیمو شپو کی سحر وتخنوه
چی د ژوند ورځو کی مو ساه د خوښۍ وغړیږي
په شوخو سترگو دی داپټه خوله لمر وتخنوه
هسی نه پښي مو لکه لاری ، لار کی وغزوو
د عشق جرسه څه مو ذوق د سفر وتخنوه
د حورو میرې د جنت قلم می بیا غواړی زړه
راشه په حسن دی رنگین مازدیگر وتخنوه
چی له وړو ځپو یې پاځیږی توفان د نشو
په سرو منگلو دی خوب وړی گودر وتخنوه
لوبی می څه کړې په احساس د ځوارلسمی سپوږمۍ
دا در ته چا وې چی آرام سمندر وتخنوه ؟
لکه مطرب چی په مضراب ور پاروي تارونه
بیا د « پسرلی » په ستړی زړه کی هنر وتخنوه

۷۱ – ۵ – ۸ – پیښور

شعله يې که محفل کې د نګاه را رسيده
د سرو شونډو موسکا يې عذر خواه را رسيده
که شرم مو تر منځ ګروه غرونه درولي
زما تر سترګې زړه يې توده ساه را رسيده
ثواب نه که محروم شوم له ميراثه د آدم
ما خوار ته خو به هم يو څه ګناه را رسيده
چې شوم د مابوسيو په ساړه دوزخ کې ويلي
لمبه د اشتياق يې خامخا را رسيده
خيال يې دومره پورته خيژولي وم « پسرليه »
چې بس له مځکې والو خپله آه را رسيده

۱۲ - ۷ - ۷۱

تش جام می د ساقي دکه مینا ور زغوله
که حسن د مین زړه تمنا ور زغوله ؟
درځې می د زړه پرانستې د حسن تصور ته
له لری پنځلسیږد لمر رڼا ور زغوله
قربان یې په لیمو کی د نګاه له مهارته
په ځومره نزاکت یې استغنا ور زغوله
د زړه سترې نغمې نه ویدیدې ، نه لتیدې
رازداره شپه یې درسته شپه بیګاه ور زغوله
محفل کی به یې زما په زړه کرل ښایی ګلونه
پستو شونډو چی دم په دم موسکا ور زغوله
زړه پاله که د شمې وزر سوونکې رڼا نه وای
نیم سوې پروانه خواره به چا ور زغوله
له ما سره خواله و د سر کشو امیدونو
موجونو له مستی خپله دریا ور زغوله
د وصل تصور می تر سهاره و په زړه کی
د حسن ګنهکاره یې تنها ور زغوله
تندي ګلونه هم لري د عشق د کیسو تنده
وزمه یې د « پسرلی » له زړه بیا بیا ور زغوله

۱۳ - ۷ - ۷۱

دا وږی د قدرت له لوړ مقامه بوسه اخلي
که روح د فرعونانو له اهرامه بوسه اخلي
بلبل غریب اُمی دی ډیر یې مه پوښتئ له مینی
ساده مومن یواځی له کلامه بوسه اخلی
کل فیض د مینه پالو زړونو دی په سپیره مځکه
چی لمر یې هره ورځ له در او بامه بوسه اخلی
مستی چی یې له ځانه وي په یوه غوړپ نشه کیږي
ځپه د سین له غاړی نا تمامه بوسه اخلی
ریښتیا یې دی ویلی حرکت کی برکت دی
چی مځکه د رهرو له هره گامه بوسه اخلی
« پسرلی » ته ستا له مخه دا دنیا حسن کده شوه
د دوو سترگو له باره له بادامه بوسه اخلی

۱۳ - ۷ - ۷۱

چی ځې نگاه می ستا له هره گامه بوسه اخلی
یوه مور شي له ویدې بچی آرامه بوسه اخلي
آرزو د ښکلولو می په زړه کی لیونۍ کړي
موسکا چی یې د سرو شونډوله جامه بوسه اخلي
د شپې په تاریکۍ کی می سپوږمۍ ډیره لیدلې
چی ورو ورو در ښوئیږي ستا له بامه بوسه اخلی
په دې جرم یې مه محکوموه په تیټ کتلو
نگاه می ستا له مخه کډې پامه بوسه اخلی
تر څو به دی وی هو یا نه په خولهٔ کی پنبه نیولی
احساس به می تر څو له پټ پیغامه بوسه اخلي ؟
په سترگو کی می ډب شول رڼه څاڅکی چی را نغلې
لومړي ستوري ښکاره شوو له ماښامه بوسه اخلي
د زلفو په حلقو کی چی یې خال ته اوړي سترگی
د ږوه وږې صحرایی مرغۍ له دامه بوسه اخلي
د شمو اوښکی ځکه څاڅکی څاڅکی را څڅیږي
چی تږې پروانې له شمی خامه بوسه اخلي
« پسرلیه » گوندی خواوي د حسرت را سره شوې
چی څریکی می له زخمه له ناکامه بوسه اخلي

۱۵ - ۷ - ۷۱

ثمر به د عشق څه په مهرو ماه کی لویوم
زخمونه د زخمونو په پناه کی لویوم
گومان د مازدیگر د سیوری مه کوئ په ما
چی قد به یې د نورو په نگاه کی لویوم
د خم په پښو کی رغړم که می کیڼ ووځی له زړه
دا یو ثواب په غیزه د گناه کی لویوم
د مینی گهواره چی د ښایست څوکو ته ورمه
وور ذال می د سیمرغ په آرامگاه کی لویوم
د خولې په برسیرنو اوسیلو می مه تیروځه
یو پټ شرر د مینی په گیاه کی لویوم
په سهوه می ډیر مه نیسه د سوی زړه مالکه
څو تاندی تجربې په اشتباه کی لویوم
نظر چی یی ور واړوم بهو ته « پسرلیه »
رستم د اتلانو په سپاه کی لویوم

۷۱ - حوت

په موږ که قیامت وي د دنیا یې باندی څه ؟
هوسیږ که مری که پایی د صحرا یې باندی څه ؟
له نوره رغوئ څه په تیارو کی روږدی شوي
ډیوه که وي که نه د نابینا یې باندی څه ؟
تر خرو لاندی شوي د ماضي نیزو نو وري
له نن سره یی څه دي ، د سبا یې باندی څه ؟
زاهد که د پیالو په شرنگ له لري شو بې سده
د خُم گناه ده کومه ، د مینا یې باندی څه ؟
اختیار د تا دی ربه که مو هر لوری ته بیایې
جنت ته ، که دوزخ ته د مُلا یې باندی څه ؟
څه پام غواړې « پسرلیه » د قدرت له لیونو نه
که شل بیړی شي ډوبی د دریا یې باندی څه ؟

۱۵ - ۱ - ۷۲

لاړه ، لاړه ، لاړه چې په خپل حسن آگاه شوله
شوخه مې د غرونو د رنگین پسرلی ساه شوله
ټوله ورځ مې لمر غوندې نظر ورته په لاره رغبنت
سیوری شول تر سیوری لاندې ، رانغله ، بیگاه شوله
لاړم چې د زړه غوټې یوه ، یوه ورته پرانیزم
واړه تقاضې مې سره غوټه شوې یوه آه شوله
خپله فکر ته سر زدم چې د ناز د دُرشل سیوری شو
مینه گمراهي ده ، که زما مینه گمراه شوله ؟
اوس یې پلوشې له لري هم را باندې نه اوري
والوته د لمر خورځه د بل کهکشان ماه شوله
وایې ورم د عرش له کنگرو مگر غومبر د ناز
اوس چې د « پسرلی » له تخیل سره همراه شوله

۱۵ - ۲ - ۷۲

نظر چی یې د حسن سیوری غواړی په وربل کی
له عقله شي لار ورکه د وهمونو په ځنګل کی
په ډېری سخت ګیری می زړګی مه را سختوه
پستې خټی کړي ژمی د غره ګټی په کنګل کی
مغلوب ذهن وی تل د خرافاتو میلمه پال
په فکر خاوري اوړي د چورتونو په غوبل کی
د حسن په ګلبڼ د خشونت سیلۍ الوتې
بی نخښی مرمۍ اوري د نیازمنو په کابل کی
تر هری بوی ادا یې ګوښی ګوښی چی جاریږم
د شاتو مُچۍ نه یم چی خوازه غواړی په ګل کی
په شعر کی اوبه شوم لکه مالګه په اوبو کی
« پسرلیه » که می غواړې نور می غواړه په غزل کی

۷۲ - اسد

ختمی شوې جذبې د زلما ، زړه کی غوغا کښېناسته
ولویدل سیلونه له ښنو مسته دریا کښیناسته
پریردئ چی د مړه زړه په تابوت میخونه ټک وهم
شمه وم ، اوبه شوم ، لمبه لاړه ، رڼا کښېناسته
ما ویل د زړه غوټی به یوه یوه ورته پرانیزم
بیرته می په ژبه نا ویسا تمنا کښیناسته
دلته می د زړه په پرهر مالګی دوړوي مینه
هلته چی د دې په پستو شونډو موسکا کښیناسته
ستا د وصل بخت چی می له خدایه په زاریو غوښت
خوله کې می له ضعفه په زړه سترې دعا کښیناسته
جوش د مشتاقانو چی یې ولید ، په لمسون د ناز
لکه له کتاره پاته زانه تنها کښیناسته
ځای د خوا خوږي نه و جهان چی تنګی هیلی می
هر یوه ، یوه شمه شوه په خپله پاتا کښیناسته
څه غواړی « پسرلیه » د ځوانی ځوانه غزل له ما
نور می لکه ماته شپیلۍ زړه کی نوا کښیناسته

۷۲ - اسد

دا لمرځرك د سبا سترگه د رڼا په پلو نغاړي
که د ناز مجسمه ځان د حیا په پلو نغاړي
چی د دروي په کوڅه کی یئ تصویر راشي په مخه
تنکۍ هیلی مخ له شرمه د نوا په پلو نغاړي
زه به ستا د خوزې ژبی په وفا څه باور وکړم
ډیر درواغ شته چی مخونه د رښتیا په پلو نغاړي
د ړونو لوگی گرځي ، د توپونو دوړي خیژي
مایوسي د زړه ماشومه تمنا په پلو نغاړي
داسی ښکاری چی ښایست وي د مُلا په پښه ختلی
د فکرونو ښاپیرۍ چی د سودا په پلو نغاړي
سوړ دوزخ به مو جنت شي که ته راغلې پلو غاړې
په جنت کی کله حوري مخ له چا په پلو نغاړي
بی آزاره نه وي لطف هم د ښکلیو « پسرلیه »
د مطلب خوږې خبري د موسکا په پلو نغاړي

۷۲ - ٦ - ۲٦

خپله زخم خپله تیر یم د ویشتلي
ځکه سر تر پایه ویر یم د ویشتلي
د زخمونو به موسکامی مه تیروځئ
نه ښکاریږم ، پټ ضمیر یم د ویشتلي
چی حواس می شل په شلو لارو تللي
ترهیدلی ورك بهیر یم د ویشتلي
که پټیږی نه شوم هیرمی کله مه شه
لکه وینی دامنگیر یم د ویشتلي
سور فریاد می شي په سترگو اوریدلی
را ته وگوره تصویر یم د ویشتلي
بې معنی ژوند « پسرلیه » بې معنی کړم
د نارامه خوب تعبیر یم د ویشتلي

۲۷ - ٦ - ۷۲

د ژوند په قافله کی نه درا یم نه جرس یم
په پته خوله می بیایی خړ سیلاب اخیستی خس یم
پرون که د الوت ژوندی هوس وم په چمن کی
نن څه یم بس د خپلی وزر ماتې ساه قفس یم
خپل وس او حیثیت می بوړا توب هم را ونه سنود
تر اوسه لا په زړه کی د محروم بچی هوس یم
وجود می شته خو بس چی خپل زړهٔ وخورم لکه واوره
چی کله نه رسیري په بل څه زه هغه وس یم
چی یو فریاد می هم د ناز دُرشل ته نه رسیري
نو خدای خبر « پسرلیه » چی د کوم ستړي نفس یم ؟